دوهم ټوک

القراءة الراشدة

په اسلامي مدرسو کې د عربي ژبې د زده کړې له پاره

ژباړه او د لغاتو تشریح



تالیف

ابو الحسن علي الحسني الندوي

ژباړه او د لغاتو تشریح

مولوي محمد رسول

صداقت کتبخانه

الجزء الثاني

القراءة الراشدة

په اسلامي مدرسو کي د عربي ژبي د زده کړي له پاره

دوهم ټوک

تاليف

!بو الحسن علي الحسني الندوي

قاري سفر محمد (شيرزاد)

ژباړه او د لغاتو تشريح

مولوي محمد رسول

بسم الله الرحمن الرحيم

الجزء الثاني

القراءة الراشدة

تالیف: ابو الحسن علي الحسني الندوي

ژباړه او د لغاتو تشریح: ابو الحسن علي الحسني الندوي

خپرندوی: صداقت خپرندویه ټولنه

چاپ کال: ۱٤۰۲ل.

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ توکه

د خپرونو لړ: (٤٤٧)

د تر لاسه کولو ځایونه:

صداقت خپرندویه ټولنه-کندهار

اوله ناحیه. ارگ بازار- کتاب او قلم مارکېټ

Sadaqat.books@gmail.com / ۰۷۰۰۳۰۹۲۴۴ – ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷

کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه- ارگ بازار-قلم او کتاب مارکېټ. **کابل:** صداقت خپرندویه ټولنه، کوټه سنگي مینه یار مارکېټ سروش کتاب پلورنځی او اکسوس کتاب پلورنځی. **هلمند:** تاج منور خپرندویه ټولنه. **هرات:** صداقت کتاب پلورنځی- کوچه گدام. **جلال آباد:** مومند خپرندویه ټولنه. ننگرهار مارکېټ. **غزني:** نعماني کتاب پلورنځی. **پکتیکا:** مجاهد کتاب پلورنځی. **خوست:** اسلامي کتاب پلورنځی.

د ژباړن سریزه

الحمد لله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سید الامین، أما بعد:

د «القراءة الراشدة» دوهم توک له پښتو ترجمې، د لغاتو له تشریح او د نویو لغاتو او جملو له اضافې سره ستاسو په واک کې دی.

دا کتاب په عربي ژبه د یوه هندي عالم له لوري د دیني عربي مدرسو له پاره لیکل شوی دی. لیکوال په خپله مقدمه کې شکایت کړی دی چې د عربي مدرسو استادان او شاګردان په عربیت کې کمزوري دي، د عربي د زده کړې له پاره داسې مواد نه دي ترتیب شوي چې طالب العلمان سمه کره پښتو ور ښخه زده کړي. نوموړي یې مثالونه هم ذکر کړي دي، تاسو د هغې مقدمې په کتلو د مدرسو حالت ور ښخه آټکل کولای شئ.

زموږ د مدرسو وضعیت هم تر هغې په هیڅ صورت اضافه نه دی، زموږ د مدرسو په نصاب کې هم د عربي ژبې له پاره داسې مواد درسي نظام ته نه دي شامل شوي، چې له متعلم سره د کره عربي ژبې په زده کړه کې ګټور تمام شي او دوی ور ښخه د قران کریم او نبوي سنتو ژبه سمه زده کړای شي.

د دې له پاره دا کتاب بیخي ګټور دی، که د توکونو په ترتیب سره درو بېلابېلو درجو کې ځای شي، نو ګټه به یې بیخي ډېره زیاته وي. تر دې د لوړو درجو له پاره هم عربي کتابونه لیکل شوي دي، چې کولای شي هغو درجو کې له دې سلسلې پرته نور کتابونه شامل کړي، خو د عربي د زده کړې لړۍ همداسې جاري پاته شي.

د دې کتاب د تشریح برخه ټوله د عربي لغت له کتابونو اخیستل شوې ده، په خاص ډول د معجم اللغة العربیة المعاصرة کتاب ښخه، اضافي متلونه، جملې، اصطلاحات او نومونه هم زیاتره له همدې یاد کتاب ښخه دي، نور تاسو او دا مو هم د قراءة راشده پښتو ژباړه!

محمد رسول

۸/۹/۲۰۲۱

بسم الله الرحمن الرحيم

(١)

شَهَامَةُ الْيَتِيمِ

د يتيم ميړانه

تَرَوْنَ أمامَكمْ صُورةَ مسجدٍ، هذا مَسْجِدُ النَّبيِّ صلى الله عليه وسلم في المدِينةِ المنُوَّرَةِ. هَلْ تَعْرِفُون مِنْ خَبَرِ هذا المسجد شيئاً؟ اِنَّ لهُ تاريخاً يَغْتَبِطُ بِه كلُّ طِفلٍ مُسلم.	تاسو خپل مخته د يوه مسجد انځور وينئ. دغه په مدينه منوره كي مسجد نبوي دی. ايا د دې مسجد په بو څه كيسه خبر ياست؟ دغه مسجد كې تاريخ لري چې هر مسلمان ماشوم په خوشاله كيږي.
لَمّا دعا رسولُ الله صلى الله عليه وسلم النـاسَ اِلى اللهِ في مكّةَ، ونادى في النـاسِ «لآ اِلـهَ اِلاّ اللهُ مُحمّدٌ رَسولُ اللهِ» غَضِبتْ قُريشٌ وكانتْ تَعْبُدُ الأصنامَ، وكانتْ في الكَعْبَةِ الّتِيْ بَنَاهَا اِبراهيمُ واِسماعيلُ عليهما السلام. لِعبادةِ اللهِ وحدهُ: كان في تِلكَ الكعبة	كله چې رسول الله ص په مكه كې خلك د الله لور ته را وبلل او خلكو ته يې د «لا اِلهَ اِلا الله محمدٌ رسول الله» ناره وكړه. نو قريش په غوسه شول. هغوی د بتانو عبادت كاوه. كعبه شريفه چې ابراهيم او زوی يې اسماعيل عليهما السلام يوازې د الهي عبادت له پاره جوړه كړې وه. په همدې كعبه كې درې سوه شپېته

ثــلاثُ مائــةٍ وسِــتّونَ صَـنماً.

فاشْـتَعَلَتْ قـريشٌ غَضـباً وَّ آذَواْ رسولَ الله صلى الله عليه وسلم وعذّبوا المُسلمينَ، فصبر رسولُ الله صلى الله عليه وسلم وصبر المُسلِمُون وثَبَتُوا لهم كالجِبالِ.

ولَكنَّ قُريشاً كانوا يمْنَعُون الناسَ عـنِ الاِسـلامِ وَيَحُولُـون بَـين المُسْلِمين وعِبادةِ الله، فأذِنَ اللهُ لِرسولِ الله صلى الله عليه وسلم بِالهِجْرَةِ، فَهَاجَرَ اِلى المدِينَةِ وهَاجَرَ المُسْلِمُون، وكانتِ المدِينَةُ أرضاً طَيِّبَةً لِلاِسلام، وفي أهلها لِينٌ ورِقةٌ، قد أسْلَمَ مِنْهم كَثِيرٌ، قَبْلَ الهِجرةِ.

ولَمّا انْتَقَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم مِنْ مكّةَ اِلى المدينةِ وَسَكَن هُنالِك أحبَّ أنْ يَبْنِيَ مسجداً، لأنَّ المسجد لازِمٌ لِلمُسلِمِين، وهو

بتان اینبودل شوي وو.

قریشان وپارېدل، رسول الله ص ته يې تکليف ور کاوه او مسلمانان به يې کړول. پيغمبر عليه السلام صبر وکړ او مسلمانانو يې کړاونه وزغمل. د دې هر څه په وړاندي ودرېدل، لکه غرونه.

خو قريشو خلک له اسلامه منعه کول، مسلمانانو ته يې د الهي عبادت په لار کي خنډونه پيدا کول. نو الله تبارک وتعالى ورته د هجرت اجازه وکړه. ده مديني ته هجرت وکړ او مسلمانان هم ور سره مهاجر شول. مدينه د اسلام له پاره يو مخ مناسب ځای و. خلک يې نرم زړي او زړسواند وو. چي خورا زياتو کسانو يې تر هجرت وړاندي اسلام منلی وو.

کله چي رسول الله ص له مکي مکرمي څخه مديني منوري ته هجرت وکړ، هماڵته يې د ارام سا واخيسته، نو دا يې خوښه وه چي د

قُطْبٌ يَدُورُ حولهُ رَحى الحَياةِ الاسلاميّة.	يوه مسجد بسنت كنبيږدي؛ څکه اسلامي تولنې ته مسجد بيخي اړين دى. مسجد هغه قطب دى چې د اسلامي ژوند د ميچنې پله پرې را څرخي.
وكان النبيُّ نازِلاً في بيتِ أبي أيّوبَ الأنصاريِّ (رَضِيَ الله عنه) وكانَ ضَيْفاً عليه، وكانَ قَرِيباً مِن بَيتِه مِرْبَدٌ، فأرادَ رسولُ الله صلى الله عليه وسلم أن يَبْنِيَ المسجدَ في ذلك المكانِ، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لِمَنْ هذا المِرْبَدُ؟	رسول اكرم صلى الله عليه وسلم د ابو ايوب انصاري رض په كور كې اړولي و، دى ورسره ميلمه و. د هغه كور ته نژدې د اوښانو پنډولو ځاى و، رسول الله ص غوښتل چې پر همدې ځاى مسجد جوړ كړي، پيغمبر عليه السلام ويل: دا شپول د چا دى؟
قالَ رجلٌ مِنَ الأنصارِ اسْمُهُ مُعاذُبنُ عفراءَ: هُوَ يا رَسولَ الله! لِيَتِيْمَينِ، اِسمُ أَحدِهِما سَهْلٌ واسمُ الثّاني سُهَيلٌ.	د انصارو يو كس چې نوم يې معاذ بن عفراء و، ويل: د الله رسوله! دغه ځاى د دوو يتيمانو دى، د يوه نوم يې سهل او د بل نوم يې سهيل دى.
طَلَبَ رسولُ الله صلى الله عليه وسلم سَهْلاً وَسُهَيْلاً، وَهُما وَلَدانِ يَتِيمانِ، فَلَمّا حَضَرا، كَلَّمَهُمَا رسولُ الله صلى الله عليه وسلم في أَمْرِ المِربَدِ وثَمَنِهِ. قَالَ سَهْلٌ وسُهَيلٌ: هُوَ يا رسولَ	رسول الله ص سهل او سهيل را وغوښتل، دوى دواړه ماشومان يتيمان وو. كله چې راغلل، رسول الله ص د شپول او قيمت په اړه يې ورسره خبرې وكړې.

اللهِ! للهِ، لاَ نَشْتَرِي بِهِ ثمَنًا . فَانْنِ المَسجدَ . وقَدْ طَابَتْ بِهِ أَنْفُسَنَا . ولكِنَّ رسولَ الله صلى الله عليه وسلم أبَى واشْتَرَى مِنهُمَا الْمَكَانَ ، وَدَفَعَ الثَّمَنَ.	سهل او سهيل ويل: د الله رسوله! دغه د الله له پاره وقف دی، موږ يې په پيسو نه پلورو، ته مسجد پر جوړ کړه، موږ په همدې بيخي خوښ و خوشاله يو. اما رسول الله ص انکار وکړ. له دوی دواړو يې خای را نيوی او پيسې يې ور کړې.
وَبَنَى المُسْلِمُون المسجدَ، ورسولُ الله صلى الله عليه وسلم يَعْمَلُ بِيدِهِ وَيَنقُلُ اللَّبِنَ . فَقَالَ قَائِلٌ مِنَ المُسْلِمِين:	مسلمانانو مسجد جوړ کړ، رسول الله ص په خپل لاس کار کاوه او خښتې يې چلولې، يوه مسلمان به ويل:
لَئِنْ قَعَدْنَا والنَّبِيُّ يَعْمَلُ،،، لَذَاكَ مِنَّا العَمَلُ المُضَلَّلُ	که موږ کينو او رسول الله ص کار کوي. نو زموږ دغه عمل به گمراهي وي.
وكَانَ المسلمونَ يَبْنُونَهُ ويَقُولُونَ: اللهمّ لاَ عَيْشَ اِلاَّ عَيْشَ الآخِرَة فَارْحَمِ الأَنْصَارَ وَالمُهَاجِرَة	مسلمانان د مسجد کار کاوه، ويل به يې: اې الله! حقيقي ژوند يوازې د اخرت دی، نو پر انصارو او مهاجرينو رحم وکړه.
وَقَدْ زَادَ في هَذا المَسْجِدِ أَمِيرُ المُؤْمِنِينَ عُثْمانُ بنُ عفَّانَ (رضي الله عنه) والمُلُوكُ بعدَه، حتَّى تَرَوْنَهُ في هذا الشَّكْلِ.	دغه مسجد بيا امير المومنين عثمان بن عفان رضي الله عنه او تر ده وروسته نورو پاچاهانو پراخ کړ. ان چې نن يې په دغه بڼه وينئ.

د الفاظو تشريح:

شَهَامَةٌ: ميړانه، عزت النفس.

الأصنام: بتان، صنم يې مفرد دی.

فاشْتَعَلَتْ: د افتعال له بابه ماضي معلومه واحد مونث غائب دی: پاريدل.

اشتعلت النار: اور بل شو. اشتعلت الحطب: لرګو اور واخيست. اشتعل الرأس شيباً: په سر کي سپين ويښتان ډير شول. اشتعل فلانٌ غضباً: پلانی په غوسه شو.

غِبْطة: ښه حالت، خوشالي، دايمي رضا، د يو بل چا د نعمت په شان د نعمت هيله کوله، د هغه د نعمت له زوال پرته. جمع يې غِبطات ده.

غَبِيط: کجاوه، چي د وښ پر شا ښودل کيږي او ميرمني په کي سپريږي، د خورجين په شان يو شی دی چي پر حيوان ږدل کيږي، څو خاورې، ايرې يا ورته شی په کي نقل کړي، غراره.

مِرْبَد: د اوښانو د تړلو يا پنډولو ځای. جمع يې مرابد ده.

سوق المربد: په بصره کي يو ځای دی چي شاعران به ور کي را تولېدل.

نوي لغات:

غَبُوق: هغه څه چي ماښام څښل کيږي، د الصبوح خلاف دی. يا هم په ماښام کي لوشل.

غبق الضَّيف: ماښام يې ميلمه ته څښاک ور کړ.

غبق الماشية: څاروي يې ماښام اوبه يا ولوشل.

غَبَنَ: چل، دوکه، نقص، پټول. غبنه في البيع والشّراء: چل يې ورسره وکړ.

(٢)

كِسْرَةٌ مِنَ الْخُبْزِ

د ډوډۍ ټوټې

مَرَّةً أَخَذْتُ كِسْرَةً مِنَ الْخُبْزِ لِآكُلَهَا فَقَالَتْ: مَهْلاً يَا سَيِّدِي! اِنَّكَ غَيْرُ جَائِعٍ ، وَقَدْ أَكَلْتَ أَخَوَاتِي . أَفَلَا تُحِبُّ أَنْ أَقُصَّ عَلَيْكَ قِصَّتِي . فَاِنَّهَا غَرِيْبَةٌ وَاِنَّهَا لَذِيْذَةٌ.	يو ځل مې د ډوډۍ يوه ټوټه واخيسته چې ويې خورم، دې ويل: مه، ښاغلې! يقينا ته وږى نه يې. تا زما خوندې وخوړې. ايا خوښه دې نه ده چې زه خپله کيسه درته وکړم؟ دا کيسه ډېره جالبه او خوندوره ده.
قُلْتُ: بَلَى! أُرِيْدُ أَنْ أَسْمَعَ قِصَّتَكِ . فَلَا آكُلُكِ حَتَّى أَسْمَعَ مِنْكِ.	ما ويل: هو، زه غواړم چې ستا کيسه واورم، تر هغو دې نه خورم چې کيسه مې دې نه وي اورېدلې.
قَالَتْ: هَلْ تَظُنُّ يَا سَيِّدِي! أَنِّي خُلِقْتُ هكَذَا؟ هَلْ سَمِعْتَ أَنَّ الْخُبْزَ يَنْبُتُ فِي الْحَقْلِ أَو يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ؟ اِنَّكَ تَأْكُلُ مُسْتَرِيحاً يَأْتِيْكَ رِزْقُكَ رَغَداً . وَلكِنِّي لَمْ أَزَلْ أَتَحَمَّلُ الْمَشَاقَّ لِأَجْلِكَ . وَأَخْرُجُ مِنْ مُصِيْبَةٍ اِلَى مُصِيبَةٍ	دې ويل: ښاغلې! ته گومان کوې چې زه همداسې اسانه پيدا شوې يم؟ تا نه دي اورېدلي چې ډوډۍ لوړې له ځمکې را شنه کېږي يا هم له اسمانه را اورېږي؟ تا ته دې پراخه روزي راځي، نو ته يې ښه په ارام سره خورې، خو زه هميشه ستا له امله مشکلات پر ځان منم. يو افت پای ته نه وي رسېدلی چې د بل

ومِنْ مِحبسٍ اِلى مَحْبسٍ حتّى وَصَلْتُ اِلى يدکَ.

كَانَ مِن خَبرِيْ أنيّ كنتُ حبّةَ حِنْطَةٍ مع شقيقاتي في غِرارَةٍ، فجاءَ اِلَينا رجلٌ، فَأخذَني مع رَفِيقاتي، فَبَذَرَنَا في التُّرابِ.

هُنالک في الحَقْلِ أبْصرْتُ الدُّنيَا وأصابَتْنِي الشَّمْسُ وكنتُ مَسرورةً جدّاً، ولكِنْ نزل المطرُ، ودخلتُ اِلى بَاطِنِ التُّرْبةِ وبَقِيتُ مَدْفُونةً أيّاماً، وأخَذَ جِسْمِي يَكبرُ وجِلْدِي يَضِيقُ عليّ، حَتّى انْشَقَّ جِلدي، وخرج مِنه جُذَيراتٌ كالشّعر، ثُمّ خرجتْ وُرَيْقَاتٌ شَقّتْ التُّربةَ، وظَهرتْ فوقَ الأرضِ، فكنتُ يا سيدي! سُنْبُلَةً قائمةً على ساقٍ.

ثُمّ أصبحتْ سُنْبُلَةً صفراءَ في حرارةِ الشمسِ، وكنتُ أرى

شروع وي، له یوه زندانه تر بله تلم، څو په دې سره ستا لاس ته را ورسېدم.

زما کیسه کې ده چې زه مې له خپلو خوندو سره په یوه جوال/پارسل کې وم، موږ ته یو کس راغی، زه یې له خپلو ملګرو سره یوځای یو وړم، په خاورو کې یې د تخم په بڼه وپاشلو.

هماله په کښت کې مې دنیا لیده او لمر به پر را لوېدی، زه ډېره خوشاله وم، څو باران پر را وشو، زه یې د خمکې تل ته دننه کړم، څو ورځې همداسې ښخه وم، په دې وخت کې مې بدن غټېدی او پوست را باندې کوچنی کېدی، څو مې پوست وچاودل شو، له هغه څخه د وېښتانو په شان ریښې ووتې، بل خوا مې پنګه ووهله چې خمکه یې څېرله او د خمکې پر مخ را ښکاره شوه، ښاغلې! نو زه بیا وږی شوم، پر خپل نال ولاړ وم.

بیا د لمر ګرمۍ مې وږی ژړ کړ، ما به مې خپلې ملګرې لیدې، موږ به خبرې کولې، په خوشالۍ به خوځېدو

صـديقاتي وكنّـا نتحـدّثُ ونهتـزُّ
طَرَباً . وكانتْ أيّاماً جميلةً.
وما طالتْ تِلك المدّةُ فقـد جاءَ
رِجــالٌ يَحْمِلُــون المَنَاجِــلَ ،
فحصَدوا وحملوا . وانتقلتُ اِلى
بَيْدَرٍ ومكثتُ أيّاماً.
وكَانَ مِـنْ أَشَـدِّ الأيّـام فقـد جاء
ثِيرانٌ فَدَاسَتْنا بِأقدَامِها . وفارقـتُ
السُّنْبُلَةَ . وكنتُ طرِيحاً ذلِيلاً.
ثمّ أَخَذَنا رِجالٌ وذرونا في الرِّيح
. فطار القِشْرُ وبقِيَ القَمْحُ.
وكـان أشـدَّ مِـن ذلـك كُلِّـه: أنّ
رَجُلاً حملنِي اِلى شيءٍ مُدَوَّرٍ مِنَ
الحجرِ . فِيه ثَقْبٌ . وكنتُ أسمعُ
له صوتاً شَدِيداً كرِيهاً وجَعْجَعَةً ،
فألقاني فيه فَطَحَنَنِي طحناً . هـل
تعرِفُ اسمَهُ يـا سيّدي؟ . ذلـك
هُوَ الطّاحونُ أوِ الرّحى.
فلمّا صِرْتُ دقيقاً أخـذني الخَبّازُ

او هغه ډېرې ګلورينې ورځې وې.
دغه موده مو اوږده نه وه. خلک راغلل
چې لرونه ور سره وو. وږدي يې وريـل.
يو يې وړل او زه يې درمنـد تـه يـو وړم.
څو ورځې همداسې په انتظار وم.
هغه يقينا سختې ورځې وې. غوايـان
راغلل، موږ يې په پښو وړولو. زه مې
له وږي څخه جلا شوم. پر ځمکه
لوېدلې ذليله دانه وم.
بيا موږ خلکو واخيستو. باد يې کړو،
پوست مو را څخه والوت او موږ غنم
پاته شو.
تر دې هم بله سخته هغه وه چې يـو
کس زه له ډبرې جوړ يوه ګـردې شي
ته واچولم. هغه کې سوری و. ما د
هغه ډېر سخت بد ږغ او کړهاری
اورېدی. زه يې همدې سوري تـه
واچولم. همدلته يې وړه کړم. ښاغلې!
ته يې نوم پېژنې؟... هغې تـه مېچن
ويل کيږي.
کله چې وړه شوم. بيا نانوای واخيستم. د
وړو لوښي (کشري) کې يې واچولم. په

ووضعني في مِعجَنَةٍ . وعمرني بالماء النَّقيِّ . وغمزني . حتّى صِرتُ عجيناً . فَصَنَعَ مِنِّي كُرةً.	پاکو اوبو کې يې پټه کړم. ټينګ يې ونښتبخلم. خو په دې توګه لاندې وره شوم. يا يې را څخه زوالي جوړې کړې.
هُنالک جاءتِ المُصيبةُ . فقد دحاني على حديدٍ مُحمّىً تُسَمُّونه الطّابَقَ. لا تسألْ يا سيّدي! عن أَلمِي واحتراقِي فقد التَوَيْتُ وانْكَمَشْتُ . ولكنّ الخبّازَ لَمْ يَرحمنِي ولم يَرِقَّ لِيْ . حتّى كنتُ رقاقاً.	اصلي مصيبت دغه وخت پيښ شو. زه يې پر يوه ګرمه اوسپينه خپره کړم. چې تاسو ورته تبخې واياست. ښاغلې! زما د دغه وخت د دردونو او سوځېدا پوښتنه مه را څخه کوه. په همدې سره زه را ټوله او ونغښتل شوم. اما نانواى بيا هم هيڅ رحم را باندې ونه کړ او نه يې زړه پر را وسوځېد. خو زه غوړېدلې پسته دودۍ شوم.
كُلُّ ذلک في سَبِيْلِکَ يا سيّدي ، كنتُ أشقى لِنَعِيمِکَ وأتْعَبُ لِلَذّتِکَ ، وأنتقلُ من طورٍ إلى طورٍ ، لِتأكُلَ هَنيئاً وتشبعَ ، أفلا يحْسُنُ بِکَ أن تَقُوْلَ:	دا هر څه مې ستا په لار کې زغملي دي، ښاغلې! زه ستا د نعمت په برکت بدبخته او ستا د خوند له پاره په تکليف شوم، له يوه حالته بل ته ورل کېدم. خو مې ته په اسانۍ وخورې او موړ شې. نو ايا درته مناسبه نه ده چې ووايې:
«الْحَمْدُ للهِ الَّذِيْ أطْعَمَنِيْ وَسَقَانِيْ وجَعَلَنِيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ».	هغه الله ته ستاينه ده چې زه يې موړ کړم. اوبه يې کړم او د مسلمانانو له ډلې يې کړم.

د الفاظو تشريح:

كِسرة: ټوټه، كِسَر يې جمع ده.

حَقْل: د کښت او بووي له پاره مناسبه ځمکه، د کښت ځمکه. حُقُول يې جمع ده.

حقل التجارب: هغه ځای چې پر يوه شي تجربې کيږي، څو ثابته کړي چې د دوی د غرض له پاره مناسب دی که نه.

حقل الرِّماية: د ټرينينګ ځای.

حقل النَّفط/ حقل البترول: د تيلو را ايستلو ځای.

غِرارة: د غلو دانو د ساتنې د ټوکر کڅوړه، جوال، تر نژدې مودې د معاملې له پاره يو ټاکلې پيمانه وه چې د اتيا مده معادل بلل کيږي، غرائر يې جمع ده.

بَيْدَر: درمند، هغه ځای چې غنم له وړو سره پر ډدل کيږي، بيادِر يې جمع ده.

بَيْدق: د سفر لار ښود، پياده سپاهي. بيادِق او بيادِقة يې جمعې دي.

بَيْرَق: لوی بيرغ، بَيارِق يې جمع ده.

جعجعة: د ميچنې ږغ. أسمع جعجعةً و لا أرى طِحْناً، د هغه چا له پاره متل دی چې خبرې ډېرې کوي او عمل يې نه وي، هغه کس چې وعدې کوي، عمل نه په کوي.

جَعْبة: د غشو کڅوړه، د ماشين جابه، أفرغ ما في جعبته: د زړه راز يې بيان کړ، ورسره خبرې يې وکړې. جَعَبات، جَعْبا او جِعاب يې جمعې دي.

جعجاع: ډېر خبرې کوونکی کس.

طاحون/ الرحى: ميچن، د غنمو د وړه کولو اله ده.

رُقاق: نرمه ډوډی، مفرد يې رُقاقة او جمع الجمع يې رُقاقات راځي.

بُرّ/قَمح: غنم، بُرّ خپله جمع ده، مفرد يې برة دی او د قمح مفرد قمحة دی، جمع الجمع يې قُمُوح ده.

سُنْبُلة: وږی، سُنْبُلات، سنابِل او سُنْبُل يې جمعې دي.

فريک: له نارسېده غنمو جوړه شوې حلوا.

مِنْجَل: د کښت يا وښو د رېبلو اله ده، لور، مَنَاجِل يې جمع ده.

داس: د «ن» له بابه ماضي معلومه واحد مذکر غائب دی: تر پښو لاندې کول.

دحا: ماضي ناقصه ده: غوړول، خپرول، پراخول.

التوی: د افتعال له بابه ماضي واحد مذکر غائب دی: کږېدل.

انکمش: د افتعال له بابه ماضي معلومه ده: تنها کېدل، را ټولېدل.

نوي لغات:

الطابِقُ التحتاني/ الطابق الأسفل: کښته پوړ، زير زميني.

الصِّراع الطَّبَقِيّ/ تفرقة طبقيّة/ حرب طبقية/ حرب الطبقات: طبقاتي جګړه.

طابِق: کرايي، هرکاره، طوابق يې جمع ده.

طَابَق: د پخولو لوښی، تبخی، لويه پخه خښته، د ودانۍ يو پوړ.

(٣)

عِيادَةُ المَرِيضِ

د ناروغ پوښتنه

ذهبَ حامدٌ الى المدرسةِ يومَ السّبتِ فوجد أنّ صديقه حُسَيْناً ما حضرـ في المدرسة . فسألَ أخاهُ علياً عنِ السّببِ ، فقال: انّه مَحْمُومٌ مِنْ يومِ الخميسِ ، فعزم حامدٌ على أن يعُودَه في الرُّجُوعِ مِنَ المدرَسَةِ.	د شنبې په ورځ حامد مدرسې ته ولاړ، هلته پوه شو چې ملګری حُسين مدرسې ته نه دی راغلی، د هغه له ورور علي څخه يې د نه راتګ پوښتنه وکړه، هغه ويل: حسين د پنجشنبې له ورځې تبه ده. نو حامد تکل وکړ چې له مدرسې د ستنېدو مهال به يې پوښتنه کوي.
ذَهَبَ حامدٌ الى بيْتِ حُسَيْنٍ فسلّم واستأذن ، فخرج أبو حسين ، قال حامدٌ: انيّ أريدُ أن أعودَ صديقي حُسيناً فقد أخبرني عليٌّ مَرِيضٌ ، قال أبوه: نعم! انّه أصابتْه الحُمّى يومَ الخميسِ ، ويُمكِنُكَ أن تعُودَه.	حامد د حسين کره ولاړ، سلام يې وکړ، اجازه يې طلب کړه، د حسين پلار را بهر شو، حامد وويل: رښتيا زه غواړم چې د ملګري حسين پوښتنه وکړم، علي راته خبر راکړ چې هغه ناروغ دی. پلار يې ويل: هو، د پنجشنبې له ورځې يې تبه ده، ته کولای شې چې پوښتنه يې وکړې.
صَعِدَ حامدٌ الى السَّطْحِ ، ودخل غُرْفَةَ حُسينٍ ، فرأى حُسَيْناً	حامد چت ته پورته شو، د حسين خونې ته ننوت، حسين يې وليد چې پر څنګ پروت دی، په نرم ږغ يې

مُضْطَجِعاً . فسلَّم عليه بِلُطْفٍ ، ودَنَا منه ، وقال له: كيفَ حالُكَ يا أخِيْ! عافاكَ اللهُ.

قال حسينٌ: قَدْ أصابتنِي الحُمَّى يومَ الخمِيسِ ، وكانتْ شدِيدةً يومَ الجُمُعَةِ ، وخَفَّتْ في اللّيل ، ولكِنّي أشْكُو الصُّداعَ والدُّوَارَ ، وقد ضَعُفْتُ كثيراً ، كأنّي مَرِيضٌ مُنذُ أيّامٍ ، ولا أشتَهِي الطَّعام.

قال حامدٌ: لا بأسَ طَهُورٌ اِنْ شاءَ اللهُ ، وهل عادكَ طبيبٌ؟

قال حسينٌ: نعمْ! قد عادنِي طبيبٌ أمْسِ ، وموعِدُه الآن.

ولم يَجْلِسْ حامدٌ اِلاّ قَلِيلاً ، حتّى حَضَرَ الطَّبِيبُ فجَسَّ يد حسينٍ ، وقاسَ الحرارةَ ، وامْتَحَنَ الصدر بالمِسْمَعَةِ ، وأبدى الارْتِياحَ ، وغيرّ في الوِصْفَةِ قليلاً ، وقال: اِنَّه باريٌّ بحمدِ الله ، و

ورته سلام وکړ، ور نږدې شو. ورته وېې ویل: ورور جانه! څنګه یې؟ الله دې روغ کړه!

حسین ویل: د پنجشنبې له ورځې را په دې خوا مې تبه شوې ده. د جمعې په ورځ ډېره سخته شوه. بیا د شپې یو څه کمه وه. اما اوس له سردرد او سترګو توربدو(د سر چګر) څخه په تکلیف یم. ور سره جوخت ډېر کمزوری شوی یم. لکه له ډېرو ورځو څخه چې ناجوړه یم او خوراک ته مې هیڅ زړه نه کیږي.

حامد ویل: خیر دی. ان شاء الله پاکونکې ده. ایا ډاکټر کتلی یې؟

حسین ویل: هو. ډاکټر پرون ولیدم او اوس یې بیا د راتلو وخت دی.

د حامد د ناستې لږ وخت شوی و. چې ډاکټر هم راغی. د حسین لاس یې ومښی اوکتی. درجه یې حرارت یې اندازه کړه. په ستیتوسکوپ یې سینه معاینه کړه او خوښي یې ښکاره کړه. د نسخې درمل یې لږ رد و بدل

أوصى أباه بأنْ يحمِيَ حسيناً الماء الباردَ والزيْتَ والخُروجَ في الهواء والتَعب ، ويَسْقِيَهُ اللَّبنَ وماءَ الشَّعِيرِ وماءَ الفَواكِه.	كړل، ويې ويل: هغه اوس الحمد لله ښه دی. د هغه پلار ته يې سپارښتنه وکړه چي حسين ته به له يخو اوبو، غوړو، باد ته له وتلو او ستړيا پرهيز ور کوي. شيدې، د اوربشو اوبه او د مېوې جوس دې ور کړي.
وَجَلَسَ حامدٌ قليلاً ، وقال: اِنَّ العائِدَ اِذا أطالَ الجُلُوسَ عِندَ المَرِيضِ ، شَقَّ عليه وعلى أهلِ بيْتِه ، فَأَسْتَأْذِنُ وَأَنصَرِفُ ، وأعودُ اِنْ شاء اللهُ غداً.	حامد لږ گړى کېناستى، بيا يې وويل: پوښتنه كوونكى كه له ناروغ سره ډېر وخت تېر كړي، دغه ناسته يې پر ناروغ او كورني سخته تماميږي، زه در څخه اجازه غواړم او ستنيږم، بيا به سبا له خيره بيا راځم. ان شاء الله!

د الفاظو تشريح:

فجَسَّ: د «ن» له بابه ماضي معلومه واحد مذكر غائب دی: لمسول، لاس ور وړل، نبض كتل.

عائد: له عاد يعود څخه اسم فاعل دی: را گرځېدونكى، بيا ځاى نيونكى، د ناروغ پوښتنه كوونكى.

مِسمعة: ستيتوسكوپ، طبي غوږی ده چي ډاكټر د مريض د زړه ضربان پـه اوري.

الصُّداع: سردرد.

الصَّدع: په يوه شي كي سوری، ښكارول يې، پـه ښكاره او جهر يـې بيـان. صُدُوع يې جمع ده. صدع النباتُ الأرض: پرې يې كړه، ور څخه را بهر شـو. حاكمٌ يصدع بالحق: ښكاره حق بيانوي.

الدُّوار: چکر، د سر گرځېدل، سترګې تورېدل.

الحُمّى: تبه، د بدن د حرارت پورته کېدل.

نوي لغات:

جَسّ الطبيبُ نبضَ المريض: ويې کتل، څو يې د زړه ضربان معلوم کړي.

مَسموع: اورېدل شوی، د اورېدلو وړ. کان مسموع الكلمة عند فلان: خبره يې منل کېږي. رجل مسموع الكلمة: اطاعت يې کېږي.

حُمّى باردة: سړه تبه. حُمّيات يې جمع ده.

الحُمّى المتقطّعة: بيا بيا راتونکې تبه.

حُمّى الانتخابات: د انتخاباتو د اجراء وخت.

الحِمى: د پاچا د څارويو څرځای.

حَمَى: د «ض» له بابه ماضي معلومه واحد مذکر غائب دی: ساتنه.

حمى نفسه: ځان يې وساتی.

(۴)

الكيمياءُ

کیمیا

كـانَ الأولادُ يتحـدّثُون في اللّيـلِ ويتسامرُون ، وكان أكثرُ حديثِهم عنِ الكِيمِياءِ ، وكان اِسْمَاعِيلُ يقولُ: سَمِعْتُ أنّ شيخاً يُحَوِّلُ التُّراب ذهبـاً ، ويجعـلُ نقـودَ النّيكـلِ والرّصاصِ: دنَانِيرَ ذَهَبِيّةً وجُنَيْهَاتٍ.	ماشومانو د شپې خبرې سره کولې. د دوی زیاتره خبرې پر کیمیا ور تولې وې. اسماعیل ویل: ما اورېدلي دي چې یو شیخ خاورې سره زر کوي. فلزي پیسې په سرو زرو او افغانیو بدلوي.
وصدّقَهُ محمـودٌ وقـال: نعـم! اِنّـه فنٌّ كان النّاسُ يعرففونـهُ ، ولكِـنِ انْقرض عُلماءُ هذا الفنِّ ، وطُوِيَ ذلك البِساطُ.	محمود یې خبره تائید کړه. ویې ویل: هو. دا یو هنر دی. خلکو پېژندی، خو د دې فن علماء ختم او نغر یې تول شو.
فتأسَّـفَ الأولادُ كثيراً ، وحَزِنُـوا ، وقـالوا: لـو وجـدنا أحـداً يعـرفُ هـذِهِ الصِّـناعةَ ، لَتعلّمنـا مِنـه ، وصِرْنا أغنياءَ بِدُونِ تَعَبٍ ومشقّةٍ.	ماشومانو ډېر تاسف وکړ. غمجن شول. زیاته یې کړه: که موږ یو عالم پیدا کړو چې دغه تخنیک یې زده وای، نو موږ به ور څخه زده کړې وای، نو بې له تکلیف او سختۍ به شتمن شوي وای.
وكان أَبوهُم بِمَسْمَعٍ مِنهم ، فقـال:	د دوی پلار یې خبرې اورېدلې. ویې ویل: هلکانو! تاسو مه غمجن کېږئ. د کیمیا هنر زما زده دی او تاسو ما ته ډېر

لا تتأسَّفُوا يا أولادي! فإنّي أعرفُ الكِيمياءَ، وأنتُم أعَزُّ النّاسِ عِندي، وفأنا أُعَلِّمُكُمْ غداً، وأُخبِرُكُمْ بِصِناعةِ الكِيمياءِ.

فَرِحَ الأولادُ كثيراً، و نَظَرَ بَعْضُهم الى بَعْضٍ، وشقَّ عليهم أن ينتظِروا الى الصَّباحِ، فاستطالوا اللّيلَ، ولكنّ والدَهم قال لهم: «لا يمكنُ تعليمُ الكِيمياءِ إلاّ في النهار، فإنّ ذلك فَنٌّ دقيقٌ.

نَامَ الأولادُ، وانتبهوا مُبكِّرين، ولم يَزَلْ إسْمَاعِيلُ وَ مَحْمُودٌ يريانِ الكيمياءَ في المنامِ، رأى هَاشِمٌ أنّه في قصرٍ شامِخٍ وَلِباسٍ فاخِرٍ، وقد بَنى القَصْرَ، وصنع اللِّباسَ بِالمالِ الذي حَصَلَ لهُ بالكِيمياءِ.

فَصَلُّوا الصُّبْحَ، وجلسُوا حولَ أبيهِم ينتظِرون فَراغَهُ مِن تِلاوَةِ القرآنِ، وأَتَمَّ أبوهم حِزْبَهُ، قال:

گران ياست، سبا يې زه در ښيم او د کيميا تخنيک به در زده کړم.

ماشومان ډېر خوشاله شول، يو بل ته يې سره وکتل، تر سبا ورته انتظار ډېر گران شو، شپه پر اوږده شوه. خو پلار يې ورته ويل: کيميا يوازي په ورځ کې زده کېږي، ځکه دا ډېر دقيق فن دی.

ماشومان بيده شول، سهار وختي را جگ شول، اسماعيل او محمود ټوله شپه کيميا په خوب ليده. هاشم خوب ليدی، چي په يوه دنگه مانۍ کي وي، قيمتي جامې يې پر تن وي. ده دغه مانۍ جوړه کړې وي او دا ښې جامې يې په هغه مال رانيولې وې چې ده له کيميا څخه تر لاسه کړی وي.

د سهار لمونځ يې وکړ. د خپل پلار شاوخوا ته کېناستل. د قران کريم له تلاوته د هغه د فراغت په انتظار وو.

نو پلار يې تولی ور پوره کړه، ويې ويل: زما زامنو! راشئ، دوی ورسره ووتل. کيميا ته ډېرې لېوالتيا اړ کړل چې تر ناري مخکې ولاړ شي.

هَلُمُّوا يَا أبنائي! فخرجوا معهُ . وقد أَعْجَلَهم الاِشْتِياقُ إِلى الكِيمياءِ مِن أَنْ يَفْطِروا.

لَمْ يَزَلْ أبوهم يَسِيرُ بِهِم طَرِيقاً بعدَ طَرِيقٍ ، حتّى وقف بِهِم عَلى حَقْلٍ يحرثُه الفَلَّاحُ ، وفي يدِه السِّكَّةُ ، فقال الوالدُ: الكِيمياءُ يا أولاديْ! تحتَ سِكَّةِ الْمِحْرَاثِ.

فتعجَّبَ الأولادُ ، فاستفسرُوا أباهم ، فقال الوالدُ: أَلَمْ أسمَعْكم تقولون: الكِيمياءُ يُحَوِّلُ التُرابَ ذهباً؟ ألا يتحولُ هذا التُرابُ ذهباً بعد أيّامٍ بل أغلى مِنَ الذَهبِ؟ وما يُغنِي الذَهَبُ إذا لم يكُنْ ما يأكُلُهُ الناسُ؟ فهذِهِ البُذُورُ الّتي بَذَرَها الفَلَّاحُ ، واجتهدَ فيها أيّاماً سَتأتي بِحاصِلٍ كَبِيرٍ ، وَسَيَرُدُّ اللهُ إليه بِهذا العملِ أضعافَ ما بَذَلَ.

ثُمَّ مَرَّ بِهم أبوهم على مَصْنَعٍ كان

پلار يې دوی روان کړل. له يوې لارې بلې ته ور تېرېدی. څو يې پر يوه پټي ودرول، چې بزگر يوې کاوه. د بزگر په لاس کې د هل اوسپينه وه. پلار ويل: ماشومانو! کيميا د هل تر اوسپينې لاندې ده. ماشومانو تعجب وکړ. له پلاره يې پوښتنه وکړه. هغه ويل: ما له تاسو وانه وريدل چې ويل مو: کيميا خاورې په سرو بدلوي؟ ايا دغه خاوره څو ورځې وروسته په سرو نه بدليږي؛ بلکې په گرانبيه سرو بدليږي.

که د انسانانو د خوراک توکي نه وي، سره زر به زموږ څه درد دوا کړي؟ دغه تخم چې بزگر يې شيندي. څو ورځې ور سره تکليف کوي. لوی حاصلات راوړي. د ده د دغه عمل په بدل کې به الله تعالی څو چنده حاصلات ور کړي.

بيا يې پلار له يو کارخانې سره تېرېدی، خلک په خپلو کارونو بوخت وو. پر تنديانو يې خولې بهېدلې. ډېر گټور شيان يې جوړول

النَّاسُ فيه عاكِفِينَ على أعمالِهِم ، والعَـرَقُ يَسِيلُ مِنْ جِبَاهِهِم ، وصَنَعُوا أشْياءَ مُفِيدَةً جِداً تُثمِرُ لهم مالاً كَثِيراً ، وتقضِيْ لِلنَّاسِ حاجاتٍ كبيرةً . فقال الوالدُ: الكِيمياءُ يا أولاديْ! عَرَقُ الجَبِينِ ، وكَدُّ اليَمِينِ ، ثُمَّ مالَ بِهِم إلى حلقَةِ مُعلِّمٍ ، وإلى مَجْلِسِ واعِظٍ ، وقال: يا أولادِيْ! الإنسانُ أغْلَى شيءٍ في الوُجُودِ ، وتثقِيفُه وإصلاحُهُ أفضَلُ مِنْ تحوِيلِ التُّرابِ ذهباً. فإذا تعلَّمَ هؤلاء الأولادُ ، وإذا اهْتدى هؤُلاءِ النّاسُ ، كانَ لِلْمُعَلِّمِ والواعِظِ صدقةٌ جاريةٌ ، له أجرُ كُلِّ ما يعملُ هؤلاء من خيرٍ وبِرٍّ . ولِذلك قال النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم لِسيِّدنا عليٍّ كرّم الله وجهَه: «يا عليُّ! لأنْ يهدِيَ اللهُ بِكَ رجلاً خيرٌ لكَ مِنْ حُمْرِ النعمِ».	چي ډېر زيات مالونه یې دوی تـه ور گټل او د خلكو اړتياوې يې هم پوره كولې. پلار ويل: اې ماشومانو! دغه د تندي خولې او د لاسونو زيار و خوراې كيميا ده. بيا يې د معلم درسي حلقې تـه ورسره بوتلل. د وعظ مجلس ته يې ور كاږه كړل. ويې ويل: اې ماشومانو! په كايناتو كي انسان ډېر زيات قيمتي دی. د انسان روڼ اندي كول او اصلاح تر دې ډېره ښه ده چي خاورې په سرو زرو واړول شي. كه دا ماشومان زده كړه وكړي، او هغه خلك لار ومومي، نو دا به د معلم او واعظ لـه پاره صدقه جاريه وي، دغه كسان چي هر د خير او ښېگڼې كار كوي، دوی به يې اجرت تر لاسه كوي، له دې امله نبي كريم ص حضرت علي رض ته ويل: اې علي! كه ستا په توسط الله تعالى يوه كس ته هدايت وكړي، تاته تر سرو اوښانو غوره دی.

فَاقْتَنَعَ الأَولادُ ، وَ شكَرُوا أباهم . ورجَعُوا ، وقد تَعَلَّمُوا الكِيمياءَ.	ماشومانو قناعت وكړ. د خپل پلار مننه يې وكړه. بيرته په كې حال كې ستانه شول چې كيميا يې زده كړې وه.

د الفاظو تشريح:

يَتَسَامَرُون: د مفاعلې له باب څخه مضارع معلومه جمع مذكر غائبه ده: د شپې له يو بل سره خبرې.

الرّصاص: پيتل، نرم فلزات دي.

النِيكل: يو ډول اوسپينه ده(Nickel).

اِنْقَرَضَ: د انفعال له بابه ماضي معلومه واحد مذكر غائب دی: ختمېدل، له منځه تګ، مرګ.

السّكة: د هل اوسپينزه څوكه چې ځمكه سره اړوي. يا د اوس په اصطلاح سَپارَهٌ.

المِحراث: هل، د غواپانو د يوې اله، محاريث يې جمع ده. هغه لرګی چې اور په لړل كيږي، اورلړونی.

نوي لغات:

قلم الرصاص: پنسيل.

جَرّار: تكتر، تركتول، لوی، ډېر نيونكی جرارات يې جمع ده.

مقطورة: تېله، د اورګاډي يوه ډبه، هغه وسيله چې موټر يا بل شی يې په ځان پسې كشوي، بارونه، وسايل او نور شيان انتقالوي. مركبة هم ورته وايي. مركبات يې جمع ده او د مقطورة جمع مقطورات ده.

(٥)

يَوْمٌ صَائِفٌ

گرمه ورځ

مَا أَشَدَّ الحرَّ! يا لطيفُ! أالنـاسُ فِي بُيُـوتِهم لا يَخْرُجـون خـوفَ السَّمُوم، وقدِ اتَّخذُوا سُتُوراً مِّـنَ الحَشِـيْشِ يَرُشُّوْنَ عليهـا المـاءَ، ويُحرِّكُـون المَـرَاوِحَ، وقـد سَـدُّوا النّوافِذَ، لِئلّا تدخُل مِنهـا السَّمُومُ، ومـعَ ذلـک يَتَقَلَّبُـونَ علـى مِـثلِ الجَمر، هذا، وأَهْلُ الأكوَاخِ الحَقِيرة والخُصَصِ والبُيُوت المَبْنِيّةِ مِنَ اللَّبِنِ أنعمُ في الصَّيف مِـن أهـلِ القُصـور المبنيّة مِن الجِصّ والآجُرّ، فإذا رشُّوا الماءَ على الأرضِ والجِدرَانِ، وهبَّـتْ نفحةٌ مِّن سَمُومٍ تَحَوَّلَـتْ نَفْحَـةٌ مِّـن نَسِيمٍ، وحَسِبوا أنّهم في جنّةٍ ونعِيمٍ. اِرتَفَعتْ درجـةُ الحـرارةِ اِلـى مِائـةٍ وثمانِيَ عشـرةَ نُقْطـةً، فعِيـلَ صـبرُ	لطيفه! څومره سخته گرمي ده. خلک له دې داره چې لمبه (گرمي) يې ونه وهي، له خپلو کورونو نه را وزي. له خاشو يې پردې انيمرې جوړې کړې وي، اوبه ور باندې پاشي. پکې ښانو ته وهي. کلکينان يې تړلي وي چې سره لمبه خونو ته ور نه شي. پر دې هـر څـه سربېره دوی کـې سره اوړي لکه پر سره سکروټه چې ناست وي. د کمزورو خالو (جوگيو) او هغو کورونو خاوندان چې په اوبو خښتو يې جوړ کړي، په دوبي کې تر هغه چا په مزو کې دي چې مانۍ لري. له پخو خښتو او گچو يې جوړې کړې وي. که پر ځمکه او دېوالونو اوبه وپاشل شي، بيا گرمه څپه را والوزي، نو دا گرمه څپه په يخ شمال بدله شي. دوی احساس کوي چې په جنت او نعمتونو کې دي.

الناسِ، وسافَرَ الأغنياءُ إلى قُلَلِ الجِبال حيثُ يصطافُون و يَقضُون شهرَيْ مايُو و يُونيهْ حتّى إذا نزلتِ الأمطارُ، ولطُفَ الحرُّ هَبَطُوا إلى المُدُن والسُّهُول.

وبَقِيَ أوساطُ الناسِ، وأهلُ الأشغالِ، يتَحَمَّلُون الحرَّ، ويَصْبِرُون لِلسَّمُوم.

ألآنَ رَكَدَتِ السَّمومُ، ومالتِ الشَّمسُ، وطابَ الخُرُوج، وانْتَشَرَ الناسُ في الَساتِين والمَيادِين وشَواطِئ الأنهارِ يتروَّحُون ويَتَنَزَّهُون، فلا تَجِدُ في البيتِ إلاّ شيخاً هرِماً أو امْرأةً أو عاجِزاً، ومَن حَبَسَه شغلٌ أو مرضٌ أو حاجةٌ، وقد تَسْتَمِرُّ السَّمُومُ إلى اللَّيل، فلا يستَرِيحُ الناسُ ويتقلَّبُون على الفِراش، وقد يحتَبِسُ الهواءُ، فَيَسِيلُ العَرَقُ، وتَتَحَرَّكُ المَرَاوِحُ، ويَطِيرُ النومُ.

گرمي يو سلو اتلسو درجو ته ورسېده، د خلكو د صبر كاسه يې ور ډكه كړه، شتمنو د غرونو سيمو ته سفرونه وكړل، همالته به دوبى تېر كړي، د مي او جون مياشتې به تېرې كړې. كله چې بارانونه وشي، گرمي كمه شي، بيا به نو ښارونو او باندو ته را شوه شي.

د منځنۍ درجې خلک پاتې شول، د كار او شغل كسانو همدا گرمي زغمله او پر گرمه سيلۍ يې صبر كاوه.

اوس گرم بادونه نه شته، لمر مايل شو، وتل ښه خوند لري، خلک بڼونو، ميدانونو او د ويالو څنډو ته ووتل، مېلې او تفريح كوي، نو په كورونو كي به يوازي ډېر بوډا، ميرمنې او له تلو ناتوانه كس وموميې، يا هم هغه كسان چې كار، ناروغي يا يوې اړتيا ورته د تلو اجازه نه وي ور كړې.

كله ناكله دا گرم بادونه تر شپې اوږده شي، خلک ارام نه شي كولاى، پر خپلو بسترو لټ پر لټ اوړي، او كله باد يو مخ ودرېږي، نو خولې را ماتې شي، پکې وخوځېږي او خوب له خلكو كډه وكړي.

د الفاظو تشريح:

صائف: گرمي. يومٌ صائف: ډېره گرمه ورځ.

الصيف: دوبى. أصياف او صُيُوف يې جمعې دي.

سُتُوراً: پردې، سِتر يې مفرد دى.

المراوِح: لاسي پکې يا برېښنايي پنکې، مفرد يې مِروحة دى.

السّموم: وچ گرم موسمي باد دى چې دوړې ورسره وي، يو شمېر سيمو کې خاص وخت را الوزي، سمائيم يې جمع ده. مصر کې ورته ريح الخماسين وايي، سوډان کې ورته هبوب وايي او تونس کې ورته الشهيلي وايي.

الأكواخ: ځاله، کوډله، جوگى، سايوان. کوخ يې مفرد دى.

الجِصّ: گچ، چونه.

اللّبن: اومې خښتې.

الأجر: پخې خښتې. أجرة يې مفرد دى.

نَفْحَة: اورنى ځپه، گرم باد، خوشبويي، ښه بوى، نَفَحَات يې جمع ده.

خُصّ: خُصَصٌ او أخصاص يې جمعې دي: د خاشو او لرگيو کوډل.

نوي لغات:

الصّيف ضيّعت اللّبن: متل دى، پر يوه کار د وخت تر تېرېدو وروسته پښېماني مهال ويل کېږي.

البيت الأبيض: سپينه ماڼۍ، د متحده ايالاتو د ولسمشر هستوگنځى.

بيت الحكمة: د خليفه مامون له خوا جوړ شوى علمي مرکز يا کتابتون.

بيتُ الخلاء: تشناب.

بيت المال: عمومي خزانه، دولتي خزانه.

بيت التحف/المتحف: موزيم.

بيتُ بِغاء/بيتُ فساد: رنډى خانه.

بيوت العلم: هغه کورنۍ چې په علمي ستو مشهوره او پېژندل کېږي.

بيوت الشّباب: هغه ځايونه چې مسافرو ته په اجرت خوراک برابروي.

(٦)

النظافة

پاکي

طَاهِرٌ ابْنُ فلّاحٍ ، يَسْكُنُ أبوهُ في القريَةِ ويُرْسِلُ إلى طاهِرٍ قليلاً مِنَ النُّقُودِ كُلَّ شهرٍ.	طاهر د بزگر زوی دی، پلار یې په کلي کې اوسي او هره میاشت طاهر ته یو څه نغدې پیسې را لیږي.
ولكِنَّ طاهراً ولدٌ مدبِّرٌ عاقِلٌ ، ثِيابُهُ مُتَواضِعَةٌ ، ولكِنَّها دائِماً نَظِيفَةٌ مُرَتَّبَةٌ لا ترى فيها وَسَخاً . يَغْسِلُها بِيدِه كُل جُمْعَةٍ ، وعِندَه إبْرَةٌ و خَيْطٌ ، فإذا تخرَّقَ ثوبٌ خاطَهُ بِالإبرَةِ أو رَقَعَهُ بِنفسِه.	خو طاهر هوښیار او باتدبیره هلک و، د خاکسارو جامې یې اغوستې، خو همیشه به پاکې او سمې وې، هیڅ وخت به یې خیرنې ونه گورې، هره جمعه یې په خپل لاس مینځلې، هغه له ځان سره ستن او سپنسی (تار) لرې، کله چې یې جامه څیرې شي، په ستن یې گنډي یا په خپله ورته پینه ور کوي.
ولا يَخْجَلُ إذا خرج في ثوبٍ مرقُوعٍ ، ولكِنَّهُ يَخْجَلُ إذا خرج في ثوبٍ وَسِخٍ ، وما رآه أصْدِقاؤُهُ في ثِيابٍ وَسِخَةٍ أبداً ، فَيَحْسَبُونَ أنه غَنِيٌّ ، عِنده ثِيابٌ كثيرةٌ ، ولا يَمْلِكُ إلّا أربَعَ بِذْلاتٍ.	هغه په دې نه شرمیږي چې په پینه شوې جامه کې را ووزي، اما په دې شرمیږي چې خیرنو جامو کې وگرځي، ملگرو یې هیڅکله هم په خیرنو جامو کې نه دی لیدلی، دوی فکر کوي چې هغه شتمن دی، ډیرې جامې به لري، خو له هغه [illegible] سره
وإذا دَخَلْتَ في حُجْرَتِه رأيْتَها	

نَظِيفَةً مُنْتَظِمَةً . ورأَيْتَ كُلَّ شَيْءٍ فِي مَحَلِّه . فلا يَضِيعُ وَقْتُهُ في تَفَقُّدِ الأشياءِ والتِمَاسِها . وإذا دخل في الظَّلامِ قَدَرَ على أنْ يأْخُذَ ما يُرِيدُه لأنّه في محلّه.

وكُتُبُهُ في نِظامٍ دائماً . وهِيَ نَظيفَةٌ لا ترى عَلَيْها غُبَاراً ولا تُراباً . ولا ترى فيها أثَرَ دُهْنٍ ومِسْحَةَ يدٍ ، ولا كِتابةً و تَمْرِيناً . كأنّه اشتَرَاها اليَومَ . ولا يَكْتُبُ اسْمَهُ إلّا في مَكانٍ واحدٍ بِخطٍ جيّدٍ.

وإذا قامَ طاهِرٌ في الصَّبَاحِ تَوَضَّأَ لِصَلاةِ الصُّبْحِ واسْتَاكَ . وَنَظَّفَ أسْنانَهُ.

وَيَغْتَسِلُ طاهِرٌ كُلَّ يومٍ في الصَّيفِ . وأكثرَ مِنْ مرّةٍ في أُسْبُوعٍ في الشِّتاءِ . لِذلك تَراهُ يمْرَضُ قَلِيلاً . وَهُوَ قَوِيٌّ نَشِيطٌ.

وفي فَصْلِ طاهرٍ ولدٌ غَنِيٌّ اسْمُه شاهِدٌ . وهو ضِدُّ طاهِرٍ في

بوازي څلور جوړه د کار جامې دي.

که د هغه کوټې ته ورشې. نو پاکه او منظمه به يې ووينې. ويه ګورې چې هر شی پر خپل ځای پروت دی. هغه خپل وخت د شيانو په لټون او پلټلو نه ضايع کوي. که هغه په تياره کې کوټې ته ورشي. د اتکل له مخې يو شی را اخيستای شي؛ ځکه هغه پر خپل ځای پروت وي.

کتابونه يې تل منظم وي. هيڅ وخت به يې تر دوړو لاندې ونه وينې. نه به ور باندې د غوړو اثر وګورې او نه د لاس ور وړلو. نه به هيڅ ځای ليکل پر ووينې او نه تمرينونه. کې پاک سوتره وي. لکه نن چې يې اخيستي وي. صرف يو ځای په ډېر ښکلي خط خپل نوم ور باندې ليکي.

طاهر چې سهار را پاځي. د لمانځه اودس وکړي. مسواک ووهي او خپل غاښونه پاک کړي.

اوړي کې طاهر هره ورځ لمبېږي. ژمی يا اونۍ کې تر يوه وار زيات لمبېږي. له دې کبله به هغه ډېر کم ناروغ ومومې. دی ډېر پياوړی او چالاک دی.

د طاهر په ټولګي کې د شاهد په نوم يو

النَّظَافَةِ والنِّظامِ . فثِيابُه غالِيَةٌ جميلةٌ ولكنَّها في الغالبِ وسِخَةٌ دَنِسَةٌ . وهو يُغيِّرُ مَلاَبِسَهُ سَرِيعاً ، ولكِنَّه يُوَسِّخُها سَرِيعاً.	شتمن هلک شته. هغه یا په پاکي او منظموالي کي د طاهر بالکل برخلاف دی. جامې یې ډېرې قیمتي او ښایسته وي. خو زیاتره وخت خیرني او ګړلي وي. له دې سره چي هغه خپلې جامې ژر ژر بدلوي. اما ورسره خوا کي یې ژر خیرنوي هم.
وكذلك كُتُبُه دائماً فَجِلْدُها مَشْقُوقٌ ، وَوَرَقُها مَخْرُوقٌ ، وكأنَّ طِفْلاً عَبَثَ بِها أو مَشَتْ عليها سِكَّةُ الفَلاَّحِ أو دَاسَتْها مركَبَةٌ.	همدارنګه به یې د کتابونو دوتنې شکېدلې او پاڼې به یې پرې وې. لکه ماشومانو چي به لوبې په کړې وي، یا لکه د بزګر هل چي به وهلې وي یا هم حیوان به تر پښو لاندې کړې وي.
وكُتُبُه وَدَفَاتِرُهُ مَعْرِضٌ ، أو مُتْحَفٌ ، تر فِيها رُسوماً وَصُوراً ، وتَوْقِيعاتٍ وتَمْرِيْناتٍ ، وأشْكَالاً رِيَاضِيَّةً وَخَرَائِطَ جُغْرافِيَّةً.	د هغه کتابونه او کتابچې تیار ننداړتون یا موزیم دي، ته به په کي رسمونه، انځورونه، لاسلیکونه، تمرینونه، د ریاضي شکلونه او جغرافیوي نقشې ووینې.
وإذا قُلْتَ لِشاهِدٍ: لِمَاذا لا تُحافِظُ على النَّظَافَةِ والنِّظَامِ؟ قال: إنَّه يَضِيعُ في ذلك وقتٌ كثيرٌ . والوَقْتُ شيْءٌ غالٍ.	که شاهد ته ووایې: ولې دې نظافت او نظم نه مراعاتوې؟ دی وایي: دا خورا ډېر وخت ضایع کوي او وخت ډېر قیمتي شی دی.
وتراهُ يُضيِّعُ وَقْتاً طَوِيلاً في تَفَقُّدِ الأشياءِ وتَغْيِيرِ المَلاَبِسِ بِسُرْعَةٍ ، ولا يَفْطَنُ لِذلك.	بل خوا به دی ووینې چي د شیانو په لټون او ژر جامو بدلولو کي به ډېر وخت ضایع کوي، اما دی ورته نه متوجې کیږي.

د الفاظو تشريح:

تَخَرَّقَ: د تفعّل له بابه ماضي معلومه واحد مذكر غائب دی: څيري، پري.

بِذْلَاتِ: هغه جامې چې د کار و زيار له پاره اغوستل کيږي. بِذْلَة يې مفرد دی.

دَفاتِرِ: کتابچه، خالي سره منبتې پاڼې دي چې دوې دوتنې لري، د خط ليکلو، ثبت او نورو ګنو کارونو له پاره استعماليږي. دفتر يې مفرد دی.

مَرْقُوع: د «م» له بابه اسم مفعول دی: پينه شوی.

مُدَبِّر: د تفعيل له بابه اسم فاعل دی: عقل مند، څيرک، باتدبيره، هوښيار، په دولتي چارو کې مهارت لرونکی، سلاکار، منتظم، وزير، رئيس، والي.

نوي لغات:

اِتسع الخرقُ على الرّاقع: د ستونزو حل ورته ګران شو.

رقع أموره: چارې يې سمې کړې.

دفتر الشروط: هغه سند چې د مطلوبې سودا شرايط په کې ذکر وي.

أدْبر الشخصُ: ولاړی، شا يې وګرځوله. ادبر المجرم: په تېښته بريالی شو. أدبر أمرُهم: فساد ته يې مخه کړه. أدبرت الدهرُ عنه: حالات پرې واوښتل.

دبّر الشخص: لګښتونو کې يې ميانه روي غوره کړه. دبّر الأموال: مالونه يې زيرمه کړل، د مالونو پر را ټوليدو او جمعه کېدو وتوانېدی. دبّر خُطَّةً أو مؤامرةً: پلان يې جوړ کړ. چل يې وکړ. عمل مُدَبّر/ أمرٌ دُبِّر بِليل: په ډېر پټ ډول جوړ شوی پلان. دبّر الأمر: په ډېر فکر او تدبير يې کار وکړ. دبّر عذراً: عذر يې له خانه جوړ کړ.

(٧)

الحَنِينُ إلى الشَّهَادَةِ

د شهادت شوق

(١)

لَمَّا أرادَ رسولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم الخُرُوجَ إلى بدرٍ لِيُقاتِلَ المُشْرِكِينَ وخرج غُلامٌ اسْمُهُ عُمَيْرُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ عُمْرُهُ سِتَّ عشرةَ سنةً.	څه وخت چي رسول الله ص غوښتل بدر ته ولاړ شي، هلته له مشركانو سره جګړه وکړي، نو د عمير بن ابي وقاص رض په نوم يو ځوانکی هم ورسره ولاړ چي عمر يې ١٦ کاله و.
وكان عُمَيْرٌ يَخَافُ ألاّ يَقْبَلَهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم، لأنّه صَغِيرٌ. فكان يَجْتَهِدُ ألاّ يراهُ أحدٌ، وكان يَتَوارَى.	عمير رض پر دې داريدی چي رسول الله ص به يې ونه مني، ځکه دی کشر و، هغه تر وسه خپل کوښښ کاوه چي د ده په سترګه نه شي، نو له دې امله ورسره پټ پټ روان و.
ولكِنْ رآهُ أخوهُ الأكبرُ سعدُ بنُ أبي وقّاصٍ فقال له: مالَكَ يا أخِي؟ لِأيِّ شيْءٍ تَتَوارَى؟	خو مشر-ورور سعد بن ابي وقاص وليد، ورته يې ويل: وروره! څه کيسه ده؟ ولې پټيږې؟
قال عُمَيرٌ: أخافُ أنْ يَرُدَّنِي رَسولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم	عمير ويل: ويريږم چي رسول الله به مې بيرته ستون کړي، ځکه زه کشر يم او زه مې غواړي چي جګړه کي ګډون وکړم، ښايي الله مې شهادت نصيب کړي.

فإنّي صَغيرٌ . وَأنَا أُحِبُّ الخُرُوجَ ، لعلَّ اللهَ يَرْزُقُنِي الشَّهادةَ.	له څه چي عمير داربدی، همداسي وشول. رسول الله ص چي ورته وکتل، هغه ورته وړوکی ښکاره شو او جګړه د ماشومانو او هلکانو کار نه دی. دوی په جګړه کي څه غواړي. په کي حال کي چي جګړه لويو خلکو ته لا زور غواړي؟
وكان كَمَا خاف عُمَيرٌ . فَلمّا نظر اِليه رسولُ الله صلى الله عليه وسلم رأى أنّه صَغِيرٌ . والحربُ ليستْ من شُغْلِ الأطفالِ والغِلْمَانِ . وما يَصْنَعُونَ في الحربِ . واِنّها لَكَبِيرةٌ عَلى الرِّجالِ؟	
ولَكِنَّ عُمَيْراً ما أَحَبَّ أن يَنصرِفَ . ويقعُدَ في البيتِ . او يَلْعبَ مع أتْرابه . وأصدِقائه في المدِينةِ . وانه لَيرِيدُ لاشهادة في سبِيلِ الله!	خو عمير نه غوښتل چي ستون شي، په کور کي کښني، له خپلو همزولو او ملګرو سره په مدينه کي ساتېری وکړي، بيشکه هغه په الهي لار کي شهادت غوښتی.
ولكِنَّ عميراً لا يَعْصِيْ رسولَ الله صلى الله عليه وسلم . ولا يُعَانِدُ . فانّه لا يُرِيدُ اِلاّ رِضَاء اللهِ . وهل يَنَالُ رضاءَ اللهِ اِذا عَصَى رسولَ الله صلى الله عليه وسلم أَبداً!	اما عمير د رسول الله ص نافرماني نه ده کړې او نه يې ضد کړی، ځکه هغه يوازي الهي رضا تر لاسه کوله او د رسول الله ص په نافرماني کي هيڅکله هم الهي رضا نه تر لاسه کيږي.
كانَ عُمَيرٌ في حَيرَةٍ وحُزْنٍ شَدِيدٍ ، هُو لم يَبْلُغْ سِنَّ القِتَالِ ، ولكِنّه يَحِنُّ	عمير ډېر هک پک او غمجن و، د جګړې له پاره تاکل شوي بريد ته نه وو رسېدلی، بل خوا يې پر دماغ د شهادت ولوله ناسته وه، د الهي لارې مرګ يې خوښ و، جنت ته لېوال و، دی پوهېدی چي جګړه کيږي، اما د ګډون

3

إِلى الشَّهادةِ ، وإِلى المَوتِ في سَبيلِ اللهِ ، ويَحِنُّ إِلى الجَنَّةِ ، ويَراها غَيرَ بَعيدَةٍ ، ولكنْ كيفَ يَصِلُ إِليها ، وهو لَمْ يَبْلُغْ سِنَّ القِتالِ؟!	له پاره حیران و چي څنګه به ګډون کوي، په کي حال کي چي د جګړې ته تعین شوی عمر هغه نه وو پوره کړی.
كُلُّ ذلك ثَقُلَ على عُمَيْرٍ ، وكان قَلْبُهُ صَغيراً فبكى ، ولَمّا بَكى عُمَيرٌ رَقَّ له قَلْبُ رسولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم وكان رسولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم رَقِيْقاً رَفِيقاً فَأَجازَهُ.	دې هر څه عمیر تر فشار لاندې نیولی و، زړه یې د ماشوم و، نو په ژړا شو، کله چي عمیر وژړل، د رسول الله ص زړه ورته نرم شو، پیغمبر علیه السلام ډېر نرم زړی مهربانه و، بس اجازه یې ور کړه.
لا تَسْأَلوا عَنْ فَرَحِ عُمَيْرٍ وَسُرُورِهِ لَمّا أجازَهُ النَّبيُّ صلى الله عليه وسلم، فَكَأَنَّمَا نالَ تَذْكِرَةَ الجَنَّةِ. وَخَرَجَ عُمَيرٌ مع أخيهِ ومع المُسلِمينَ ، وكُلُّهم كِبارٌ وأَقْوِياءُ ، وكان كما أَرادَ . فَقَدْ قُتِلَ شَهيداً في الغَزْوَةِ ، وَسَبَقَ كَثيراً مِنَ الشُّبّانِ والشُّيُوْخِ.	کله چي رسول الله ص اجازه ور کړه، نو د عمیر د خوښی حد نه کېدی، دومره خوښ و، لکه د جنت تیکټ چي یې تر لاسه کړی وي. عمیر له خپل ورور او مسلمانانو سره ولاړ، ګرده یې لویان او پیاوړي وو. هماغه څه وشول چي ده غوښتل، په غزا کي هغه شهید شو. د شهادت تر نوور مینه والو او بوډاګانو هغه په دې سیالي کي وړاندي شو.
رَضِيَ اللهُ عَنْ عُمَيْرٍ وَأَرْضاهُ.	الله دې له عمیر څخه راضي او هغه دې هم خوښ کړي.

د الفاظو تشریح:

لا يُعانِدُ: مضارع منفي ده: مخالفت، ضدیت، پر خپله خبره درېدل.

حنَّ: د «ض» له بابه ماضي معلومه واحد مذكر غائب دی: لېواله.

ثَقُلَ: د «ک» له بابه ماضي معلومه ده: سخت، گران، دروند.

رفيقاً: د «ن» له بابه صفت مشبّه ده: نرمي کوونکی، هغه څوک چي نرم زړی وي. رِفاق او رُفقاء يې جمعې دي.

رَقيق: صفت مشبه ده، رِقاق يې جمع ده: نرمي درلونکی کس.

نوي لغات:

رقيق المعاني: نرم، نرمي کوونکی.

نسيج رقيق: نرم پوستی.

رقيق الصَّوت: نرم ږغی، په نرم اواز خبرې کوونکی.

رجُل رقيق الحواشي: ملگرتيا يې باريکه ده، نرمه ده.

رقيق الجانب: مهربان او سوړ دماغی.

رقيق الحال: فقير، بې وزلی.

رقيق الشمائل: زړسواند.

رقيق القلب: نرم زړی، مهربان.

رقيق الوجه: مخ يې پوست دی، شرمناک دی.

لفظ رقيق: اسانه او خوږ.

رفيق الأعلى: مړ شو.

رفقاء السوء: ناوړه ملگري.

رفيق القلب: زړ سواند/ مهربان.

رفيق العُمر /رفيق الحياة: ميرمن، ماينه.

رفيق/زميل: همصنفي. هغه څوک چي ستا په شان کار کوي، د ستا د ډلې غړی.

(٨)

الحَنينُ إلى الشَّهادَةِ

د شهادت ولوله

(٢)

وَلَمَّا خَرَجَ رسولُ الله ص إلى أُحُدٍ لِقتالِ قُرَيشٍ خرج معه مِنَ المدينةِ غِلْمانٌ يُحِبُّونَ الجهادَ في سَبِيلِ اللهِ. وكانُوا صِغاراً، لم يَتَجاوَزُوا الخَامِسَةَ عشرةَ مِنْ عُمُرِهم، فَرَدَّهم رسولُ الله ص. لِأَنَّهم صِغارٌ لم يَبْلُغُوا سِنَّ القِتالِ، فَيَكُونُون كَالمَتاعِ، ويَشْغَلُونَ الكِبار أيضاً يُراقِبُونَهم وَيَحْرِسُونَهم.

وكانَ في هؤلاءِ الغِلْمانِ ولدٌ، اسمُهُ رافِعُ بنُ خَدِيجٍ، وهو دُوْنَ الخامِسةَ عشرة مِنْ سِنِّه، وكان يَتَطاوَلُ مِنْ شِدَّةِ الشَّوقِ، لِيَظُنَّ النَّاسُ أنّه كَبِيرٌ، قد بَلَغَ سِنَّ القِتَالِ، فلا يُفْطَنُ لِصِغَرِ سِنِّهِ وَضَعْفِه.

ولكِنَّ رسولَ الله ص رَدَّه، لأَنَّهُ عَرَفَ أنَّهُ صَغيرٌ، وأنّه يَتَطَاوَلُ، فَشَفعَ لَه أبوه، وقال: يا رسولَ اللهِ! إنَّ ابْنِي

رسول الله ص چې كله أحد ته ولاړ. خو له قريشو سره جګړه وكړي. نو له مديني څو هلكانو هم په دې خاطر ور سره ولاړل چې الهي لار كې يې جهاد سره مينه در لوده. دوى كشران وو. د عمر پنځلسم پسرلى يې لا نه وو موندلى. نو رسول الله ص هم را ستانه كړل؛ ځكه ماشومان وو او جنګې كس ته تاكل شوى عمر يې نه وو بشپړ كړى. له دې امله دوى لكه سامان كې وو. چې مشران په ساتنه او څارنه له جګړې مشغولوي.

دې ماشومانو كې د رافع بن خديج په نوم يو كس و. هغه لا تر پنځلس كاله كمعمره و. هغه له ډېره شوقه په لوړه غاړه تلى. څو خلك د لوى كس ګومان پر وكړي. چې د جګړې تعين شوى عمر يې پوره كړى دى. نو به د هغه كمعمرى او كمزوى ته نه متوجې كيږي.

خو له دې سره رسول الله ص را ستون كړ. ځكه هغه يې په كشروالي پوه شو. ده لا هم غاړه اوچته نيولې وه. پلار يې

رَافعاً رام . فأذِنَ رسولُ اللهِ ص فَفَرِح رافعٌ كَثيراً لَمَا أذِنَ رسولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم ، وَخَرَجَ مع المُجاهِدِينَ ، وهو أكثرُ سُروراً مِنْ غِلْمانٍ يَخْرُجُونَ إلى المُصَلّى يومَ العيدِ في لِباسٍ جَدِيدٍ.	شفاعت ته را وړاندي شو. ويې ويل: د الله رسوله! خبره دا ده چي زما زوی رافع ښه غشي ويشتونکی دی. بس رسول الله ص هم اجازه ور کړه.
وكان ولدٌ آخرُ اسْمُهُ سَمُرَةُ بنُ جُنْدُبٍ في سِنِّ رافعٍ ، فعُرِضَ على رسولِ اللهِ ص بعد رافِعٍ فَرَدَّهُ رسولُ اللهِ ص لِصِغَرِهِ أيْضاً. فقال سَمُرَةُ: لَقَدْ أجَزْتَ رافِعاً وَرَدَدْتَنِي، ولو صارَعْتُه لَصَرَعْتُهُ.	د نبوي اجازې په تر لاسه کولو د رافع د خوښۍ اندازه نه کېده. له مجاهدينو سره ولاړ. دی تر هغو ماشومانو ډېر خوشاله وو، چي د اختر په ورځ نويو جامو کي عيدگاه ته ځي.
فَأمَرَ رسولُ اللهِ سَمُرَةَ ورافعاً لِلْمُصارَعَةِ فَصَرَعَ سَمُرَةُ رافعاً كما قال ، واستَحَقَّ أنْ يُسْمَحَ لَهُ بالدُّخُولِ في صَفِّ المُجاهِدِينَ.	د سمره بن جندب په نوم يو بل هلک، چي د رافع همعمره و. رسول الله ص ته تر رافع وروسته وړاندي شو. نو رسول الله ص هغه هم د کشرتوب له امله رد کړی. سمره ويل: تا رافع ته اجازه ور کړه او زه دي رد کړم. په کي حال کي چي زه يې په غېږ نيولو کي را خملولای شم.
	رسول الله ص امر وکړ چي سمره او رافع دې سره غېږ په غېږ شي. هماغسې لکه ده چي يې ادعا کړې وه. واقعي سمره رض رافع را خملاوه. په دې سره هغه هم د دې مستحق شو چي د مجاهدينو ليکو ته د تلو اجازه ور کړل شي.
فَأجازَ رسولُ اللهِ سَمُرَةَ لِلخروجِ . فخرج سمرةَ وقاتَلَ يومَ أُحُدٍ في سَبِيلِ اللهِ.	بيا سمره رض ته هم رسول الله د وتلو اجازه وکړه. سمره ولاړ. د احد په ورځ يې الهي لار کي جګړه وکړه.
رَضِيَ اللهُ عن رافعٍ وسمرةَ ، وَرَزَقَنا اتِّباعَهُما.	الله دي له رافع او سمره راضي شي. موږ ته د هغوی پر نقش قدم د تلو توفيق راکړي.

د الفاظو تشريح:

مُصارَعة: د مفاعلې د باب مصدر دی، يو له بل سره غېږ نيول. مُصارعات يې جمع ده.

يَتطاوَلُ: د تفاعل له بابه مضارع معلومه واحد مذکر غائب دی: ځان سره کشول، غاړه لوړول، تکبر او لويي، ظلم او ستم.

يَسْمَحُ: د «م» له بابه مضارع معلومه واحد مذکر غائب دی: اساني، نرمي، غاړه ورنه ږدل، سخا کول، اجازه ور کول، همېرغي کول.

نوي لغات:

صَارَع العدُوَّ: پر مخالف کس غېږ کې لاسبرى شو، هغه يې پر ځمکه ځملاوه.

مُصارع الثّيران: د دوو سيالو کسانو ترمنځ سخته مقابله، په خلاص ميدان کې له غوايي سره مقابله.

صارع الموتَ: مقاومت يې وکړ، ور باندې برلاسى شو.

تطاول القومُ: يو له بل سره يې سيالي وکړه.

تطاول اللّيلُ / تطاول عليهم الليلُ: شپه پرې اوده شوه. (فتطاول عليهم العمُرُ). الايه

تطاول اِلى الشيء: د شي د ليدو له پاره غاړه ور غزول. تطاول الى البئر.

تطاول على زميله: پر خپل همصنفي يې زورزياتى وکړ، اهانت يې وکړ.

تطاول على حقوق غيره: د نورو حقوق يې تر پښو لاندې کړل.

استطال الحائط: لويې وګاني.

سمح له بالدخول: د ننوتلو اجازه يې ور کړه.

لا سمح الله: دعا ده، يعني خدای دې کې نه کوي.

سمُح الشخصُ: مهربان او اساني کوونکی شو.

(٩)

كُنْ أحَدَ السَّبْعَةِ

د اوو يو شه

(١)

كانَ اليومُ الخامِسَ عشر مِن شهرِ يُونِيُو يوماً شَدِيدَ الحرِّ ، وكان يومَ عُطْلَةٍ . فكـان محمـودٌ واحمـدُ وعـثمانُ في البيـتِ ، وكـانوا مع أبيهم في الساعةِ الثانِيَةِ في النهارِ، وكـانُوا يتَـأفَّفُون مِـنَ الحَـرِّ ، وَيَتَقَلَّبُـون علـى الفِـراشِ كـأنَّهم على الجمرِ.

قالَ محمودٌ: يـا لطِيـفُ! مـا أشـدَّ الحرَّ!

قـالَ أبـوهم سُـليمانَ: أتَعْـرِفُ يـا محمـودُ! كَـمْ تَبْعُـدُ الشَّـمسُ مِـنَ الأرضِ؟.

محمودٌ: لا يا أبي! ولكِنِّيْ أعـرِفُ أنَّها بَعِيدةٌ جِداً.

د جـون د مياشـتي پنځلسـمه ورځ نهايـت ډېـره ګرمـه او دغـه ورځ د رخصتۍ هم وه. نو محمود، احمد او عثمان په کور کي وو، د ورځي دوې بجي وې. دوی له خپل پلار سره وو، لـه ګرمـی يـې اوف اوف کـول، پـر خپلو بسترو کـي لـټ پـر لـټ کېدل لکه پر سکروټو چي پراته وي.

محمود ويل: لطيفه! دا څومره ګرمي ده!

پـلار يـې سـليمان ويـل: محمـوده! پوهېږې چي لمر له ځمکي څومره لرې دی؟

محمود: نه، پلاره! خو دومره پـوهېږم چي بې حده لرې دی.

سـليمان: پـه ښـوونځي کـي بـه يـې ولولئ چي لمر له ځمکي څه باندې نوي (۹۰) مليـونـه کيلـوميتره واټـن

سُليمانُ: سَتَقرأُ في المدرسةِ أنَّ الشَّمْسَ تَبْعُدُ مِنَ الأرضِ أكْثرَ مِنْ تِسْعِينَ مَلْيوناً مِنَ الأميالِ ، والحَرُّ كَمَا ترى ، فكيفَ إذا دَنَتِ الشَّمْسُ حَتَّى تَكُونَ مِقْدَارَ مِيلٍ؟!

محمودٌ: العِيَاذُ باللهِ! ومتَى هذا يا أبيْ؟

سُليمانُ: ذلك يا بُنَيَّ يومَ القِيَامَةِ ،يومَ يَقُومُ النَّاسُ لِربِّ العَالَمِين.

أحمدُ: وكيفَ النَّاسُ يومَئِذٍ يا أبتِ؟.

سُليمانُ: يكونُ الناسُ على قدرِ أعمالِهم في العَرَقِ ، فَمِنْهم مَنْ يكونُ إلى كَعْبَيْهِ ، وَمِنْهم مَنْ يكونُ إلى رُكْبَتَيْه ، وَمِنهم مَنْ يكونُ إلى حَقْوَيْه ، ومنهم مَنْ يُلْجِمُهُ العَرَقُ إلْجَاماً.

عُثْمانُ: أوَلَيسَ هُنالك ظِلٌّ أو مكانٌ يَسْتَظِلُّ بِهِ النَّاسُ؟

لري، ګرمي یې تاسو دلته وينئ چې څنګه ده، نو هغه وخت به څنګه وي چې څه وخت لمر د يوه کيلوميتر په اندازه را ټيټ شوی وي؟!

محمود: العياذُ بالله! پلاره! دا کله؟

سليمان: زويه! دا د قيامت په ورځ، هغه ورځ چې خپل د جهانيانو پالونکي ته دريږي.

احمد: پلاره! هغه ورځ به خلک څنګه وي؟

سليمان: خلکو به د خپلو اعمالو په اندازه خولو کي ډوب وي. څوک به تر بجلکو په کي ډوب وي، د چا به تر ګوندو رسيږي، د چا به تر نامه يا ملابنده رسيږي او څوک به هم تر خولې په کي ډوب وي.

عثمان: ايا هلته سيوری نه شته يا سيوری لرونکی ځای چې خلک يې سيوري ته کښني؟

سليمان: ولې نه، زويکيه! همالته سيوری شته، چې يوازې اووه کسان دا نعمت تر لاسه کولای شي.

سُليمانُ: بَلى يا ولَدِي! فَهُنالِكَ ظِلٌّ لا يَنْعَمُ بِهِ الاّ سَبْعَةٌ مِنَ الرِّجالِ.	ماشومان: زموږ پلار جانه! دا اووه بختور به څوک وي؟ گوندي موږ هم هڅه وکړو، چې د هغوی له ډلې شو.
الأولادُ: وَمنْ أُولئكَ السُّعَداءُ يَا أبانا؟ لَعَلَّنا نَجْتَهِدُ أنْ نَكُوْنَ مِنهم.	
سُليمانُ: يَا أولادِي! يَنْبَغِيْ لِكُلِّ مُسْلِمٍ أنْ يَجْتَهِدَ أنَ يكونَ أَحَدَ السَّبْعَةِ ، وأَنَا أَعُدُّ لكم أولئكَ السَّبْعَةَ:	سليمان: زما بچيانو! هر مسلمان بايد هڅه وکړي چې له همدې اوو کسانو څخه يو شي، زه تاسو ته دغه اووه کسان په شمار در ښيم:
١ـ اِمامٌ عادِلٌ.	١ـ اِمام عادل.
وَقطَعَ عَلَيْهِ أَحَدُ الأَوْلادِ ، وقال: وَمَنْ هُوَ الاِمامُ ، أهَذا الذي يُصَلِّيْ بِالنَّاسِ؟	ماشومانو يې خبره ور پرېکړه، ويې ويل: کوم امام، دغه چې خلکو ته لمونځ ور کوي؟
سُليمان: هُوَ أيْضاً على خيرٍ ، لكِنَّ المُرَادُ هُنَا أميرُ المُسلِمنينَ.	سليما: هغه به هم په خير وي، خو دلته له امام څخه موخه د مسلمانانو امير دى.
وَابْتَدرَ الأولادُ ، وقالُوا: قَدْ فَهِمْنَا ، هَذَا كَالخُلَفَاءِ الأربعةِ ، وعُمَرَ بنِ عبدِ العَزِيزِ ، وقد سَمِعْنا كَثِيراً مِنْ حِكَايَاتِهم مِنْ أُمِّنَا.	ماشومانو په تلوار ويل: موږ پوه شو، دا لکه څلور گوني خلفاء او يا عمر بن عبد العزيز، موږ له خپلې مور څخه د دوی ډېرې کيسې اورېدلې دي.

د الفاظو تشريح:

يتأففون: د تفاعل له بابه مضارع معلومه جمع مذكر غائبه ده: له گرمی یا د ناوړه کار له امله اوف ویل، ږغ یا زیگروی کول، بد گڼل.

مِیل: په اوږدوالي د واټن د کچلو مقیاس دی چې تقریبا (١٦٠٩) متره کېږي. أمیال او مُیُول یې جمعې دي.

مَلیون/مِلیُون(Million): لس لکه، ملایین یې جمع ده. لمر له ځمکې څخه (١٥٠) میلیونه کیلومتره واټن لري. او تر ځمکې یې رڼا په اتو دقیقو کې را رسیږي، رڼا/برېښنا په یوه ثانیه کې درې لکه کیلومتره واټن وهي.

سُعَداء: د سعید جمع ده، سعید د (ض) له بابه صفه مشبه ده: نېکمرغه، خوشبخته، خوشاله، خوښ. عکس یې شقيّ دی.

حَقْو: د ملابند یا واګې ترلو ځای، تر کوناټو ور لوړه برخه. أحقاء یې جمع ده.

نوي لغات:

حظٌ سعید: هغه چا ته ویل کېږي چې د توفیق هیله ورته لرو. مزید توفیق، یا توفیق دې په برخه.

سعید الذکر: په ښو یاد، مړ شوی کس چې ښه یاد شي.

یومٌ سعید/عام سعید/عید سعید: مبارک، بختور، نېکمرغه.

مِلْیار (Milliard): زر میلیونه. بیلیون هم ورته وایي. ملیارات یې جمع ده. زاد سکّان الصّین علی ملیار نسمة. الأغنیاء أصحاب الملیارات.

تریلیون(Trillion): زر (١٠٠٠) میلیارده یو تریلیون کېږي.

أخذ بِحَقْو أبیه/ عاذَ بِحقو أبیه: پنا یې ور څخه وغوښته، منګولې یې پر ولګولې.

(١٠)

كُنْ أحَدَ السَّبْعَة

د اوو يو شه

(٢)

٢ـ قال سُليمانُ: والثَّاني يا أولاديْ! شَابٌ نَشَأَ في عِبَادةِ اللهِ تعالى. هُنالِك وَقَفَ الشَّيْخُ. وقال: يمْكِنُ كُلَّ واحِدٍ مِنكم يا أولادِي! أنَّ يكونَ ذلك الشَّابَّ السَّعِيدَ. ولكِنْ اِذا ضَيَّعْتُم فُرْصَةَ الشَّبَابِ. فَلِيسَ لكم اِلاَّ الحَسْرَةُ والنَّدامَةُ.	٢ـ سليمان ويل: ماشومانو! دويم. هغه خوان دی چي په الهي عبادت كي را ستر شي. دلته شيخ تم شو. وبې ويل: اې ماشومانو! له تاسو هر يو كولاى شي چي دغه نېكبخته ځوان شي، خو كه مو د ځواني فرصت وبايلود، نو بيا به له پښېماني او افسوس پرته هيڅ در پاته نه وي.
٣ـ رَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ فِي المَسَاجِدِ. قال الأولادُ: هو كالشيخ عبدِ الغَنِيِّ في حَيِّنَا. فانّه لا يَرْتَاحُ الاَّ الى المسجدِ. ولا تفوتُه جَمَاعةٌ. ولا نَظُنُّهُ اِلاَّ في المسجدِ.	٣ـ هغه كس چي زړه يې له مسجد سره پيوند وي. ماشومانو ويل: لكه زموږ د كلي شيخ عبد الغني. هغه نه يوازي په جوماتـ كي ارام كولاى شي. هيڅ جماعت ور څخه نه تېرېږي او زموږ دا گومان دی چي هغه به په مسجد كي شپه تېروي. سليمان ويل: نه. اې ماشومانو! مطلب مي دا دی چي د لمانځه او جماعت

قال سليمان: لا يا أولاديْ! ولكِنَّهُ مُحَافِظٌ على الصلاةِ والجَمَاعَةِ ، وَقدْ أخْبَرَنِي أنَّـهُ ما فَاتَتْـهُ صَلاةٌ في جماعةٍ مُنذُ عشرِ سَنَوَاتٍ أو أكْثَرَ.	حفاظت به کوي. اما عبد الغني ما تـه ويلي دي چي له تېرو څه باندې لسو کلونـو څخـه يـې هـيڅ لمـونځ بـې جماعته نه دی کړی.
۴ـ رَجُلانِ تَحَابًا في الله ، اِجْتَمعا عليه ، وتَفَرَّقَا عليه.	۴ـ هغه دوه کسان چي د الله لـه پـاره يـې تـرمنځ مينـه و محبـت وي. پـر همدې الهي مينه سره را ټولېږي او پر همدې سره جلا کېږي.
وَاِذا أرَدْتُـمْ أنْ تَـرَوْهُما ، فَـانْظُرُوا اِلَى الشَّيْخِ صالحٍ والشَّيخِ حمزةَ ، فهـذا مِـنَ الهِنْـدِ ، وذلـک مِـنْ بُخارى ، وَهُمَا أخَوَانِ في الله.	کـه غـواړئ دغـه دوه دوه کسـان ووينئ. نو شيخ صالح او شيخ حمزه وگورئ. دغه لومړی يې د هند دی او هغـه دويـم يـې د بخـارا. دوی دوه د الله له پاره سره ورونه دي.
ويمْكِنَ كُلّ واحدٍ منكم أنْ يَنالَ هذه الفَضِيْلَةَ ، وذلک بِأنْ يَخْتَارَ مِنْ صَـفِّهِ ورُفقَتِـه الصَّالحَ مِـنْ الأولادِ فَيُصـادِقهُ ، ويَجْتَهِـدُ أن تكونَ صَدَاقتُهُ لِلدِّيْنِ.	له تاسو هم هر يو کولای شي چي دغه فضيلت تـر لاسه کړي؛ ښکه کولای شي چي له خپل ټولگي يـا ښـو ملگـرو څخه ښېنې ماشـومان ملگـری تـه غوره کړي. هڅه دې وکړي چي ملگـري يـې د دين په خاطر شي.
۵ـ ورجلٌ اقْتدى بِيُوسُفَ (عليـه السلام) في العِفَّـةِ والأمانَـةِ ، وقـد سَمِعْتُم قِصَّتَه.	۵ـ او هغـه څـوک چـي پـه پـاکلمنی و امانتـداري کـي د يوسـف عليـه السلام پيرو شي. تاسو د هغه کيسه اوريدلي ده.

قال الأولادُ: نعم!

٦ـ: ورجلٌ تصدّقَ بصدقةٍ فأخفَاها حتى لا تعلمَ شِمالُهُ ما تُنْفِقُ يمينُه.

وذلك مِثلُ جدِّكم، فإنّا لم نَعرفْ برَّهُ وإحْسَانه إلى المساكِين والضَّعفَةِ مِنَ المسلمين إلاّ بعد وفاته، فقد جاءَتِ العَجَائزُ والأرامِلُ يبْكِيْنَهُ، ويذكُرْنَ خيرَه وبِرَّهُ. وقَدْ أخبرَني أشرَافٌ مِنْ أهْلِ هذا الحَيِّ أنّه كان يُوَاسِيهم، ويَصِلُهم بمعروفٍ كُلَّ شهرٍ، ولم نَعْلَمْ ذلِك أهلَ البيتِ.

٧ـ: ورجلٌ ذكرَ اللهَ خالياً فَفاضَتْ عَيناه:

قال الأولادُ: أمّا نحنُ فنجتَهِدُ جميعاً أنْ نكونَ شُبّاناً نَشَؤُوا في عِبادةِ الله تعالى، ونجتهِدُ في غيرِ ذلك مِنَ الفضائلِ أيْضاً، ولَعَلَّنا يا

ماشومانو ويل: هو!.

٦ـ: بل هغه کس چي دومره پټه صدقه وکړي چي چپه لاس یې د راسته لاس په خیرات خبر نه شي.

دا لکه ستاسو نیکه. موږ له مسکینانو او کمزورو مسلمانانو سره د هغه په نیکي او احسان د ده تر مرګ وروسته خبر شو. هغه وخت چي بوډۍ او کونډې میرمنې راغلې ژړل یې، د هغه ښېګڼه او نیکي یې یادوله. د دغه کلي مخورو ما ته خبر راکړ چي هغه ورسره خواخوږي و همکاري کوله. له هغوی سره یې هره میاشت ښېګڼه کوله. موږ کورنۍ یې په دې هیڅ خبر نه وو.

٧ـ: هغه کس چي تنهایي کي د الهي ذکر په کولو یې اوښکې را توی شي.

ماشومانو ویل: موږ به ټول هڅه وکړو چي په الهي عبادت کي ستر شو او له دې پرته به د نورو فضیلتونو د لاس ته راوړلو هڅه هم وکړو. اباجانه! که له دې خویونو څخه څو یې موږ په خان کي

أبانا اذا جَمَعْنَا مِنها خِصالاً تَنَالُ بها مكاناً خَاصّاً في ذلک الظِّلِّ أيضاً . فَفرقٌ بَيْنَ مَنْ يأتي بِفضِيلةٍ ، وبين من يأتي بِفضائلَ. سُليمان: هو كذلک «اِنَّ اللهَ لا يُضِيعُ أَجْرَ المُحسِنِينَ . ولا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئاً».	پيدا كړو. په دې سره ستايی موږ هم هغه سيوري كې يو خانګړی ځای ومومو. ځكه هغه څوک چې يو فضيلت راوړي او هغه چې له ډېرو فضايلو سره راشي، ترمنځ يې لوی توپير شته. سليمان ويل: همداسې ده «بېشكه الله د نېكانو اجر نه ضايع كوي او پر هيڅ نفس به ظلم نه كيږي».

د الفاظو تشريح:

أرملة: كونډه، هغه ښځه چې مېړه يې مړ وي، أرامل يې جمع ده.

العجائزُ: صفت مشبه ده، د مذكر او مونث دواړو له پاره كاريږي. مفرد يې عجوز دی.

نجتهدُ: د افعال له بابه مضارع معلومه جمع متكلم دی: ډېر كوښښ. په ټول توان كار.

خِصال: انساني خويونه، ښه وي كه بد. يو قول دا دی چې خصال ښو ته كاريږي او خلّة عام دی. مفرد يې خَصْلَة دی. نورې جمعې يې خَصَلات او خَصْلات دي.

نوي لغات: ذو خِصالٍ حميدةٍ/ ذو خِصالٍ طيِّبَةٍ: د ښو اخلاقو خاوند دی.

اِجتهد في الأمر: په كار كې يې خپل ټول توان مصرف كړ. يا هم يو شرعي حكم يې راوړی.

يقوم بجهده قدر المستطاع: هغه خپل وس نه سپموي.

رجلٌ عجوزٌ أو اِمرأةٌ عجوز: سړی يا بوډۍ ميرمن. (وقالتْ عَجُوزٌ عقِيمٌ).

رِجالٌ عقماءُ: بې خيره كسان.

(١١)

العَينُ

سترګه

(١)

العَينُ مِن عَجائِبِ صُنْعِ اللهِ تعالى . فقد خَلَقَهَا اللهُ تعالى مِرْآةً صافِيَةً تَتَحرَّكُ يَمِيناً و شِمالاً ، وَفَوقُ وتَحْتُ . يَنظُرُ بِها الانسانُ اِلى جميعِ الجِهاتِ . ثمّ وَضَعَها في مَحْجَرٍ صُلْبٍ مِنَ العَظْمِ . وجَعَلَ عليها مِنَ الجُفُوْنِ غِطَاءً يَحْفَظُها مِنَ الأذى . وَحَاطَهَا بِأَهْدَابٍ مِنَ الشَّعْرِ لِتكونَ سِياجاً يَذُبُّ عنها الذُّبابَ و البَعُوضَ و الغُبارَ الّتي تَدْخُلُ العينَ . فَتُسَبِّبُ لَها الأَلَمَ والمَرَضَ وَسَلَّطَ علَيها ماءً جارِياً تَغْسِلُ ما يَدخُلُ فيها مِنَ الأوْسَاخِ. والعينُ عُرْضَةٌ لِكَثيرٍ مِّنَ الأمْرَاضِ، كالرَّمَدِ و قِصَرِ النَّظرِ ، و قد عمّ هذا المرضُ الأخِيرُ في

سترګه يو جالب الهي صنعت دی. الله تعالى هغه يوه روښه هنداره پيدا کړې ده چې راسته و چپه. لوړ او کښته حرکت کوي. انسان په هغې سره هر لور ته کتلای شي. بيا يې د هډونو په يوه خوندي ځای کې کښېښوده. برسېره يې نرمې پردې پر واچولې چې له اذيت څخه يې وساتي. ورسره خوا کې يې د وېښتانو دېوال پر ودراوه چې له مچانو. غوماشو او هغو دوړو يې خوندي کړي چې سترګې ته ننوزي. چې ورته د درد او ناروغتيا سبب کېږي. د روانو اوبو چينه يې پرې را خوشې کړې ده څو يې له ورغلو خيرو څخه ومينځي.

سترګې ته ډېرې ناروغۍ ور پېښېږي. لکه: د سترګې پاړسو و درد. يا هم د

هذا الزّمـان . فَلَجَأَ النـاسُ حتّـى الأطفـالُ إلـى اسْـتِعْمالِ مِنْظَـرَةٍ . ولِلاجْتِنـابِ عـن هـذه الأمـراضِ يَحْسُـنُ الاعتـزالُ عَـنِ الغُبـارِ والأتربـةِ ، و يَحْسُـنُ التَّجَـوُّلُ في الأمَاكِنِ الفَسِـيحَةِ . وكَـثْرَةُ غَسْـلِ الوجه بالماءِ الصّافِيْ ، فَإنّهُ يَجْلُـو العـينَ و يُنَقِّيهـا مِـنَ الأوسَـاخِ والقَـذَى . ولِـذلكَ كـانَ الوُضُـوءُ خمسَ مراتٍ كُلَّ يـومٍ ـ خُصُـوصاً في الصَّبَاحِ عِندَ القِيامِ ـ نَافِعاً جِداً. و مُواصَلَةُ القِـراءَةِ لَيْلاً في النـورِ الضَّـعيفِ تُـؤَثِّرُ في النَّظَـرِ تـأثِيراً كبِيراً ، وَ تَضُرُّ ـ بـه ضَرَراً عَظِـيماً ، فَعَلـى مَـنْ ألْجَأتْـهُ الضَّرُورةُ إلـى ذلك أنْ يَسْتَعْمِلَ مِنَ المَصَـابِيْحِ ما كان ذا نـورٍ رائـقٍ مُعْتَـدِلٍ غَـيْرِ سَاطِعٍ وَّ لا ضَعِيفٍ. والعَينُ جَوهَرَةٌ غَالِيَةٌ لا يُمكِـنُ أن	ديد کمی. زموږ په پېر کې د سترګو د کم دید ناروغي زياته شوې ده. له دې امله خلکو آن ماشومانو هم د عينکو استعمال ته پنا وړې ده. له دې ناروغيو د خونديتوب له پاره په ښه وي چې له دوړو او ګردونو ګوښيتوب غوره شي. په پراخو ځايونو کې رفت امد وشي. مخ ښه ډېر په پاکو اوبو ومينځل شي. ځکه مينځل سترګه روښانه کوي او له خيرو و چوخړو يې پاکوي. له دې امله نو د ورځي پنځه واره اودس. په خاص ډول سهار چې له خوبه پاځيږي. د سترګو له پاره بې حده زيات ګټور دی. په کمزورې رڼا کې د شپې لوست کول. هم د سترګو پر دید ډېر ناوړه اغېز کوي او لوی زيان ورته لري. که څوک د شپې لوست ته اړتيا ولري. نو بايد هغه څراغ استعمال کړي چې غوره معتدله رڼا ولري. نه ډېره تېزه وي او نه هم کمزورې. سترګه هغه قيمتي جوهر دی چې ته

تُشْتَرَى بالمَالِ ، وبِهَا يَتَمَتَّعُ الإنسانُ بِجَمالِ الطَّبِيَة ، ويَقْضِي بها حاجاتٍ في نَفْسِه ، ويَكُونُ عُضْواً عامِلاً مُفِيداً مِنْ أعضاءِ الأُسرةِ الإنسانيّةِ ، وإذا فَقَدَ الإنسانُ بَصَرَهُ حُرِمَ شيئاً كثيراً مِن نِعَمِ الدُّنيا ومَحاسِنِها ، فَكَأنَّما أظْلَمَ له العالمُ ، وكان كَلَّاً على غَيْرِه ، ورُبَّما كان عِيَالاً على عَصاً حَقِيرةٍ لا يَمْشِي بِغَيْرِها.	بې په مال نه شي رانيولاى. د همدې په وسيله انسان د طبيعت له ښکلا خوند اخلي. په همدې سره د خپل نفس اړتياوې پوره کوي. نو دا د انساني بدن د اعضاؤ له کورنۍ څخه يو فعال ګټور غړى دى. که انسان د سترګو له ديد څخه بې برخې شي. نو د دنيا له ډېرى نعمتونو او ښکلا هم محروميږي. نو ګواکې نړى هغه ته تياره شوه. دى به پر نورو بوج وي او پر يوه کمزورې لکړه به تکيه کوي. چې له هغې پرته به نه شي تللاى.

د الفاظو تشريح:

فَسِيح: د «ک» ل بابه اسم مصدر دى: پراخ. خلاص. ازاد. ستر. اسانه.

الرَّمد: د سترګو ناروغي ده چې لـه دردونـو سره وپړسيږي. تګې سرې شي او اوبه و چوخړې کوي.

عِيّل: هغه څوک چې پر بل تکيه وي. فقير. عِيال يې جمع ده.

مخجَر: د سترګې شاوخوا. هغه خاى چې سترګه په کې ږدل شوې ده. ډبرين خاى.

قَذىً: د سترګو سپين خيرې. چوخړې. أقذاءٌ او قُذِيٌّ يې جمعې دي.

نوي لغات: مستشفى الرَّمد: د سترګو روغتون.

هو عِيال على غيره: تکيه يې پر بل ده. چارو کې خپلواک نه دى.

المِحْجَر الصِّحّيّ: هغه ځاى چې د سرايت کوونکې وبا مريضان په کې ساتل کيږي.

(١٢)

العَينُ

سترګه

(٢)

وِلذلكَ كانتِ العينُ ثَمِينَةً غَالِيَةً ونِعمَةً جَلِيلةً ، حتّى قال النبيُّ ص: اِنَّ اللهَ عزّ وجلّ قال: اِذا ابْتَلَيْتُ عبدِي بِحَبِيبَتَيهِ فَصَبَرَ ، عَوَّضْتُهُ مِنهما الجنّةَ ، يُريدُ عَيْنَيه.	له دې امله سترګه ډېره قيمتي او لوی نعمت دی، حتا رسول اکرم صلی الله عليه وسلم ويلي چي الله تعالی وايي: که مي زه بنده په دوو سترګو امتحان کړم، هغه صبر وکړي، نو د دواړو سترګو بدل به يې جنت ور کړم. هدف يې له «حبيبتي» نه سترګې دي.
ولاَ يَلْزَمُ أن يكُونَ الاِنسانُ اِذا فَقَدَ بَصَرَهُ عَاطِلاً ضَائِعاً ، فَلَقَدْ فَاقَ كثيرٌ مِنَ العُميانِ كثيراً مِن أهلِ البصرِ في العِلم ، وأقَرَّتْ لهمُ الدنيا بِالفَضلِ ، كالمُفَسِّرِ قتادةَ ، والمُحَدِّثِ حمّادِ بنِ زيدٍ، والفَقِيهِ زُبَيْرِ البَصْرِيِّ ؛ والنَّحْوِيِّ أبي جعفرٍ ، والأدِيبِ أبي العلاءِ المَعَرِّيِّ ، والشَّاعِرِ بَشّارِ بْنِ بُرْدٍ ، واِمامِ التَجْوِيدِ الاِمامِ الشّاطِبِيِّ.	دا نه ده ضروري چي بې سترګو انسان نو بيکاره و ضايع شو. واقعيت دا دی چي ډېری ړانده کسان په علم کي تر سترګورو اوچت شوي دي. نړی هم د هغوی فضيلت منلی دی. لکه مفسر قتاده، محدث حماد بن زيد، فقيه زبير البصري، نحوي ابو جعفر، اديب ابو العلاء المعرّي، شاعر بشّار بن بُرد او د تجويد امام علامه شاطبي.
	د دې نعمت دا حق دی چي انسان يې وساتي، د الهي محارمو په ليدو

ومِنْ حقِّ هـذِهِ النِّعمـةِ أن يُحـافِظَ عليهـا الانسـانُ وأنْ يَضِـنَّ بِهـا عـنْ مَحَارِمِ اللـهِ ، فانّـه سُبْحانه وتعـالى «يَعْلَـمُ خَائِنَـةَ الأَعْيـنِ ، وَمَـا تُخْفِـي الصُّدُوْرُ».	کي بخل په وکړي، ځکه بېشکه چي الله تعالی ته د سترګو خیانت او هغه څه چي زړه کي زیرمه کېږي، ور معلومېږي.
ومِن حقِّها أن يَستَعْمِلَها في طاعةِ اللهِ ، وأن يُرِيْقَ دَمْعها في خشيَةِ اللهِ، وقد جَاءَ في الحديثِ الشـريفِ: «ليس شيءٌ أَحبَّ الى الله مِنْ قَطْرَتَيْنِ وأثرَيْنِ: قَطْرَةِ دُمُوعٍ مِن خَشْيَةِ الله ، وقَطْرَةِ دَمٍ تُهْرَاقُ في سَبِيلِ الله ، وأمّا الأثرانِ: فأثَرٌ في سَبِيلِ الله ، وأثـرٌ في فريضَةٍ مِنْ فَرَائِضِ اللهِ».	بل حق يې دا دی چي الهي اطاعت کي استعمال شي. له هغې د الهي خشیت له پاره اوښکي را توی شي، په یوه حدیث کي راغلي دي: الله تعالی ته دوه څاڅکي او دوه اثار ډېر خوښ دي: یو هغه څاڅکی اوښکه چي له الهي خشیته را توی شي او بل هغه څاڅکی وینه چي په الهي لار کي توی شي. له دوو اثارو څخه یو یې د الهي لارې اثر دی او بل یې د الهي فرایضو د یوې فریضې اثر دی.
وكان النّبيُّ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ في دُعائِه: اللّهُمَّ اِنّي أَعُوذُ بِكَ مِن علمٍ لا يَنْفَعُ ، ومِن قَلْبٍ لا يَخْشَعُ ، ومِن نَفْسٍ لا تَشْبَعُ ، ومِن عَيْنٍ لا تَدْمَعُ ، ومِنْ دُعاءٍ لا يُسْمَعُ ، ومِن دَعْوَةٍ لا يُسْتَجَابُ لها.	پیغمبر علیه السلام به دعا کي ویل: اې الله! تاته له بې ګټې علمه، له نه دارېدونکي زړه، له نه مړېدونکي نفسه، له نه ژړېدونکې سترګې، له نه قبلېدونکي دعا او هغې دعا چي هیڅ خواب یې نه ور کول کېږي؛ پنا در وړم.

د الفاظو تشريح:

فاقَ: د «ن» له بابه ماضي معلومه ده: اوچت، مخته کېدل، برلاسي.

يَضِنُّ: د «ض» له بابه مضارع معلومه واحد مذکر غائب دی: بخل کول، ساتل.

نوي لغات:

فاق أصحابه: پر خپلو ملګرو برلاسی شو، تر مخته شو.

کان عددهم يفوق الخمسين: شمېر يې تر پنځوس اوړي.

الحِکمة تفوق الغنی: حکمت پر شتمني غوره/لوړ دی.

ضننتُ بالمال: بخل مي په وکړ.

ضنّ بالمکان: ويې ساتی، پرې يې نه ښود.

(١٣)

أَدَبُ المُعَاشَرَةِ

تولنيز اداب

أَسْلُكْ مَعَ النَّاسِ الأَدَبْ	تَرَ مِنَ الدَّهْرِ الْعَجَبْ
وَلاَ تُطَاوِلْ بِنَشَبْ	ولاَ تُفَاخِرْ بِنَسَبْ
العِزُّ فِي الأَمَانَة	وَالْكَيْسُ فِي الفَطَانَة
لا تُغْضِبِ انجَلِيْسا	لاَ تُوْحِشِ الأَنِيْسا
لا تُكْثِرِ العِتَابا	تُنَفِّرِ الأَصْحَابَه
فَكَثْرَةُ المُعَاتَبَة	تَدْعُوْ الِى المُجَانَبَه
وإن حَلَلْتَ مَجْلِسا	بَيْنَ سَرَاةٍ رُؤَسا
فَاقْصِدْ رِضا الجَمَاعة	وكُنْ غُلاَمَ الطَّاعَة
وَقُلْ مِنَ الكَلاَمِ	مَا رَاقَ بِالمَقَامِ
كَرَائِقِ الأَشْعَارِ	وَطَيِّبِ الأَخْبَارِ
وَاتْرُكْ كَلاَمَ السَّفَلَة	وَالنُّكَتَ المُبْتَذَلَة
ولا تَكُنْ مِلْحَاحا	واجْتَنِبِ المزَاحا
فَكَثْرَةُ المُجُوْنِ	نَوْعٌ مِنَ الجُنُوْنِ

ترجمه:

له خلكو سره په ادب چال چلند كوه. د زماني جالبي به ووينې. په مـال غـرور مه كوه. او په نسب فخر مه كوه. درندوالى پـه امانـت كـي دى او ذهنـي وړتيـا ځراكت دى. ملګري ته مه غوسه كيږه او لـه مينـه كـوونكي سره خشـونت مـه كـوه. ډېره ترټنـه مـه كـوه. پـه دې سره بـه ملګـري جـلا كـړي. زياتـه ترټنـه د

گوښتوب سبب کيږي، که د شريفو مخورو مجلس ته ورغلې. نو د تولی رضا غواړه او د مربيي په شان اطاعت وکړه، کې خبرې کوه چې له خای سره مناسبې وي. لکه خوندور شعرونه او غوره کيسې، د احمقانو خبرې پرېږده او هم ناوړه لطيفې، ډېر سوال کوونکی او مسخراچي مه جوړېږه، ځکه زياتې مسخرې د لېونتوب يو ډول دی.

د الفاظو تشريح:

أمانة: د «ن» له بابه مصدر دی: امانتداري، د ژمنې پوره کول، د ور کړې شي ساتنه.

مُجُون: اسم مصدر دی: بې حيا، مسخره اميزه خبرې، گپې، توکي ټکالې.

نَشَب: د «س» له بابه مصدر دی: مال او جايداد، پاربدل، واقع کبدل، مبتلبدل.

الكيس: هوښياري، ځراکت، عقلمندي، أكياس يې جمع ده.

الفَطَانة: لرليد، مهارت، حکمت، ښه ذهني وړتيا. فِطنات يې جمع ده.

سراة: مفرد يې سَرِيّ دی: شريف، غوره.

مِلْحاح: د مبالغې صيغه ده: ډېر اصرار کول، هر وخت ډېر پوښتنې کول.

نوي لغات:

قد مجنتَ فاسكت: سنجيده پاته نه شوې، خاموش شه.

نشِب الأمرُ: واقع شو، يا ډندوره شوه. نشب حريقٌ: اور بل شو. نشب فلانٌ منشب سوء: هغه ځه کې ومښت چې ور ځخه خلاصون نه لري. نشب الصيدُ في الحِبالة: ښکار په جال کې ومښتی.

سحاب مِلحاح: تل باران کوونکې وريځ.

(١٤)

عِيدُ الأضحى

لوی اختر

كانَ اليَوْمُ الأخيرُ مِنْ شَهْرِ ذي القَعْدَةِ ، وكانَ اليومُ التَاسِعُ والعِشرونَ مِنَ الشهرِ ، رأى والِدِيْ الهِلالَ ، وكان دَقِيقاً جِداً ، وما رَأَيْتُهُ الاّ بِاجْتِهادٍ وَبَحْثٍ ، وَرَأَيْتُ والِدي يَقُولُ ويَدْعُوْ ، قُلْتُ له: ماذا تَقُولُ في دُعَائِكَ يا أبي؟ قال والدي: اِنَّ النَّبِيَّ ص كان اِذا رأى الهِلالَ قالَ: «اللّهُمَّ أَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالأمنِ وَالاِيمانِ والسَّلامَةِ والاِسْلامِ ، رَبِّيْ وَرَبُّكَ اللهُ ، هِلالَ رُشْدٍ وخَيْرٍ.» فَتَعَلَّمْتُهُ مِنْ والدي وَحَفِظْتُهُ. وَظَنَنْتُ أنَّ العيدَ غَداً ، فأخْبَرَنِي أبي أنَّ العِيدَ بعدَ تِسْعَةِ أيّامٍ ، فانَّ	د ذي القعدي مياشتې وروستی ورخ وه، د مياشتې ۲۹ تاريخ و، زما پلار سپوږمی ولیده، هغه ډېره باریکه وه، تر ډېر کوښښ او لټون وروسته يې ولیده، ما مي پلار ولید چي تر ليدو وروسته يې دعا کوله، ما ورته ويل: پلار جانه! په دعا کي دي څه ويل؟ زما پلار ويل: رسول اکرم صلى عليه عليه وسلم چي به سپوږمی وليده ويل به يې: اې الله! پر موږ يې په امن، سلامتيا د ايمان حالت او اسلام کي را وخېژوه، زما او ستا پالونکی الله دی، د هدايت او ښېګڼې سپوږمی دې شي. ما مي له پلار څخه دا دعا زده او ياده کړه. زما دا فکر و، چي سبا نو اختر دی، خو پلار مي پوه کړم چي اختر نهه

عِيدَ الأَضحَى اليَوْمُ العَاشِرُ مِنْ شهرِ ذي الحِجَّةِ.

وفي اليومِ الثَّامِنِ مِنَ الشهرِ عُطِّلَتِ المدرسةُ، وَأَخبرَني المُعَلِّمُ أنَّ الحُجَّاجَ يذهبُون اليومَ اِلى مِنَى حيثُ يَبِيْتُونَ، وهذا اليومُ يُسَمَّى يومَ التَّروِيَةِ.

وفي صَبَاحِ اليومِ التَّاسِعِ، وهو يومُ عَرَفَةَ، يَذْهَبُ الحُجَّاجُ اِلى عَرَفَاتٍ، ويظَلُّون هُنالك يدعُون وَيَذْكُرُونَ اللهَ، ويذهبُونَ مِنها اِلى المُزْدَلِفَةِ ويَبِيْتُون هُنالك، وفي صَبَاحِ اليومِ العاشِرِ يَرجِعُون الى مِنى ويَنْحَرُون، وذلك يومُ النَّحْرِ وهو يومُ العِيدِ.

وكان أبِي اشْتَرَى بَقَرةً سَمِيْنَةً لِلذَّبحِ، قال: فِيها سَبْعَةُ سِهامٍ: اِثْنَانِ لِي ولِأُمِّكَ، وَوَاحِدٌ لكَ، وَأربَعَةٌ لِأَخَوَيْكَ وَأُخْتَيْكَ.

ورځي وروسته دی؛ څکه لوی اختر د ذي الحجې د میاشتې پر لسمه نېټه وي.

د همدې میاشتې پر اتمه مدرسه رخصت شوه. استاد راته وویل چې نن ورځ حاجیان منی ته ځي. همدلته شپه تېره کړي. نو دغې ورځې ته د التَّروِيَة ورځ وایي.

د نهمې ورځې په سهار، چې د عرفې ورځ کیږي، حاجیان عرفات ته ځي، همالته پاتیږي، دعاوې کوي، الهي اذکار کوي، بیا مزدلفې شریفې ته ځي، همالته شپه کوي، د لسم تاریخ په سهار بېرته منی ته را ګرځي، قرباني کوي، دغه ورځ د قربانی او اختر ورځ ده.

زما پلار د قربانی له پاره چاغ غویی اخیستی، ویل یې: په دې کې اووه حصې دي: دوې زما او ستا د مور دي، یوه ستا ده، پاته څلور دې د ورونو او خوندو دي.

زما پلار به په خپله خوراک او

وكان أَبِي يَعْلِفُها وَيَسْقِيها بِنَفْسِهِ ، وقال: في ذلك فَضِيْلَةٌ وأَجْرٌ.	ښاک ور کاوه، ویل یې: دغه کار فضیلت او ثواب لري.
واليومِ العَاشِرِ غَيَّرْنَا اللِّبَاسَ ، وكان أبي قد أعدَّ لي لِباساً جَدِيداً ، أمّا الحِذاءُ ، فكان حِذاءَ العِيدِ ، وكان نَظِيفاً لم يَتَوَسَّخْ ، كأنّه جَدِيدٌ ، لِأنيِّ ما كنتُ أَلْبَسُهُ إلاّ قَلِيلاً ، وتَطَيَّبَ أبي وَغَيَّرَ اللِّبَاسَ وخرجنا مع الجماعةِ إلى المُصلَّى ، فكبّرَ وهلَّل جَهْراً ، وصلَّى الإمامُ بالناسِ وخَطَبَ ، وذَكَرَ أَحْكامَ الأُضْحِيَةِ ، ورجعنا مِنَ المُصَلَّى بِطريقٍ آخرَ ، وذبح أبي البقرة ، وسمَّى اللهَ وكبَّرَ.	په لسمه ورځ مو جامې بدلې کړې، زما پلار مې راته ښې نوې جامې جوړې کړې وې، پاته شو بوټان. نو هغه مې د تېر اختر وو. پاک وو. خیرن شوي نه وو. سمدم نوي ښکاره کېدل، ځکه ما ډېر کم په پښو کړي وو. پلار مې هم عطر ولګول، جامې یې بدلې کړې، موږ په ډله ییز ډول عیدګاه ته ولاړو. تکبیرونه مو ویل. لا اله الا الله مو په زوره ویله، امام خلکو ته لمونځ ورکړ. خلکو ته یې بیان وکړ. د قربانۍ احکام یې ذکر کړل. بیا موږ له عیدګاه څخه پر بله لار را ستانه شو. نو مې پلار غویی د الهي نوم په یاد او تکبیر سره ذبح کړ.
وَوَزَّعَتْ أمِّي اللَّحْمَ على المساكين والأقاربِ والأصدقاء ، وطَبَخَتْ لنا أيضاً ، فما تَغَدَّينا الاّ بِلحمِ أُضحيَّتنا.	مور مې غوښې پر مسکینانو، خپلوانو او ملګرو ووېشلې. موږ ته یې هم را پخې کړې، غرمنی مو د خپلې قربانۍ پر غوښو وه.
وتَوَفَّرَ كثيرٌ مِنَ اللَّحمِ، فاحتفظتْ	غوښې خورا زیاتې وې. زما مور

به أُمّي وأَيْبَسَتْه . ولم نـزلْ نأكُـلُ من هذا القدِيد مُدّةً طَوِيلةً.

وكانـتْ في أيّـام العيـدِ الثّلاثـةِ مَآدِبُ كثيرةٌ ، وكانـت أيـّامَ أكْـلٍ وشُرْبٍ ، وقـد دعـا أبي ليلةَ يـومِ العيـدِ جماعـةً مِـنْ أصـدقائه وجيرانـه ، وصـنعتْ أمّـي طعامـاً مُلَوّناً ، فأكثرتْ وأطابتْ.

واليـومَ الثـاني كُنّـا ضُيُوفاً عِنـدَ جارِنـا الكـريم: السّـيِّد حسـينِ الطبيبِ ، وكانتْ مَأدُبةً عظِيمةً ، ولم آكُـلْ مِـنَ اللّحـم في طُـولِ الشهرِ ، مَا أكَلْـتُ في ثلاثـةِ أيّـامٍ ولم يَضُرَّ شيئاً.

وكنتُ أسمعُ الامامَ من فجرِ يـومِ عرفةَ الى عصرِ اليوم الأخـيرِ مـن أيّامِ التّشريقِ يعنِـي الثّالـثَ عَشَرَ- من ذي الحِجّةِ يُكَبِّرُ وَيُهَلِّلُ دُبُـرَ كُلِّ صلاةٍ مَكْتُوبةٍ.

وساتلي او وچې يې كړې. بيا مونږ به ډېر وخت همدا وچې كټرې غوړې.

د اخـترو پـه درو ورځـو كـي ډېـرې ميلمسـتياوې وې. دغـه د خـوراک او څښاک ورځي وې. زما پلار د اختر په لومړی شپه خپل يو څه ملګـري او ګاونـډيان را غوښـتي وو. مـور مـي رنګارنګه خوراک چمتو كړی و. هـم ډېر او هم خوندور و.

پـه دويمـه ورځ زمـونږ د قـدر وړ ګاونډي ښاغلي ډاكټر حسين ميلمانـه وو. دا هم ډېره لويـه ميلمسـتيا وه. پـه دې درو ورځو كې مو دومره غوښـې وخوړې چې په خوا مو ټولـه مياشـت نه وې خوړلې.

د عرفې د ورځي له سهاره بيا د ايام تشريق د وورستی ورځي تر مازيګره يعنې د ذي الحجې تر ١٣ تاريخه مې له امام څخه اورېدل چې تكبيرونـه او تهليلونـه يـې تـر هـر فـرضي لمانځـه وروسته ويل.

د الفاظو تشريح:

رُشْد: د «ن» له بابه اسم مصدر دی: د مکلفیت زماني ته رسېدل، هوښ ته راتګ، خپل منزل ته رسېدل، هدایت.

يَعْلِفُها: د «ض» له بابه مضارع معلومه واحد مذکر غائب دی: خوراک ور کول، واښه ور اچول.

تَوَفَّرَ: د تفعّل له بابه ماضي معلومه ده: موجودېدل، ډېرېدل، پوره کېدل

أَيْبَسَتْهُ: د افعال له بابه ماضي معلومه ده: وچول.

القَدِيد: لمر ته وچې شوې مالګينې کترې.

مَآدِب: د مأدبة جمع ده: ميلمستيا.

مُلَوَّناً: د تفعيل له بابه اسم مفعول دی: رنګين.

نوي لغات:

ذهب الحادثُ بِرُشْدِه: پېښې يې هوښ ور ختم کړ. فَقَدَ رُشْدَه: لېونی شو. ثاب فلانٌ الى رُشْده: را په هوښ کي شو.

أَيْبَس المكانُ: وچ شو، واښه يې وچ شول. أيبس القومُ: وچې ځمکې ته شول. أيبس الأرض: د ځمکې واښه وچ شول.

يَقِلُّ اليومَ استعمالُ القديد: نن سبا د وچو کترو استعمال کم شوی.

ظهر فيه اللّونُ: د پختيا رنګ په کي ښکاره شو.

أقلام التلوين: رنګې، بيلابيلې رنګې چي رسام يې په خپل رسم کي استعمالوي.

لَوَّن أفكاره: افکار يې بدل کړل، پر خپله مفکوره ثابت پاته نه شو.

لَوَّن الشَّعرَ: د وېښتانو رنګ يې په نکوريځو بدل کړل.

(١٥)

تَارِيخُ القَمِيصِ

د كميس تاريخ

إِنَّکَ لَبِسْتَ قَمِيصاً جديداً، فَأَبْلِ وأَخْلِقْ! ولكن هل تَعْرِفُ مِنْ تارِيخه شيئاً. هل تعرفُ كم عمِلَ فيه مِنَ الأيدِي، وكم اشْتَغَلَ به الناسُ، وكَمْ تعِبَ فيه العَامِلون، وكَيْفَ وَصَلَ إليک؟ كـان أولُ أمْرِه أنَّ الـزَّرّاع زَرَعَ القُطْنَ وتَحَمَّلَ في زراعته عَنَاءً شَدِيداً، فَإنَّ زِراعة القُطنِ فيها تَعَبٌ عظيم، و شُغْلٌ طَوِيلٌ، حَرَثَ الأرضَ ثلاثَ مراتٍ، أو أكثر، وشقَّ خُطُوطاً، وملأها بالماء، وتَرَكَها حتّى جَفَّتْ، و حَفَرَ في جَنْبِها حُفَراً، ثُمَّ بَذَرَ فيها بُذُوراً مِنَ القُطْنِ قد نَقَعَها بالماءِ لَيْلَةً، ولمّا نَجَمَ النَّبَاتُ	تا نوی کمیس اغوستی دی، بیا یې زړوې، خو ایا د تاریخ په اړه یې هم یو څه معلومات لرې. ایا دا در معلومه ده چي څومره لاسونه پر سترې شوي او څومره کسانو ور باندې کار کړی دی، څومره کاریگر ور باندې ستومانه شوي او تر تا څنگه را ورسېدی؟ په دې لړ کې لومړی خبره دا ده چي بزگر پنبه کرې، له دې کښت سره ډېره خواري کاږي؛ څکه د پنبه کښت ډېره زياته خواري غواړي. ستومان لري او زماني واتن يې ډېر دی. درې پلا خمکه یوې کوي یا هم تر دې زیات، بیا جرونه په کې جوړ کړي، هغه په اوبو ډک کړي، تر هغو یې پرېږدي چي وچ شي. د جر څنگ ته غار وکاږي. بیا همدې غارونو ته د پنبې تخم ور واچوې، چي د شپې له خوا اوبه ور کوي، کله چي بوټی را ښکاره شي، نو بزگر يې د جر خاوره پر دا بل مخ

عَزَقَ الفلاّحُ الخُطُوطَ . فنجعل باطِنها ظاهِرَها . وقلع الحَشائِشَ الّتي تَضرُّ بِالقُطْنِ ، وأرْوَاها مِراراً ، حتّى ظهر فيها القُطنُ ، فَانْبَتَّ الأوْلادُ مِنَ البَنِينَ والبَنَاتِ في الحَقْلِ ، وَجَنَوُا القُطْنَ. ولَمّا جُمِعَ القُطْنُ أُرسِلَ اِلى الحَلاّجِ ، فَحَلَجَهُ ، ثُمّ نُقِلَ اِلى بعضِ المصانعِ فَغُزِلَ ، ثمّ أَخَذَهُ الحَائكُ ، وَمَدَّهُ خُيُوطاً مُتَقَارِبَةً ، ولم يَزَلْ يَشْتَغِلُ ويتعَبُ أيّاماً ، حتّى نسجه ثَوباً ناعِماً مَتِيناً ، واشترى تَاجِراً الثّوبَ ووضعه في دُكّانِه . فذهب اليه أبوكَ بِمَالِه الّذي اكْتَسَبَه بِعَرَقِ الجبين وتَعِبَ فيه أيّاماً ، وأنتَ مُسْتَرِيحٌ في البَيْتِ تأكُلُ وتَنامُ ، وذهب ذلك الثّوبُ الى	واړوي. له پنبه سره را دبره کېدونکي وابنه کاږي (پوجي يې کوي) څو پنبه ته زيان ونه رسوي، پرلپسې يې څو پلا اوبه کوي، بيا تر څو مياشتو بزګر د کښت خدمت کوي، ستړی وي او ارام يې نه وي، څو يې کښت پنبه وکړي. تر دې وروسته هلکان او نجونې په کې خپاره شي، څو له کښت څخه پنبه را ټول کړي. کله چې پنبه را ټول شي. بيا يې نداف/جولا/حليجي (هغه کس چې پنبه له دانې جلا کوي) ته لېږي. هغه سره جلا کړه، بيا به يې خينو فابريکو ته ولېږله چې همالته به يې واوبدل، وروسته به توکر جوړونکي (نساج) واخيستل. باريک تارونه يې يو د بل څنګ يا يو پر بل سربېره کوي، څو ورځې به هغه په مشغول او ور سره ستړی و، څو به يې له همدې تارونو څخه يو باريک ټينګ توکر جوړ کړ. دا توکر به سوداګر را نيوی. خپل دوکان کې به يې کېښنود. وروسته به نو ستا پلار ورغی، په خپل هغه مال به يې ور څخه رانيوی چې د تندي په خولو به يې ګټلی او د همدې له پاره به يې د

خيّاطٍ فَفَصَّلَ منه لک قَمِيصاً ، ثم خاطَهُ ليلة العِيد وهو ساهِرٌ ، وأنتَ في فِراشِکَ نائمٌ. وجَاء إليکَ القَمِيصُ مِنْ غَيرْ تَعَبٍ مِنْکَ وَشُغْلٍ ، أفلا يَجِبُ عليکَ أن تقُولَ إذا لَبِسْتَه: «اللّهُمّ أنتَ کَسَوْتَنِيْه ، وَأَلْبَستَنِيه مِنْ غَيرِ حولٍ مِنّي ولاقوّةٍ ، أسألُکَ خيرَهُ ، وخيرَ ما صُنِعَ له ، وأعوذُ بِکَ مِن شَرِّهِ ، وشَرِّ ما صُنِعَ لَهُ.»	ورخو ورخو خواري تېره کړي وه، په دې وخت کې به ته خپل کور ارام ناست وې، خوراک او خوبونه به دې کول. دغه جامه بيا تر خياطه ولاړه، هغه له دې تـوکر څخه ستا له پاره کميس جوړ کړ، بيا يې د اختر شپا د ستا د کميس پر رغولو روڼه کړه او ته دې په خپله بستره کې ارام بيده وې. نو دغه کميس تا ته بې له ستړيا او بوختيا تـر لاسه کړ، ايا در باندې لازمي نه ده چې کله يې اغوندې نو ووايې: اې الله! تا د اغوستلو دا جامه راکړې، له کوم خنډ او قوت پرته دې راکړې، نو د دې خير له تا غواړم او هغه نېکڼه چې دا ورته جوړه شوې، د دې له شره او هغه شره چې دا ورته جوړه شوې، تاته پنا در وړم.

د الفاظو تشريح:

العَامِلُون: د «س» اسم فاعل جمع مذکره ده: کاريگر. مفرد يې عامل دی، عَمَلَة او عُمّال يې هم جمعې دي. عامِل هغه صحيح عدد ته هم ويـل کېږي چې پر بل صحيح عدد مساوي تقسيم شي، لکه (٦٠) چې پر (٦) تقسيم شي. عامِل د مُسَبِّب يا لامل په معنا هم راځي، يا هم په کلام کې هغه اثر ښنخونکی لفظ دی چې بوه بل توري ته په اخير کې حرکات ور کړي. د دې له پاره بيا عوامل جمع ده.

خطوطاً: خط يې مفرد دی: اثر، نښانه، پر ځمکه فرضي ليکې، خط، ليکې، جر.

نقع: د «م» له بابه ماضي معلومه ده: لندول، په اوبو کي پټول، په اوبو کي ايله کول، په اوبو کي اينبودل.

نَجَمَ: د «ن» له بابه ماضي معلومه ده: را ښکاره کېدل، را ختل.

الحلاّج: هغه کس چي پنبه له دانو را باسي.

الحائکُ: توکر جوړونکی، رخت اوبدونکی، نساج.

الحشائش: حشيشة يې مفرد دی: هغه واښه چي په کښتونو او باغونو کي را شنه کېږي.

عَرَقَ: غارول، خېرول، پرې کول، جر کښل.

بِعَرَقِ الجَبِين: په خواري او زيار.

نوي لغات:

خطّ الأنابيب: اوږد پايپ لاين چي تيل، گاز يا اوبه نقلوي.

خطّ حديديّ: د اورگادي پټلی.

خطّ هاتفيّ/ خطّ تليفونيّ: يوه ځای ته د معلوم رقم په مقابل کي د تليفون لاين ور وستل.

خطّ مباشر: تيلفوني نظام دی، چي يو شخص کولای شي سمدستي له خپل مقابل کس سره تماس ونيسي. د دوو کسانو مخامخ تليفوني اړيکه.

خطوط أمامية: دښمن ته په لومړی ليکه کي. د جگړې په کرښه کي

خطوط الطيران/خطوط جويّة: د الوتکو دفترونه يا شرکتونه.

الخطوط البرّيّة: هغه لارې يا پټلی چي موټرونه يا اورگادي پرې ځي.

الخطوط الجوّيّة: فضا کي د الوتکو لارې/کرښې.

الخطوط المائيّة: سمندر يا سترو نهرونو کي د کښتيو او بېړيو لارې.

نقع الشيء في الماء: په اوبو کي يې پرېښود چي ور کي منحل شي.

نقع الشّخصَ بالماء: پرې اوبه شو.

نقعت بذلک نفسي: زړه يې په داده شو، زړه يې پرې اوبه وڅښلې.

(١٦)

الأَسَدُ

زمری

الأَسدُ مَلِكُ الغابةِ ، وسيِّدُ السِّباعِ ، وهيئتُه تَدُلُّ على ذلك ، فله مَنْظَرٌ مَهِيبٌ ، وزئيرٌ تَدْوِيْ له الغَابَاتُ ، ويَطِيرُ له قَلْبُ الشُّجاع ؛ قَوِيُّ البَأْسِ ، كَبِيرُ الجِسمِ ، يُحِيطُ برأسِه شعرٌ كبيرٌ يكادُ يَحْجُبُ رُكْبَتَيه ، اِذا غَضِبَ تَجَعَّدَتْ جَبْهَتُهُ وخَدَّاه ، وكَشَّرَ عن أَنْيَابِه وَأَبرَقَتْ عَيْنَاه ، واخْتَلَجَ حاجِباه ، ووقَفَ شعْرُ بدنِه ، وضرب بِذَنَبِه جَنْبَيْه ، وأَطْبَقَ عَيْنَيْه ، ومالَ اِلى الأرضِ ، ووثَبَ على فَرِيسَتِه كالصَّاعِقَةِ ، حَتّى اِذا ظَفِرَ بها أخذ في مُلاعَبَتِها ، ثمّ مَزَّقَها بِأَنْيابِه تَمْزِيْقاً.	زمری د ځنګله پاچا او د ځناورو سردار دی، د هغه شکل همدا خبره په ګوته کوي، هغه ډېره وېرونکې بڼه لري، په ځنګلونو کې يې د ږغ ازانګې وي، د غيرتي سړي زړه ورته تر پوړي تبرېږي، په جنګ کې پياوړی، بدن يې ستر، پر سر يې دومره وېښته را چارپېر دي کابو تر ځنګونو يې رسېږي، کله چې په غوسه شي، نو تندی او باړخوګان را ټول کړي، داړې لڅې کړي، سترګې يې وځلېږي، وريځې يې خوځښت پيل کړي، د بدن وېښتان يې شخ شي، په لړګي خپل دواړه کوناټي وهي، سترګې را تنګې کړي، ځمکې ته جوخت شي، بس دغه وخت پر خپل ښکار د تکې په څېر ور غوټه شي، پر خپل ښکار تر بريا وروسته يو ګړی ورسره لوبې کوي، بيا يې په خپلو داړو سره توټې توټې کړي.
واِذا كانَ الأسدُ مُقَيَّداً دلَّتْ هَيْئَتُهُ	

على الهُدُوءِ . فإذا أُفلِتَ وَ هُيِّجَ انْدَفَعَ مِنْ عَرِيْنِه . وهو أَكْثَرُ شَجَاعَةً في اللَّيلِ مِنه في النَّهارِ . ويَمُرُّ بِالانسانِ . و لا يَتَعَرَّضُ له الا اِذا كان ضارِياً أو هاجَهُ انسانٌ. وَيَهْجُمُ على الحيوانَاتِ كَالْخَيْلِ والجِمَالِ والبَقَرِ وغَيْرِها . وَيَصِيدُ الظَّبْيَ ويَأكُلُهُ بِرَغْبَةٍ . وَتَدْفَعُهُ الجَرَاءَةُ اِلى اخْتِطَافِ الانسانِ مِنْ بَيْنِ قَوْمِهِ.	څه وخت چې زمرى تږلى وي. نو د هغه بڼه د ده پر ارامتيا دلالت کوي. کله چې ور څخه لرې يې او دى را وپارول شي. نو له خپل ځايه راوزي. تر ورخ بيا د شپې ډېر غيرت ښکاره کوي. له انسان سره چې تېرېږي، کار نه ور لري، مگر که خروړى وي يا يې هم انسان را وپاروي.
	پر حيواناتو لکه اسان، اوښان، غوايان او نورو بريد کوي، هوسى ښکاروي او په خوند يې خوري. د هغه جراءت د دې لامل کېدلاى شي چې يو انسان د نورو انسانانو له منځه اختطاف کړي.
وأُنْثى الأَسَدِ تُعْرَفُ بِاللَّبُوءَةِ . وهِيَ أَصْغَرُ جُثَّةً . وأَخَفُّ حَرَكَةً . وأَشَدُّ غَضَباً منه . وجَرْوُها يُعْرَفُ بِالشِّبْلِ . وَيَبْدَأُ في الافْتِرَاسِ . ويَهْتَمُّ بِقُوَّتِهِ اِذا بَلَغَ الثَّانِيَةَ مِنْ عُمْرِه.	ماده زمرى ته لَبُوْءَه ويل کېږي. د هغې بدن يو څه وړوکى دى، په حرکت کې تېزه او ځالاکه ده، تر نر زر غوسه کېږي، د زمري بچي ته شِبْل ويل کېږي. بچى چې يې دوه کلن شي نو خپلې پياوړتيا ته پاملرنه کوي او ښکار پيلوي.
وَمُعَدَّل طُول الأَسَدِ ثَلاثُ أَذْرُعٍ . وَعُلُوُّهُ ذِرَاعٌ وَرُبْعٌ . ومُعَدَّلُ ما يَعِيشُ خَمْسٌ وعِشْرُونَ سَنَةً .	زمرى درې لاسه اوږد دى. لوړوالى يې يو لاس او د لاس څلورمه برخه کېږي. څېړنې ښيي چې زمرى

وقد يَبْلُغُ في قَفَصِهِ مِئَةَ سَنَةٍ أو أكْثَرَ.	شاوخوا پنځه ويشت کاله ژوند کوي، په پنجره کې بند شي. نو سل کاله يا زيات ژوند کولای شي.

د الفاظو تشريح:

مَهِيبٌ: دارونکی.

زَئِير: د زمري ناره يا ږغ.

دَوِي: د «س» له بابه ماضي معلومه ده: ازانګه، د اواز په انعکاس د منطقې ډکېدل.

تَجَعَّدَتْ: د تفعّل له بابه ماضي معلومه مونث ده: را تولول، را نغښتل.

كَشَّرَ: د تفعيل له بابه ماضي معلومه ده: داړې سپينول، موسكا كول.

واخْتَلَجَ: د افتعال له بابه ماضي معلومه ده: خوځښت، تحرك، ښورول.

أطْبَقَ: د افعال له بابه ماضي معلومه ده: بندول، را تولول.

وَثَبَ: د «ض» له بابه ماضي معلومه ده: وَثَبَ يَثِبُ وَثْباً وُثُوباً: بريد كول، روانېدل، توپ وهل.

عَرِين: د زمري غار يا هستوګنځی. عُرُن يې جمع ده.

اللَّبُوءَة: زمرۍ، د زمري ماده/ښځينه، لَبُوء او لَبُؤات يې جمعې دي.

الشِّبْلُ: د زمري زوی/بچی. أشْبال يې جمع ده.

دويٌ: د ږېښنا اواز، د باد ږغ، ازانګه، د مچۍ بوږنهار، سوكه اواز، پسپسكی، اواز.

نوي لغات:

ثَبَنَ في الثوب: د جامې په يو پلو كې شی اخيستل، په توكر كې يو شی ښودل.

كَشَّرَ عن أسنانه كشْراً: غاښونه يې ښكاره كړل، ويې خندل.

أقلع السّن: غاښ يې وكيښ.

دوّى المكانُ: ځای ازانګو پر سر واخيست.

(١٧)

غُرُوْرُ الدُّنْيا

د دنيا غرور

تَقُوْلُ لَيسَ المَاجِدُ	الاّ القَنُوْعُ الزَّاهِدُ
فَمَا أعَزَّ مَنْ قَنعْ	وَمَا أذَلَّ مَنْ طَمعْ
دُنياكُمْ حَبِيْبَة	بِحُسْنِها وَالطِّيبَة
لكنَّها غَدّارَة	خَدّاعَةٌ غَرّارَةٌ
ليسَ لها حَبِيْبٌ	زَوالُها قَرِيبٌ
مَلُوْلَةٌ خَوّانَةٌ	ليسَ لها أَمَانَةٌ
تُفَرِّقُ الأَحْبَابا	تُشَتِّتُ الأَتْرَابَا
حَرْبٌ لِمَنْ سَالَمَهَا	تَمَلُّ مَنْ لاَزَمَها
عَزِيزُهَا ذَلِيلُ	كَثِيرُها قَلِيلُ
وَصَالُها عَنَاءُ	صُدُودُها بَلاءُ
يَحْظَى بِها الْجُهَّالُ	وَيَنْعَمُ الأَنذالُ
يَشْقَى بِها اللَّبِيْبُ	ويَتْعَبُ الأَدِيْبُ

(أبو العتاهية)

ترجمه: دنيا وايي چي يوازي دهر قناعت كوونكى او زاهد شريـف انسـان دى، نو چا چي قناعت وكړ، عزتمن شو او چا چي تمه وكړه، ذليـل و خـوار شـو. ستاسو دنيا د خپلي ښکلا له امله درته گرانه او غوره ده، اما په حقيقت كي هغه غداره، چلبازه او تېر ايستونكې ده. هغه هيڅ دوست نـه لـري، زوال يـې نـږدې دى، ستومانونكې خيانتگره، هيڅ امانت نه لري، دوستان سره بېلـوي، همـزولي سره جلا كوي، څوک چي ورسره سوله وكړي، هغه ته د جنگ سبب كيږي او

څوک چې ورسره ملګرى شي، هغه به ستړى و ستومانه کړي، چا ته چې دنيا ګرانه وي، هغه به ذليل و خوار وي، څوک يې ډېروي، هغه به لږ تر لاسه کړي، ورنه رسېدل، ستوزمن کار دى، ور څخه بې برخې کېدل هم مصيبت دى، جاهلان ور څخه برخمن دي او ذليل و سپک له دې نعمته خوند اخلي، عاقل و هوښيار په بدمرغه او اديب په ستړى وي.

د الفاظو تشريح:

مَاجِد: د «ن» له بابه اسم فاعل دى: شريف، د عزت څښتن، أمْاجِد يې جمع ده. يو الهي صفت هم دى، معنا بشپړ او پوره، په شرف او عزت کې انتهاء ته رسېدلى.

غَدَّاره: ډېره خاينه.

غَرَّاره: ډېره تېر ايستونکې، مغرورونکې.

خَدَّاعة: ډېره چلبازه، دوکه بازه.

مَلّ: ور څخه ستړى، ستومانه، خسته.

الأَنذال: مفرد يې نذل دى: خسيس، سپک، ذليل، له سترګو لوېدلى، حقير. نُذَلاء او نُذُول يې هم جمعې دي.

اللَّبِيبُ: عاقل، هوښيار، د عقل خاوند، الألبّاء يې جمع ده.

القنوع: صفت مشبه ده، قانع، جمع يې قُنُع ده.

خَوَانة/خِوَانة: غدر، خيانت، غفلت و ناخبري.

نوي لغات:

مجَد الشَّخصُ: د عزت او شرف خاوند شو، د شرف لوړو پوړيو ته ورسېد.

مجَده: په شرف کې پرې برلاسى شو.

أخذه على خوانة: ناڅاپه يې را ګير کړ.

هذا النذل يستغل بؤسَ الآخرين: دغه حقير و خوار د نورو له تنګى ګټه اخلي.

(١٨)

رِسَالَةٌ إلَى رَسُوْلِ اللهِ ص

رسول الله ص ته ليک

اِذا جـاءَكَ قَرِيبٌ أو صَـدِيقٌ، وقـال: اِنيّ مسـافِرٌ اِلـى الـوطنِ، وسَـأُقَابِلُ أَبـاكَ، فهَـلْ تُـوْصِيْ بشيءٍ؟ وهـل لَـكَ رِسَالَةٌ اِليـه أَحْمِلُها مِنكَ، وأُبَلِّغها اليهِ؟ فَلاَ تَشُـكُّ أَنّـه سَـيَجْتَمِعُ بِأبِيـكَ، ورُبَمّا يَسْأَلُ أَبـوكَ عَنْـكَ خَـبَراً سَاراً، وبُشْرَى صِحَّتِكَ. فَتَقُـولُ: تَقْرأُ على والِـديْ مِنّـيْ السلامَ، وقُل لـه: اِنَّ ابْنَـكَ بِخيرٍ، وكـما تحِبُّ مِن صِحَّةٍ وَسُرُورٍ. كَذَلِك كانَ المُسلمون يَعْتَقِدون أنّ المـوتَ جِسْرٌ اِلـى الآخـرةِ، وكُـلُّ مَـنْ عَـبرَ هـذا الجِسْرَ مِـنَ المسـلمين وَصَـلَ اِلـى الآخِـرَةِ، واجْتَمَـعَ هُنَالِـكَ بِرَسُـولِ اللـه	که ستا يو خپل يا ملگری درته راشي، ووايي: زه وطن ته ځم، ستا پـلار سره به وينم، نـو ايـا کومـه سپارښتنه/خبره ورته لرې؟ ايا کوم پيغام ور ليږې چي زه يې ستا له خوا هغه ته ورسوم؟ نو ته دې کي شک نه کوې چي هغه به ستا له پلار سره ويني، ښايي پلار بـه دې ور څخه يوه ښه خبر يا سـتا د روغتيا زيری وغواړي. نو ته به وايې: پلار تـه مي زما سلام وايه، ورته وايه: ستا زوی په خير و، هغسې له صحت او روغتيا څخـه بـرخمن و، لکـه چـي تـه يـې غواړې او هيله يې کوې. مسلمانانو عيني باور در لود چي مرگ اخـرت تـه د تلـو يـو پـول دی، هـر مسلمان چي پر دې پول تېر شي، هغه اخرت ته رسيږي، همالته له رسول الله ص سره يو ځـای کېـږي، د هغـه د

Maktaba Tul Ishaat.com

صلى الله عليه وسلم ، وتَشَرُّفَ بِزِيَارَتِـه ، ولَابُدَّ أنَّ رسـولَ الله صلى الله عليه وسلم سَئِلَ عَنْ أُمَّته.

وَيمْكِـنُ ألاَّ يَصِـلَ قَرِيبُـک أو صَـدِيقُک اِلى الـوطنِ لِمانِـعٍ أو حادِثَـةٍ ، أو يَصِـلَ اِلـى الـوطنِ ، ولا يَجْتَمِـعَ بِأبيــکَ ، ولکِــنَّ المسلمين ما کانو يَشُکُّونَ في وُصُولِ الميِّتِ اِلى عالم الآخِرةِ ، واجْـتِمَاعِ الشَّـهِيدِ بِرَسُـولِ الله صلى الله عليه وسلم.

زَحَـفَ المُسـلِمُون اِلـى الشَّامِ ، وکان النَّبِيُّ صلى الله عليه وسـلم أخْبَرَهم: «لَتُفْتَحُنَّ کُنُوْزَ کِسرَی وَقَيصَرَ» وقـد وَعَـدَهما اللّـهُ بِالنَّصرِ ، وقال: «وَاِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ الْمَنْصُـورُونَ ، وَاِنَّ جُنـدَنا لَهُـمُ الغَالِبُونَ» وکـانو واثِـقِينَ بِالنصرِ-

زيارت وياړ تر لاسه کوي او حتمي خبره ده چي رسول الله ص به د خپل امت په اړه پوښتنه ور څخه کوي.

شوني ده چي ستا خپل يا ملګرى وطن ته ونه رسيږي، يوه پيښه ورته وشي، يا يو شى مانع شي، يا هم وطن ته ورسيږي، ستا له پلار سره مخ نه شي، خو مسلمانانو تـه پـه دې کـي شک نـه ور لوېدى چي مړى دې اخرت ته ونه رسيږي او نه دا شک ورسره و، چي شهيد دې له رسول الله ص سره يوځاى نه شي.

مسلمانانو پر شام بريد وکړ، دوى ته رسول الله ص خبر ور کړي و: «تاسو به حتما د کسرا او قيصر- خزانې تـر لاسه کړئ»، الله تعالى د مرستې وعده ور سره کـړې وه، ويـلي يـې و: «او زموږ لښکريان به حتما بريالي وي او زموږ لښکرونه به حتما لاسبري وي.»

دوى په خپله بريا او فتح بشپړ باوري وو، همداسې وشول، دوى ښارونه يـو په بل پسې ونيول، هر ميدان کـي يـې

والفتحِ ، وكذلك كان. فقد فتَحُوا مَدِيْنَةً بعدَ مَدِينةٍ ، وَهَزَمُوا جُنداً بعدَ جندٍ.	هر دول لښکر په ګونډو کړ.
وجاءَ رجلٌ يومَ اليَرْمُوكِ إلى أبي عُبيدَةَ رضي الله عنه قائدِ المسلمين ـ فقال: إنّني قد تَهَيَّأْتُ لِأَمْرِي لي لِلشَّهادَةِ ، فَهَلْ لكَ مِنْ حاجَةٍ إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم.	او د يرموک په ورځ يو کس ابو عبيده رضي الله عنه ته راغی ـ دی هغه وخت د اسلامي لښکر سپه سالار و ـ ورته يې وويل: ما مي ځان شهادت ته تيار کړی دی، ايا رسول الله ص ته د کومه اړتيا لرې چې زه يې ورسوم؟
قال ابو عبيدَةَ: نعم! تُقْرِئُهُ عَنِّي السلامَ ، وتقولُ: يا رسولَ الله صلى الله عليه وسلم! إنّا قد وَجَدْنَا ما وعدنا ربُّنا حقّاً.	ابو عبيده ويل: هو، زما سلام به ورته وايې، ورته ووايه: د الله رسوله! له موږ سره چې مو رب کومه ژمنه کړې وه، هغه هر څه راته په حقيقت بدل شول.[1]

د الفاظو تشريح:

جِسْر: پول، هغه شی چې دوه لوري سره وصلوي، جُسُور يې جمع ده.

عَبَرَ: د «ن» له بابه ماضي معلومه ده: پر نهر، لار، يا پول بل اړخ ته تېرېدل.

زَحَفَ: د «م» له بابه ماضي معلومه ده: وړاندي کېدل، بريد کول، حمله کول.

كِسرى: د فارس د شاهانو لقب و.

[1] البداية والنهاية د ابن کثير: ج: ۷، مخ: ۱۲.

قَيصَر: د روم د پاچاهانو لقب و.

اليرموک: د اوسني اردن مربوط ناوه ده، د حوران له غونډيو څخه يې اوبه سرچينه اخلي او د سوريې په حددو کې بهيږي، بيا اردن ته ننوزي. همدلته د ۱۵هـ مهال د رجب پر ۵ تاريخ خالد بن الوليد رضي الله عنه د روميانو ستر او جرار لښکر ته پرېکنده ماتې ور کړې وه. دغه مهال د لښکر عمومي مشر-ابو عبيده بن جراح و. چې د همدغې جګړې مشري ابو عبيده رض په خپله خوښه خالد ته پرې ايښې وه.

نوي لغات:

زحف الثُّعان: مار پر نس وښکېدی.

زحف على بطنه: پر نس په ښکېدا سره ذليل شو.

زحف الرَّضيعُ: ماشوم په خاپوړو شو.

زحف الشخص: پر ځلورو وښکېدی، لکه ماشوم.

زحف الجيشُ الى العدوّ/ زحف الجيشُ على العدوّ: د دښمن لور ستر لښکر ورغی.

زحّف الفلاّح الأرضَ: بزګر ځمکه برابره کړه.

زحّف فلانٌ جذعَ الشجرة: د ځمکه ته يې کمزورې را کش کړه.

الزاحف: پيروتې، يو ډول شين ووښ دی چې د ځمکې پر مخ غوړېږي. که کومه ونه يا لرګی ورته ودرېږي هم ور باندې پورته کيږي. نرم ګلان کوي او ډېر نازک دی.

زَحّاف: هر پر سينه ښکېدونکی شی، لکه مار.

الجراد الزّحّاف: پر ځمکه تلونکی ملخ، مقابل يې الجراد الطّيّار دی.

(١٩)

حَادِثَةٌ

پېښه

زَارَنَا مَرَّةً ضَيفٌ كَرِيمٌ ، وبَاتَ عِندنا لَيْلَةً ، وفي الصَّبَاحِ قلتُ له: أَتَسْتَحِمُّ يا سيِّدِيْ؟ وكان يومُ جُمُعَةٍ ، قال: نَعَمْ! قُلْتُ: هذا مُغْتَسَلٌ ، قال: بَلْ أَسْتَحِمُّ في النهرِ. وكان الشَّيخُ يعرفُ السِّباحَةَ اِلاّ أنّه لم يَتَّفِقْ له أن يَسْبَحَ مِنْ مدَّةٍ طَوِيلَةٍ ، وسَمِعْتُ أنّ الانسانَ لا يَنسَى السِّباحَةَ اِذا تَعَلَّمَها ، اِلاّ أنّه يَتْعَبُ سَرِيعاً. وكان النَّهْرُ فائضاً وكان يَجْرِيْ بِقُوَّةٍ ، فَخَاضَ الشَّيخُ النَّهرَ ، وَبَدَأَ يَسْبَحُ ، فَمَا لَبِثَ أنّ كَلَّتْ عَضُدُهُ ، وخَارَتْ قُواهُ وَأَعْيا ، وَدَفَعَهُ الْمَاءُ بِقُوَّةٍ ، فَجَعَلَ يَجْرِيْ	زموږ کره يوځل عزتمن مېلمه راغی، يوه شپه يې را سره وکړه، سهار ما ورته ويل: ښاغلي! لمبېږې؟ هغه د جمعې ورځ وه، ده ويل: هو. ما ويل: دغه تشناب (غسل خانه) ده، هغه ويل: بلکې په وياله کې لامبم. د شيخ لامبو زده وه؛ مګر له ډېره وخته د لامبو وهلو فرصت ورته نه وو مساعد شوی، ما اورېدلي و، چې انسان کله لامبو زده کړي، بيا يې نه هېروي. مګر دا چې (که تمرين يې ونه کړي)ژر ستړی کېږي. وياله ښه په زور کې بهېدله. شيخ ويالې ته ور کښته شو. لامبو يې په کې وهله. لږ وخت وروسته يې غړي کمزوري، قووت بايلود او ستړی ستومانه شو. اوبو ښه په زور ور سره کش کړ. دی (نور د ترپ نه و) کوم لور ته چې اوبه تلې، دی يې هم

في تيَّارِه لا يملِكُ مِنْ أمرِه شيئاً، وأيْقَنَ بِالشَّرِّ.

فَجَعَلَ يَصْرِخُ ويَستَغِيثُ، ويقولُ: يا رجلاً! خُذْ بِيدي، وجعل يَذْكُرُ، ويقولُ: اللهُ! اللهُ! كأنَّه في آخرِ عَهْدِه بالدُّنيا وجعل يغطِسُ ويَطْفُو.

فَسُقِطَ في أيْدِينا، وخِفنَا عليه الغَرَقَ، وكان أحدُ أقارِبِنا ممَّنْ يُحْسِنون السِّباحةَ يغتَسِلُ في النهرِ فقُلنا: دُونَكَ الأستاذَ.

فتَقَدَّمَ إليه بِسُرعةٍ، ولمَّا رأى الشَّيخُ مُنْجِداً تَشَجَّعَ قليلاً، وأرادَ أنْ يُمسِكَهُ.

ولكِنْ كان الرّجلُ عاقلاً مُجرِّباً، وكان يَعرِفُ أنّ الغريقَ يَرْكَبُ مَنْ يُنْجِدُ ويأخُذُ بِتلابيبِه، ويَغرقانِ جميعاً، فَلَمْ يُمكِّنْه مِنْ نَفْسِه، بَلْ غَطَسَ وَدَفَعَهُ مِنْ

ورسره يو وړ، پر خپل ځان يې کنټرول ختم شو او دا باور يې شو چي غرقيږي.

ناري يې کړې، مرسته يې غوښته ويل يې: اې سړيه! لاس راکړه. اذکار يې کول، ويل يې: الله، الله، له نارو سورو يې ښکاريده لکه پر دنيا چي يې ورروستی سا وي، شيخ به کله په اوبو کي غوټه شو او کله به يې سر ته را پورته شو.

نو موږ حيران و پښېمانه شو، د هغه د غرقېدا ويره را سره پيدا شوه، زموږ يو قريب چي ښه لامبو يې زده وه، په نهر کي لامبل، موږ ورته وويل: استاد را نيسه، هغه ژر ور ورواندي شو، شيخ چي ژغورونکی وليد، يو څه را بيدار شو. غوښتل يې هغه پوري لاس ونيسي.

خو ژغورونکی هوښيار او تجربه کار و، هغه پوهېدی چي غرق کېدونکی کس خپل ځان پر مرسته کوونکي ور اچوي، د هغه جامې په لاس کي نيسي. په دې توګه دواړه د غرقېدا له خطر سره مخېږي، نو ده ځان په لاس ور نه کړ، بلکي په اوبو غوټه شو، شيخ يې له لاندي

أسْفَلَ إلى الشَّاطِيءِ ، ولم يَزَلِ
الشَّيخُ يَجْتَهِدُ أن يمسكه .
والرَّجُلُ يَدْفَعُهُ إلى الأمامِ حتّى
أوْصَلَهُ إلى الشّاطِيءِ.

وكان الشَّيخُ كالمُغْمَى عليهِ لا
يَعْقِلُ شيئاً ، وكان على الشَّاطِيءِ
رَجلٌ يَصِيدُ السَّمكَ ، فأشارَ إليه
الرَّجلُ قال: مُدَّ عُوْدَكَ
لِيُمْسِكَهُ الشَّيخُ ، فَمَدَّ الصَّيَّادُ
عُودَهُ ، وجَعَلَ يَضْرِبُ بِهِ على
رأسَه ، وهو لا يشعُرُ ولا يمْسِكُه .
وبعدَ حِينٍ أمْسَكَ بِالعُودِ ،
ووصَلَ إلى الشَّاطِيءِ.

وكان على شَاطِيءِ آخرَ مِنَ
النَّهرِ ، فَصَنَعُوا له مَرْكَباً مِنَ
المجرارِ ، ورَكِبَه الشَّيخُ ،
وأمْسَكَ بِالحَبْلِ ، وحَوْلَهُ عَدَدٌ
مِنْ فُرْسَانِ السِّباحةِ ، وأبْطالِ
الماءِ ، ورَجَعَ في الموكِبِ إلى

خوا د نهر ژی ته را ټیله کړ. شیخ پرلپسې
هڅه کوله چې هغه کس پوري لاس
ټینګ کړي، اما دې سړي دی د مخ لور ته
ټیله کاوه. خو یې تر کنارې را ورساوه.

شیخ بې هوښه غوندې و. په هیڅ نه
پوهېدی. پر کناره یو کس و. چې ماهیان
یې ښکارول. دې کس ورته اشاره وکړه،
ویې ویل: لرګی دې را وغځوه چې
شیخ یې ونیسي. ښکاري خپل لرګی ور
اوږد کړ. شیخ یې پر سر په واهه. هغه نه
احساساوه او نه یې نیوی. یو څه وخت
وروسته یې لرګی ونیو او ځان یې د نهر
غاړې ته را ورساوه.

د شیخ ډېرې اوبه تېرې شوې وې. دوی
یې پښې پر را لوړې کړې. خو یې اوبه
قی کړې او پر هوښ راغی. بیرته یې
خپل شعور او قوت لاس ته راوړل.

نوموړی د نهر پر بله غاړه و. دوی ورته د
وړو منګیانو سپرلی جوړه کړه. شیخ یې
پر سپور کړ. رسی یې ونیوه. شاوخوا ته
یې څو تکړه او زړور لامبوزن ور سره
مل وو. دغه ډول یې هغه په سپرلی کې

الشَـاطِىءِ ، وقـد ذُعِـرَ الأُسـتاذُ بَهذه الْحَادِثَةِ ، فَكان يُوصِي كُلَّ مَنْ يَزُورُ قَرْيَتَنا ألاّ يَدْخُلَ النَّهرَ ، وكان يقـولُ: اِذا أرَدْتَ أنْ تَتَمَتَّعَ بِالدُّنْيا ، فاِيّاكَ والنَّهرَ.	بلې غاړې ته راوست. دغې پېښې استاد دار کړی و، نو بیا چې به هر څوک زموږ کلي ته راتلی، ده به سپارښتنه ورتـه کوله چې نهر ته دې نه کوزېږي، هغه به ویـل: که له دنیا څخه خوند اخیسـتل غواړې، نو له نهر څخه ځان ساته.
وكان الشيخُ لا يزالُ يَعْتِبُ على الرَّجُلِ أنّـه لم يُنْجِدْهُ ، ولم يَمُـدَّ اِلَيـه يَـدَهُ ، ولا يَـراهُ مَعْـذُوراً في هذا الأمر.	شیخ هغه کس ته بیا هم په غوسه و، چې له ده سره یې مرسته ونه کړه، خپل لاس یې ده ته ور اوږد نـه کړ او پـه دې چاره کې یې د هغه عذر نه مانی.

د الفاظو تشریح:

أَتَسْتحمُّ: د استفعال له بابـه مضـارع مخاطبـه ده: لمبېږې، حـمام کـوې. شـاوز کوې.

مُغْتَسَل: د افتعال له بابه مصدر میمي یا اسـم مکـان دی: د غسـل ځـای. غسـل خانه. تشناب. یا هم د لامبلو اوبه. مغتسلات یې جمع ده.

فائِض: اسم فاعـل دی: زیـادت، تـر اړتیـا اضـافه. د مـالي اداري تـر لګښـتونو وروسته اضافه ګټه. فوائض یې جمع ده.

فَخَاضَ: د «ن» له بابه ماضي معلومه ده: ور داخلېدل، په یـوه شي شروع کـول. په کې تلل.

كَلَّتْ: د «م» له بابه ماضي مونث ده: کمزوري کېدل، سستېدل.

خَارَتْ: د «ن» له بابه ماضي معلومه مونث ده: متلاشي کېدل، کمزوري کېدل.

بِتلابِيبه: د جامې برسېره خوا.

غَطَسَ: د «ض» له بابه ماضي معلومه ده: غوټه کېدل، په ننوتل.

فنکسوه: د «ن» له بابه ماضي معلومه جمع مذکره غائبه ده: سر پر چېرې بې کړ، پښې يې ور پورته کړې، د مخ خوا يې شاته کړه.

دونک: اسم فعل دی، معنا ونيسه، لازم يې کړه، «ده» وکړه، ورسره د کاف د خطاب ضمير دی.

فَسُقِطَ في أيدينا: معنا موږ حيران او پښېمانه شو. قران کريم وايي: ولمّا سُقِطَ في أيديهم: يعنې دوی د ګيلګي اسخوندرکي پر عبادت پښېمانه شول، هر څوک چې پر يو کار پښېمانه شي، عرب وايي: قد سقط في يديه/في يده: پښېمانه او حيران شو.

نوي لغات:

ذئبٌ کليل: سست لېوه چې پر چا بريد نه کوي.

کليلُ البصر: په سترګو کمزوری.

کليل الفهم: کوندل، بند دماغی.

أَخَذَ بِتلابيبه: پر جامه يې لوړ ونيوی.

غطس في الماء: په اوبو کي دوب/غوټه شو.

دونک الکتاب: کتاب در واخله. دونک عصياني: زما له نافرمانی ودار شه.

فتى الإسلام

د اسلام ځوان

هل تَعْرِفُ فِتياناً هم في السابِعَةَ عشرةَ ، أَوِ الثّامِنةَ عشرةَ مِنْ عُمُرِهِمْ؟ بَلَّغكَ اللهُ فوقَ هذه السِّنِّ وعمَّرَكَ طَوِيلاً.	ايا ته کي کسان پيژنې چي عمرونه يې اوولس يا اتلس کاله وي؟ الله دې تا ته تر دې لوړ عمر در کړي او اوږد ژوند ولرې.
اِنّکَ لَتَعْرِفُ مِنهم كَثيراً! فهل تَعرِف عنهم غَيرَ أنّهم يأكُلُون ويشرَبُون ، ويرتَعُون ويلعبُونَ ويَتَجَمَّلُون في المَلابِس ، ويتأنَّقُون في الهِنْدَامِ والزِّينَةِ.	واقعيت دا دی چي حتما به کي ډېر کسان پيژنې، اما د دوی په اړه به يوازي دا در معلوم وي چي خوراک کوي، څښاک کوي، تفريح و مېلې کوي، لوبې او بازی تر سره کوي، په ښو جامو خانونه ښايسته کوي او خپل ظاهري قد او ښکلا ته ډېره پاملرنه کوي.
وِاذا امْتازَ فيهم فَتىً ، وعلتْ هِمَّتُهُ ، عَكَفَ على دِراسَتِه ومُطَالَعَتِه ، وجَدَّ فيها واجْتَهَد ، حتّى بَرَزَ في الاختباراتِ، وأحرزَ الجَوائِزَ والوِسَاماتِ.	د دوی هغه ځانګړي کسان چي لوړ همت ولري، هغه يې درسونو او لوست ته مخه کړي، همدې لار کې ډېر زيار وکاږي، څو په ازموينو کي لوړی نمره شي، په دې توګه جايزه او مکافات تر لاسه کړي.
وِاذا طمعَ فيهم شابٌّ اجتهدَ لِوَظِيفَةٍ في مَصْلَحَةٍ مِنْ مصالحِ الحُكومةِ فصارَ يتَقَاضَى رَاتِباً	که له دوی څخه يو ځوان هيلي ولري، نو د حکومت له مصالحو د يوه مصلحت له پاره يوې دندې ته

شَهْرِياً.	كوښښ کوي، نو تول هم و غم يې د
ذلک مَبْلَغُهُم مِنَ العِلمِ ، وتِلکَ	میاشتې معاش تر لاسه کول شي.
أقصَى أمَانِيهم في الحياةِ.	همدا يې د علم او پوهې وروستی او د
ولكِنْ لَمّا كانت دولةُ الاِسلامِ ،	ژوند تر ټولو اخيرنی هيله و ارزو وي.
وكانتِ الهِمَمُ عاليَةً ، كان الشّابُّ	اما کله چې اسلامي دولت بر قرار او د
المُسلمُ يَطْمَحُ الى اِقامةِ الجِهادِ ،	خلکو همتونه اوچت وو، نو يو مسلمان
وفَتْحِ البِلادِ ، فَيفْتَحُ قُطْراً أو	ځوان به جهاد ته د تللو او د ښارونو د
يُؤَسِّسُ دولةً أو يمُوتُ شَهيداً.	فتحې هيله در لوده، نو به يې يوه سيمه
هذا محمدُ بنُ قاسِمِ الثَّقَفِيُّ قد	فتح کړه، يا به يې يو دولت رامنځته کړ
غزا الهِند وهي بِلادٌ بعيدةٌ مِنْ بِلادِ	او يا به په دې لار کې شهيد شو.
العربِ وراءَ البِحارِ فهزمَ الجُنُودَ	نو محمد بن قاسم پر هند بريد وکړ -
وقَتَلَ المُلُوکَ ، ووظّفَ الخِراجِ ،	هند له عربي ټاټوبي لرې سيمه او د
وَسَبَى الذُّرِّيَةَ ، وفتح محمدٌ	سمندرونو بلې غاړې ته و ـ ده
السِّندَ ، وَتَوَغَّلَ في الهِندِ ، حتّى	لښکرونو ته ماته ور کړه، شاهان يې
قَطَعَ نهرَ بَيَّاسَ اِلى المُلْتَانِ ،	قتل کړل. خراج يې پر وټاکی.
وفتحها ، وخَضَعَ أهلُ الهِندِ	اولادونه يې ور ځخه ونيول. محمد
لِمُحمّدٍ ، وأَحَبُّوهُ لِدِينه وكرمِه	سند ونيوی او هند ته داخل شو. حتا
وعدْلِه ، مع أنَّ العَدُوَّ القاهِرَ لا	تر بیاس سیند تیر شو. ملتان ته
يُحَبُّ ، وصَنَعُوا له تِمثَالاً على	ورسيد. ملتان يې ولکه کړ. د هند
	وګړو د محمد اطاعت وکړ. د هغه له
	دين، د ده له مهرباني او عدالت سره
	يې مينه پيدا شوه، سره له دې چې
	برلاسي دښمن څوک نه خوښوي، د
	هنديانو له رسم و رواج سره سم يې

د هغه مجسمه جوړه کړه. دغه ګرده ستري فتحې په ډېره کمه موده کې تر سره شوې، دا هر څه يو طرف ته. بل خوا د سند فاتح د خپل عمر تر اوولس کلنۍ نه وو تېر شوی، په همدې اړه شاعر ويلي دي: هغه په اوولس کلنۍ کې د خلکو سياسي چارې سنبالولې. په کې حال کې چې همزولي يې له دې کاره په نورو شيانو بوخت وو.	عادةِ أهلِ الهندِ. وتِلكَ الفُتُوحُ العَظِيمةُ كُلُّها كانتْ في مُدَّةٍ قَصِيرةٍ جِداً. هذا، وفاتحُ السند لم يتجاوزِ السابِعة عشرة من عمره، وفي ذلک قال الشاعرُ: ساسَ الرِّجالَ لِسبع عشرةَ حِجَّةً ولِدَاتُه عن ذاکَ في أشْغَالِ

د الفاظو تشيح:

فِتياناً: د فتیً جمع ده، فِتيَة يې هم جمع ده: هغه ځوان چې نوی پر ځواني راغلی وي، د هلکتوب او ځوانۍ ترمنځ پر پوله ولاړ وي.

يَرْتَعُون: له «م» باب څخه مضارع معلومه جمع مذکره غائبه ده: يرتعون في المکان: يو ځای دمه کېدل، ساتېری کول. له خپلې خوښې سره سم خوراک او څښاک کول.

يَتَجَمَّلُون: د تفعل له بابه مضارع معلومه جمع مذکر غائبه ده: ښکلا څرګندول.

يَتَـأنَّقُون: د تفعّل له بابه مضارع معلومه ده: ظاهر ته توجو او غوره يې څرګندول

الهِنْدَام: غوره اندام او د جامو تنظيم.

عَکَفَ: د «ن» له بابه ماضي معلومه د: عکف الرجلُ علی الشيء أوِ الأمر: ورته مخه يې کړه، پر ځان يې لازم کړ.

بَرَّزَ: د تفعيل له بابه ماضي معلومه ده: پر خپلو همزولو مخته کېدل، برلاسی کېدل.

أحْرَزَ: د افعال له بابه ماضي معلومه ده: أحرز الجائزة: انعام يې تر لاسه کړ.

الوِسامات: پر يوه ښه عمل يې تقديرول/ستايل او مکافات ور کول. مفرد يې وِسامة دی.

طَمَحَ: د «م» له بابه ماضي معلومه ده: د يوه لرې هدف تمه او هيله کول.

وَظَّفَ: د تفعيل له بابه ماضي معلومه ده: دنده يې ور کړه.

خِراج: پر اهل ذمه ټاکل شوې جزيه. جمع يې خَراجات، أخراج او أخرجة دي، جمع الجمع يې أخاريج دي.

تَوَغَّل: د تفعّل له بابه ماضي معلومه ده: تر لرې تلل.

السِّند: هغه سيمه چې د هند په شمال غربي او جنوب غربي سيمه کې واقع ده، شمال او غرب ته يې بلوچستان واقع دی، شمال ختيځ ته يې پنجاب دی، شرق ته يې راجستان او گوجرات ايالتونه دي، جنوب ته يې عربي سمندر دی. لويه برخه يې اوس په پاکستان کې واقع ده.

الهِند: په جنوبي اسيا کې هندي براعظمگی چې پاکستان، اوسنی هند او بنگلديش په کې داخل و.

نهر بياس: دا په هند کې ستر او مهم سيند دی.

حِجَّة: کال، جمع يې حِجج ده.

نوي لغات:

تَوَغَّلَ في المكان: تر لرې په کې تگ.

توغل في العلم: لويه برخه يې ور ځخه تر لاسه کړه.

الوَغْلُ منَ الرجال: لوېدلي، کمزوري خلک، جمع يې أوغال ده.

(٢٠)

الرِّمَايَةُ

غشي ويشتل

سَأَلْتُ أبي أَنْ يَشْتَرِيَ لِيْ بُنْدُقِيَّةً صَغِيْرَةً ، لِأَصِيْدَ الطُّيُوْرَ: كَالْيمام والحَمَامِ والغُرَابِ الَّذِيْ يُؤْذِيْ كَثِيْراً وَيَلِغُ في الماءِ ، وَأَتَمَرَّنَ على الرَّمْيِ ، فَاشْتَرَى لِيْ بُنْدُقِيَّةً وَحُقَّةً مِنَ الرَّشَّاشِ.	له پلاره مي غوښتنه وکړه چي ما ته وړوکی توپک واخلي، څو زه مرغان په ښکار کړم. لکه: زرکې، کوترې او کارغان چي ډېر ضررناک دي او اوبو کي خوله وهي، په دې سره به زه د نښې پخولو تمرين هم کوم، نو هغه ما ته يو توپک او يوه جابه مرمی واخيستې.
وَكُنْتُ إذا رَجَعْتُ مِنَ المَدْرَسَةِ ، أَوْ كَانَ يَوْمُ عُطْلَةٍ أَخَذْتُ البُنْدُقِيَّةَ ، وَعَدَداً مِنَ الرَّشَّاشِ ، وَذَهَبْتُ إِلَى البُسْتَانِ أَرْمِي الطُّيُورَ.	کله چي به زه له مدرسې راستون شوم يا به د رخصتی ورخ وه، نو توپک او يو څه مرمی به مي واخيستې. باغ ته به ولاړم چي مرغان ښکار کړم.
وفي الأَوَّلِ لا أُصِيبُ طَائِراً ، وَأُخْطِيءُ كُلَّ مَرَّةٍ ، ثُمَّ صِرْتُ أُصِيْبُ مَرَّةً في ثَلَاثِ طَلَقَاتٍ ، وَأَصِيدُ بَعْضَ الطُّيُوْرِ ، حَتَّى تَمَرَّنْتُ في شَهْرَيْنِ ، وَاشْتَدَّ	لومړيو کي مي مرغان نه شواى ويشتلاى، هره نښه به را څخه خطا کېده، بيا به مي په درو ډزو کي يوه پر نښه لګېده. خيني مرغان به مي ويشتل، څو مي دوې مياشتي تمرين وکړ او مټ مي پياوړی شو.

سَاعِدِي.

وَرَأَيْتُ عِنْدَ رَجُلٍ مِنَ الأَغْنِيَاءِ شَيْئاً غَرِيْباً، كَانَتْ عِنده صَفِيحَةٌ، وكان عَلَى وَجْهِ الصَّفِيحَةِ مِثْلُ فَلْسٍ، لَهُ لَوْنٌ يَلْمَعُ، وَيَظْهَرُ مِنْ بَعِيدٍ.

وكَان بِجَانِبِ هذا الفَلْسِ مِثْلُ جِرَابٍ، كان يَشْحَنُهُ بِالبَارُوْدِ، وَيَسُدُّهُ بِالقِرْطَاسِ، وكان في هذِهِ الصَّفِيحَةِ رَسْمٌ مِنْ حَدِيْدٍ: جُنْدِيٌّ في لِبَاسِ جُنْدِيٍّ، في يَدِهِ قُبَّعَةٌ.

وكُنَّا نُبَارِيْ في الرَّمْيِ، وَنَرْمِي هذا الفَلْسَ بِالرَّشَّاشِ، فَإِذا أَصَابَ إِنْسَانٌ الفَلْسَ انْطَلَقَ المِدْفَعُ، وَسَمِعَ النَّاسُ صَوتَهُ مِنْ بَعِيدٍ، وَانْفَتَحَ البابُ، وَخَرَجَ رَجُلٌ مِنْ حَدِيْدٍ، في يَدِهِ عَلَامَةٌ يُشِيرُ بِها إِلَى الهَدَفِ وَيُخْبِرُ بِالإِصَابَةِ.

له يوه شتمن كس سره مي جالب شي وليد، له هغه سره يوه تخته وه، د دې تختې پر مخ د روپۍ په شان يو شی و، خلبـدونكی رنگ يې و، چې له لرې ښكاره كېدی.

دې روپۍ (سكې) تـه څېرمـه يـوه كځوړه غوندې شی و، چې لـه باروتو ډک او خوله يې په كاغذ بنده وه، دې تخته كې يو اوسپينزه رسم و: سپاهي وي، د سپاهي جامې يې اغوستې وي او په لاس كې يې خولی وي.

موږ د هدف ويشتلو سيالي سره كوله، دغه روپۍ به مو په مرمی ويشته، كه به انسان روپۍ په نښه كړه، نو تـوپ بـه ډک وكړ، تر لـرې بـه يـې خلكـو اواز واورېـد، دروازه بـه خلاصـه شوه، يـو اوسپينزه سړی به ور څخه را بهر شو، په لاس كې بـه يـې يـوه نښـانه وه، پـه هغې سره به يې نښې ته اشاره كولـه او د نښـې ويشـتلو خـبرداری بـه يـې ور كاوه.

سپاهي به خپله خولۍ پورته كړه، نښه

وَظَهَرَ الجُندِيُّ رافِعاً قُبّعَتَه يُسَلِّمُ على المُصِيب ،وكأنّه يُهَنِّئُه بِنَجاحِه.

وإذا أَخْطَأَ الناسُ لم يَكُنْ شيءٌ: لم يَنْطَلِقِ المِدفَعُ ،و لم يَتَحَرَّكِ الجُنديُّ مِنْ مَكانِه ، وَمِنَ الغَرِيب أنّي كُنْتُ أُصِيبُ القَلسَ في المَرّةِ الثّالِثَةِ دائماً ، وإذا انْطَلَقَ المِدْفَعُ سُرِرْتُ سُرُوراً عَظِيماً.

وبَعْدَ أَشْهُرٍ قَدَرْتُ أَنْ أَسْتَمِلَ البُنْدُقِيَّةَ الكَبِيرةَ ، فَكُنْتُ أَخْرُجُ في الصَّيْدِ ،وأَصِيدُ الحَمَامَ الأخْضَرَ والبَطَّ وأنْوَاعاً مِنَ الطُّيُوْرِ.

وَسَمِعْتُ المُعَلِّمَ يَقُولُ: اِنّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم حَثَّ عَلى الرَّمْيِ كَثِيراً ، وَشَارَكَ في المُنَاصَلَة ، وقال: «اِرْمُوا يَابَنِيْ اِسْمَاعِيلَ! فَاِنَّ أَبَاكُمْ كانَ رامِياً» وقال: «أَلَا اِنَّ القُوّةَ الرَّمْيُ . أَلَا اِنَّ القُوَّةَ الرَّمْيُ.»

ويشتونكي ته به يې سلام كاوه لكه هغه ته چي د نښې ويشتلو مباركي ور كوي.

كه به انسان نښه خطا كړه، هيڅ نه كېدل: نه به توپ ډک كاوه، نه به سپاهي له خپله ځايه تلی. جالبه دا وه چي ما به هره دريمه پلا هميشه سكه ويشته، نو چي كله به توپ ټک وكړ، زه به بېخي زيات خوشاله ښوم.

تر څو مياشتو وروسته د لوی توپک په استعمال وتوانېدم. زه به ښکار ته تلم، شنه كوتره، زانې او ډول ډول مرغان به مي ښكار كول.

ما له استاد څخه اورېدلي وو چي رسول الله ص د نښې ويشتلو تشويق ور كړی دی، په خپله يې هم په سيالي كي برخه اخيستي ده، هغه ويلي: اې د اسماعيل اولاده! نښه ولئ، ستاسو پلار غوره نښه ويشتونكی و. ده ويل: ربښتيا خبره دا ده چي ښه نښه ويشتل قووت دی، خبردار! نښه ويشتل اصلي قووت دی.

فَسُرِرْتُ كَثِيراً ، وَعَلِمْتُ أَنَّ عَمَلِي لَمْ يَكُنْ عَبَثاً ، وَأَنِّي لَمْ أُضَيِّعْ وَقْتِي.	زه به ډېر خوشاله كېدم، په دې سره زه پوه شوم چې زما كار عبث او پالتو نه دی او نه مې زه خپل وخت ضايع كوم.

د الفاظو تشريح:

بُنْدُقِيَّة: د ښكار يا جنگ اسلحه ده چې مرمی په ويشتل كيږي.

حُقَّةٌ: حِقاق او حُقَق يې جمعې دي: له عاج، يا ښيښې يا بل شي جوړ وړوكی څو پوښه لرونكی شی/اجابه.

يَلغُ: د «ض» له بابه مضارع معلومه ده: په ژبه يا منبوكه اوبه څښل/ختل.

الرّشاش: دا لفظ هم د مرمی له پاره كاريږي او هم اتومات وسلو ته، اصلا مرميو ته رصاص وايي.

جِراب: له څرمنې جوړ لوښی چې توښه يا بل شی په كې ساتل كيږي، يا هغه وړه پرده چې پر څينو غړو را چارپېره وي، لكه د ښځينه هكی دانی(جِراب المبيض) يا هم خوټو كځوړه(جراب الخصيتين).

قُبّعة/ قلنسوة: د سر لوپه خولی ده چې سر له باران او لمر څخه ساتي. جمع يې قُبّعات ده.

مِدْفَع: مَدافع يې جمع ده. جنگي وسله ده، چې مرمی په ويشتل كيږي، د دې خورا زياتې نوعې دي. مِدفع د ثقيله او خفيفه دواړو اسلحو له پاره استعمال لري.

المناضَلة: د مفاعلي له بابه مصدر دی: مبارزه، سيالي، دفاع، كوښښ كول.

لغوي لغات:

تسلّح المواطنون بالرّشّاشات والبنادق لمواجهة المحتلّين: خايي خلكو د نيواكگرو /ښكيلاكگرو خلاف په اتوماتيكو اسلحو مقابله وكړه.

البندقيّة المواترة/ النّدقية المتواترة: هغه توپک چې پرلپسي تكان كولاى شي او تر هر تک وروسته د مرمى ور اچولو ته اړتيا نه لري.

بندقية مفردة: يو تكى، منفرد تک كوونكى.

جراب السّيف: د توري پوښ، تيكي.

رَجُلٌ تُرفع له القُبّعات: محترم كس دى، خولى له سره ورته پورته كيږي، د احترام او درناوي وړ.

رفع له القُبّعة: سلامي يې ورته وكړه، درناوى يې وكړ.

مِدفعٌ رَشّاشٌ / مدفع للطائرات: د الوتكو ضد اسلحه، دافع هوا.

مِدفع الإمساك: د پيشلمي مهال دروند تک دى چې خلكو ته د روژې د پيل خبر ور كوي.

مِدفع الإفطار: په روژه كې د روژه ماتي د وخت لوى دز دى چې د روژه ماتي د وخت خبرداري ور كوي.

مِدفع الماء: هغه وسايط چې له ځان سره اوبه لري، د لاريون د پاشلو په پار ور باندې په فشار اچول كيږي چې خلک سره وپاشل شي.

ناضَل عنه في غيبته: د هغه په غياب كې يې ور څخه دفاع وكړه.

ناضَل عن أفكاره: له خپلو افكارو يې دفاع وكړه.

ناضل من أجل الحرّيّة: د ازادى په لار كې يې مبارزه وكړه.

مُناضِل في سبيل الحقّ: د رښتني /حقي لاري مبارز.

نضال سياسيّ: سياسي فعال.

(٢١)

الجَمَلُ

اوښ

(١)

أُنْظُرُوا إِلَى الإِبِلِ: كَيْفَ خُلِقَتْ ، تَرَوْهَا لاَ مَثِيلَ لَهَا فِي الخِلْقَةِ ، فَإِنَّ الجَمَلَ أَكْبَرُ الحَيَوَانِ الدَّاجِنِ جِسْماً وَأَطْوَلُهُ سَاقاً ، وَلِذلك كَانَتْ رَقَبَتُه طَوِيلَةً ، حَتَّى يمّكنه أَنْ يَرْعَى الْكَلأَ مِنَ الأَرْضِ بِدُونِ أَنْ يبرّكَ ، وَرَأْسُهُ صَغِيرٌ لِيَكُونَ خَفِيفَ الحَمْلِ عَلَى رَقَبَتِهِ ، وَأَرْجُلُه فِيهَا أَخْفَافٌ تَمْنَعُ سَوْخَهَا فِي رِمَالِ الصَّحْرَاءِ الَّتِي كَثِيراً مَا يَسِيرُ فِيهَا ، وَعَلَى ظَهْرِهِ سَنَامٌ كُلُّه شَحْمٌ ، يُرَكَّبُ عليه القَتَبُ ، وَعَيْنَاهُ سَوْدَاوَان واسعَتَان ، تَشِفَّانِ عَنْ حِلْمٍ وَدَعَةٍ ، وَلَهُ فِي وَسْطِ بَطْنِهِ قُرْصٌ غَلِيظٌ

تاسو اوښ ته وګورئ: څنګه پیدا شوی دی، تاسو به یې په خلقت کې هیڅ ساری ونه وینئ؛ ځکه اوښ په اهلي حیواناتو کې د جسم په لحاظ ستر او پښې یې خورا اوږدې دي. له دې امله د هغه غاړه هم ډېره اوږده ده، ان هغه له دې پرته چې پر ګونډو شي، د ځمکې وښو ته یې خوله رسېږي، سر یې بیا کوچنی دی. څو یې د غاړې له پاره بارول سخت نه وي، پښې یې پلنې دي، څو د شاړا په ریګو کې یې پښه ښخه نه شي. ځکه ریګو کې زیاتره اوښان مزل کوي، پر شا یې یو بوک/کومی دی، تول له وازګو ډک وي، د واړه قد کسان پر سپرېږي، سترګې یې توري او پراخې دي، د دواړو خلا د اوښ پر زغم او

يُسَمَّى الْكَلْكَلُ ، يَسْتَنِدُ عَليه مَتى بَـرَكَ ، ولـه في أرْجُلِـه قِطَـعٌ عَديمَةُ الحِسِّ في مَوَاقِعِها على الأرضِ.

وَجَـوْفُ الجَمَـلِ عَجيـبٌ في تَرْكِيبِه ، لأنه يَحْتَوِيْ على جُمْلَةِ كُـرُوْشٍ ، يَخْـزُنُ فِيهـا مِقْـداراً عَظيماً مِنَ الغِذاءِ ، حَتَّى اِذا جاعَ ، ولَـمْ يَجِـدْ أكْـلاً ، أخْـرَجَ مِـنْ كِرْشِه جَرَّةً ، واجْتَرَّها ، ولِـذلك يُسَمَّى حَيَوَانـاً مُجْتَراً ، وإذا فَـرَغَ مَا خَزَنَه في جَوْفِه ، فَإنَّ شَـحْمَ سَنَامِه يَتَحَلَّلُ شَيئاً فشَيئاً لِيَغْذُوه وَيَكْفِيه مُدَّةً طَوِيلَةً.

وَلِلْجَمَلِ في جَوْفِه جُمْلَةُ أزْقَاقٍ تَمْتَلِيءُ بِالمَـاءِ عِنـدَمَا يَشْرَبُ ، حَتَّى اِذا عَطِشَ في مَكانٍ قَفْرٍ لاَ مـاءَ فِيـه ، أغْنَـاهُ مَـا خَزَنَـه عَـنِ الشُّرْبِ زَمَناً طَوِيلاً.

سکون دلالت کوي. تر سینې لاندې یې یوه غټه سخته تکی (تنی) ده چې عرب ورته کَلْکَل وایي، د ناستې مهال پر همدې تکی تکیه کوي، پښې یې له بې احساسه ټوټو جوړې دي، کله چې پر ځمکه لګیږي، هیڅ نه احساسوي.

د اوښ نس بیا هم ډېر جالب جوړښت لري، ځکه په هغه کې څو میدې شته چې خورا زیاته اندازه غذا زیرموه کوي، کله چې وږی شي او وابنه ونه مومي، نو د ذخیرې له میدې یې په یوه وار را کاږي، شوخوند پر وهي. له دې امله د شوخوند وهونکو حیواناتو په ډله کې شامل دی. کله چې یې د نس ذخیره خالي شي، نو بیا یې د بوک وازګې سوکه سوکه را ویلیږي، د هغه غذا شي او یوه اوږده موده ورته بسنه کوي.

همدا راز اوښ په نس کې مشک لري چې کله اوبه څښي، نو له اوبو یې ډک کړي، بیا که په بیدیا کې تږی شي، هلته اوبه نه وي، تر ډېره وخته یې همدا د خپلې ذخیرې اوبه ورته بسنه کوي.

د الفاظو تشريح:

الداجِن: د الدواجن جمع ده: اهلي حيوانات او مرغان، هغه مرغان او حيوانات چي په كورنو كي اوسي او ورسره يې انس مينډلى وي.

أخفافٌ: د خف جمع ده: څپره، پلنه پښه.

سَوْخَها: د «ن» له بابه مصدر دى: ننوتل، ښخېدل.

سَنَامٌ: أسْنِمَة يې جمع ده: د اوښ پر ملا را بوكه غوښه ده چي دننه له وازگو ډكه ده. بوک/كومې.

القَتب: د أقتاب جمع ده، لنډى قدى سرې، د اوښ د بوک په اندازه لنډى كس.

تَشفّان: څلېږي، چي تر همدې ستركو شا ته يې زغم او سكون پېژندل كېږي.

كِرْشٌ: د كُرُوش جمع ده، ميده.

زَقٌ: أقاق يې جمع ده: د څرمنې مشک.

دَعَةٌ: د «ک» له بابه مصدر دى: سكون، ډاډ، اطمينان، سوكالي.

مُجْتَرٌ: مُجترات يې جمع ده: وابنه خوړونكي حيوانات چي په نس كي يې د څرېدلو مهال جمع كوي، كله چي ارام پرېوزي، بيا يې را كاږي او شوخوند پر وهي.

قِطَع: د قِطعة جمع ده، قِطعات يې جمع ده: د يوه شي جز، برخه، حصه، د مقالې يا كتاب وړه برخه، د يوه نظم له دوو تر شپږو د بيتونو ټوټې ته هم ويل كېږي.

نوي لغات:

ساخَتِ رِجلُه في الأرض: پښه يې په ځمكه ننوته.

ساخت بهم الأرض: ځمكې دننه كړل.

قَطْعيٌ: پرېكنده، قطع ته منسوب دى.

أمرٌ قَطْعيٌ: باوري چاره ده.

أدلّة قطعيّة تُثبت براءتَه: باوري دلايل يې بې گناهي ثابتوي.

ممنوع الانتظار قطعياً: دغه عبارت په يوه ځاى كي د انتظار د خطر خبرداري ور كوي.

(٢٢)

الْجَمَلُ

اوښ

(٢)

فِي عِدَّةِ جِهَاتٍ مِنَ الدُّنْيا صَحَارَى قَاحِلَةٌ لَا حَيَوَانَ فِيها، ولا نَبَاتَ، أَرْضُها رِمالٌ جَافَّةٌ.

لَا تَرى فِيها قَطْرَةَ مَاءٍ، يَسْلُكُها الناسُ اضْطِراراً، فَيَحْمِلُون زَادَهم: مِنْ مَاءٍ وَطَعامٍ، على ظُهورِ الجِمالِ، وَيَسِيرُونَ في تِلْكَ القِفارِ مُجْتَمِعِينَ، وإِبِلُهُم مُتَتَابِعَةٌ كَالقِطَارِ، وَهِيَ تَسِيرُ بِهِم هَادِئَةً سَاكِنَةً، تَصْبِرُ على الجُوعِ والعَطَشِ مُعْظَمَ الطَّرِيقِ، لِأَنَّها قَدْ خَزَنَتْ مُؤْنَتَها في جَوْفِها قَبْلَ الرَّحِيلِ، وَتَحْمِلُ فَوقَ ذلك مِنَ المَتَاجِرِ أَحْمَالاً ثِقالاً، لا تَئِنُّ مِنها ولا تَكِلُّ فَتَرَى الْجَمَلَ كَأَنَّه مَرْكَبٌ يَشُقُّ تِلْكَ الرِّمَالَ الْوَاسِعَةَ، وَلِذا سُمِّيَ «سَفِينَةَ الصَّحْرَاءِ». وَإِنَّ

د نړۍ په يو شمېر ګوښو کې کې بېدياوې شته چې وچې کلکې دي هيڅ ډول حيوان او واښه په کې نه شته، ځمکه يې وچ کلک ريګونه دي.

هلته به يو څک اوبه هم ونه وينې. خلک د اړتيا له امله پرې ور ځي. تو له خپلو ځانو سره يې د سفر توښه اخلي: اوبه، خوراکي مواد، د اوښانو پر شا بار وي، په همدې وچه بېديا کې ډله ييز سفر کوي، اوښان يې کې پر ليکه يو په بل پسې روان وي، لکه د اورګاډي ډبې. اوښان په دې دښته کې دوی په ارامه او سکون سره بيايي، د لارې پر لويه برخه اوښ خپله لوږه او تنده کنټرولوي؛ ځکه اوښ تر سفر وړاندې خپل ازوغ په نس کې زيرمه کړی دی، پر دې سربېره يې له مارکېټه درانه بارونه هم را بار کړي وي، چې نه دردمنېږي او نه ستومانه کېږي، اوښ ته چې ګورې لکه کښتۍ.

ضَلَّ المُسَافِرُونَ الطَّرِيقَ فِي الصَّحْرَاءِ يَأْخُذُهم القَلَقُ عَلى حَيَاتِهِمْ ، مَخَافَةَ أَنْ يَنْفَدَ زَادُهُمْ فَيَمُوتُونَ جُوعاً وَعَطَشاً . وَلٰكِنَّ الجَمَلَ يُنْقِذُهُمْ أَحْيَاناً مِنْ تِلك الأخطَارِ ، لِأَنَّهُ يَشُمُّ الماءَ مِنْ بُعْدٍ ، فَيَسِيرُ نَحْوَهُ بِسُرْعَةٍ غَرِيبَةٍ ، لِيَسْتَقِي صَاحِبُهُ.

وَالْجَمَلُ سَهْلُ القِيَادِ ، لَيِّنُ الطِّبَاعِ ، يَتَحَمَّلُ كَثِيراً مِنَ الأَذَى بِالصَّبْرِ ، وَلَكِنَّهُ يَثُورُ مَتَى بَلَغَ الأَذَى شِدَّةً عَظِيمَةً ، فَيَنْتَقِمُ مِمَّنْ آذَاه ، وَلَا يَتْرُكُهُ إِلَّا ثَأَرَ لِنَفْسِهِ وَفَتَكَ بِهِ.

وَإِذَا قَوِيَ الجَمَلُ اشْتَدَّ بَأْسُهُ وَعَافَ الأَكْلَ مَا لَمْ يُوْضَعُ فِي فَمِه ، وَيَقُولُ النَّاسُ عَنْه: إِنَّهُ صَائِمٌ ، وَفِي هٰذِهِ الحَالَةِ يُخْرِجُ شِقْشِقَتَهُ مِنَ حَلْقِهِ وَيُشَقْشِقُ مِنَ الغَضَبِ.

همدا ريگني پراخې دښتې طی کوي. له دې امله اوښ (سَفِينَةَ الصَّحْرَاءِ) بلل شوی. که به مسافرو په بيديا کي لار ورکه کړه، دوی به له دې امله پر خپل ژوند ودار شول چي هسې نه توښه يې ور خلاصه شي، نو به لوږې او تندې ومري، اما گايه به اوښ له دې خطرونو څخه وژغورل، ځکه پر اوښ له ډېره لرې څخه د اوبو بوی ورځي، نو د اوبو لور ته په ډېره تېزي مزل کوي، چي خپل څاوند اوبه کړي.

اوښ اسانه رهبري کيږي، طبيعت يې نرم دی، په ډېر زغم و صبر سره خورا زيات مشکلات برداشت کوي، اما که اذيت او تکليف يې صبر ور تمام کړي، نو بيا را پاريږي هم، له هغه چا څخه انتقام اخلي چي تکليف يې ور کړی وي، تر هغو يې نه پرېږدي چي خپل غچ ور څخه واخلي يا هغه مړ کړي.

اوښ که پياوړی وي، نو قووت او سختي يې هم زياته وي، خوراک چي يې څو په خوله کي ور نه کړل شي، نه يې خوري، دغه وخت د هغه په اړه خلک وايي: د اوښ روژه ده، نو دې

	حالت کې هغه له خولې خرتوم را وباسي او له ډېرې غوسې ناري کړي.

د الفاظو تشریح:

قاحِلة: د «س» له بابه مونث اسم فاعل دی: وچه، بې وښو.

القِفار: د قفر جمع ده، هغې ځمکې ته وايي چې اوبه، واښه او خلک ور باندې نه وي.

المتاجِرِ: اسم مکان دی، مفرد يې متجَر دی: منډی، دوکان، هټی، مارکېټ.

لا تتن: د «ض» له بابه مضارع معلومه واحد مونث غائب دی: له درده اسويلی کښل.

كلَّ: د «ض» له بابه مضارع معلومه واحد مونث غائب دی: ستوماني، ستړيا، خستګي.

عَاف: بد ګڼل، عاف الجملُ الأكل: خوراک يې بد وګاڼه نو پرې يې ښودی.

شِقشِقته: شَقَاشِق يې جمع ده: د غوسې مهال اوښ له خولې د بدوګي /پښتورګي په شان يو شی را باسي، هوا په کې پوک کړي. ځينې پښتانه ورته خرتوم وايي.

نوي لغات:

قحِلتِ الأرضُ: ځمکه وچه او بې وښو شوه.

بحثتُ عن هذه السلعة في العديد من المتاجر: په يو شمېر هټيو کې مې د دې سامان لټه وکړه.

صاحب متجر: د دوکان خاوند، د تجارتي مرکز مسوول او مدير کس.

متجر كبير: د سوداګرۍ لوی ځای، چې ځو برانچونو /څانګو ته وېشل شوی وي.

(٢٣)

أنا هُنا فاعرِفُوني!

زه دلته يم، ومې پېژنئ!

زما د پيدايښت ځاى او وطن مي تاسو سمندر بولئ، زه د يوه ستر امت زوى يم، چي پر زرگونه كيلومتره مسافه غزيدلى دى، دوى وايي: زما امت د وچي تر امت ستر دى، رښتيا هم موږ د ځمكني كرې له څلورو دريو برخې نيولي ده، وچه برخه يې يوازي څلورمه پاته ده. دوې مياشتي وړاندي زه له خپله وطنه جلا شوم، هغه وخت چي د دغه دوبي گرمي زياته شوه، بخار جوړ شو، له سمندر څخه جلا شو، بادونو تر لرې غرونو وخغلاوه، دغه وخت دا د اسمان او ځمكي ترمنځ ولاړه وريځ وه، كله چي الهي امر ورته وشو، نو دغه بخارات گرم شول او پر ځمكه د پرلپسي څاڅوك په شان را نازل شول، خلكو ويل: باران، باران! او زه دلته يم،	مَوْلِدِيْ وَوَطَنِي مَا تُسَمُّونَهُ البَحْرَ! أنَـا ابنُ أُمَّـةٍ عَظِيمَةٍ ، قَـدِ امْتَدَّتْ علـى مسـافَةِ آلافٍ مِـنَ الأَميـالِ ، وَيقُولُونَ: اِنَّ أُمَّتِي أَعْظَـمُ مِـنْ أُمَّـةِ البَرِّ ؛ فَقَدْ شَغَلْنَا نَحْـنُ ثَلاثَـةَ أَرْباعِ الكُرَةِ ، واليابِسُ مِنْها نَحْوُ رُبْعٍ. وَقَدْ فَارَقْتُ وَطنِـي قَبْـلَ شَهْرَيْنِ ، لَمَّا اشْتَدَّ الحَرُّ في هـذا الصَّيْفِ ، تَكَـوَّنَ بُخَـارٌ ، وَفَـارَقَ البَحْـرَ ، وَسَـارَتْ بِـهِ الرِّيَـاحُ اِلـى الجِبـالِ ، وهو السَّحابُ المُسَخَّرُ بَينَ السَّماءِ والأرضِ ، فَلَمَّا جَاءَهُ الأمْرُ مِنَ اللهِ ، تَحَلَّـلَ هـذا البُخـارُ بِالحَرَارَةِ ، وَنَزَلَ قَطَرَاتٍ قَطَرَاتٍ عَلـى الأرضِ ، وقال الناسُ: المطَرُ! المطَـرُ! وَأَنـا هُنَا ، فَاعْرِفُوني. لَعَلَّكُمْ رَأَيْتُمْ قِدْراً عَلـى النـارِ فيهـا

ماءٌ . فَإذا غَلَتِ القِدرُ . تَصَاعَدَ
مِنها مِثْلُ دُخَانٍ ، وهو البُخارُ ، وَأَنا
هُنا ، فَاعْرِفُونِي.

وَإِذا نَزَلَ المطَرُ ، وَجَمَدَتْ قَطَراتي
مِنَ البَرْدِ ، وَوَقَعتْ عَلَى الأرضِ
مِثْلَ الزُّجَاجِ ، قال النَّاسُ: البَرَدُ!
البَرَدُ! وَأَنَا هُنا ، فاعرِفُوني.

وَقَدْ أَسْقُطُ في الجِبَالِ مِثْلَ
الصُّوفِ الأبيَضِ اللامِعِ ، وَأَلْمَعُ
في الشَّمْسِ مِثْلَ اللُّجَيْنِ ، فَيَكُونُ
مَنْظَراً جَمِيلاً ، وَيَقُولُ النَّاسُ:
الثَّلْجُ! الثَّلْجُ! وأنا هُنا ، فاعرِفُوني.

وَقَدْ يَشْتَدُّ البَرْدُ في الشِّتَاءِ ، فَيَجْمُدُ
مَا كان مِنَ الماءِ ، وَيَقُولُ النَّاسُ:
الجَلِيدُ الجَلِيدُ! وَأَنا هُنَا ،
فَاعْرِفُوني.

وَإِذا هَبَطْتُ مِنَ الجبالِ إلى الأرضِ
، وَزَاحَمَنِي صُخُورٌ أَوْ أَحْجَارٌ ،
كان شَلَّالٌ يَكُونُ لَهُ صَوْتٌ هَائِلٌ
وَمَنْظَرٌ جَمِيلٌ ، وَأَنا هُنا ،

ما وپیژنئ!

ښايي تاسو به پر اور باندې كټو لېدلي
وي، چې اوبه په كې وي، هر وخت
چې كټو وايشېږي. نو له كټوې د دود
په شان يو شی پورته كېږي. همدغه
بخار دی. نو زه دلته يم. ما وپيژنئ!

يا چې باران نازل شي. زما څاڅكي د
يخ له امله ايخى شي، پر ځمكه كې
ويرېږي لكه ښيښه. يا خلك وايي:
يخ، يخ! نو زه دلته يم. ما وپيژنئ!

زه پر غرونو هم د سپينې ځلېدونكې
وړی په شان نازلېږم. په لمر كې د
سپينو زرو په شان برېښم. له دې څخه
يوه غوره منظره را پيدا شي. يا هم
خلك وايي: واوره، واوره! زه دلته يم.
ما وپيژنئ!

ژمي كله يخ ډېر سخت شي. نو اوبه
ايخى شي. خلك وايي: ايخى ايخى!
زه دلته يم. ما وپيژنئ!

كله چې له غرونو څخه
ځمكې(سمې) ته را كښته شم، غټې
كمرونه او تيږې را سره ټكر شي، نو

فَاعْرِفُوني!

وَإذا اجْتَمَعَتْ شَلاَّلاتٌ ، خَرَجْتُ مِنَ الجِبالِ ، فَكُنْتُ نَهْراً ، يَكُونُ فِي مَبْدَئِـهِ صَغِيراً ، ثُـمَّ يكُـونُ عَرِيضاً عَمِيقاً ، وقال النـاسُ: نَهْرُ السِّنْدِ ونَهْرُ دِجْلَـةَ ، والفُـرَاتِ ، والنِّيلِ ، وأَنا هُنا ، فاعْرِفُوني.

لَعَلَّـكَ رَأَيْـتَ فِي الصَّبَاحِ أَيَّـامِ الشِّـتَاءِ مِثْـلَ الـدُّخَانِ ، وَيُسَـمِّيْهِ النـاسُ الضَّـبَابَ ، وَأَنـا هُنـا ، فاعْرِفُوني:

وَلَعَلَّكَ رَأَيتَ قَطَرَاتٍ على أَوراقِ الأَشْجَارِ ، وَعَلَى العُشْبِ والأَزْهارِ ، في أَيَّامِ الشِّتَاءِ ، وَيُسَمِّيْها النـاسُ الطَّلَّ والنَّدَى ، وَأَنا هُنا، فاعْرِفوني.

وَقَدْ أَجْمُدُ بِالصِّنَاعَةِ في المَصَانِعِ ، وَيَحْرِصُ عَلَيَّ الناسُ أَيَّامَ الصَّيْفِ ، فَـلا يَشْرَبُونَ المـاءَ بِغَيرِ هـذا الجَمَدِ ، ولَا يَرْوَوْنَ اِلاَّ بِهِ ، وَأَنا هُنا ، فَاعْرِفُوني.

ابشار را پيدا شي، دا لوړ اواز كوي او يوه ښه منظره را جوړه كړي، نو زه دلته يم، ما وپيژنئ!

څه وخت چي ابشارونه سره يو ځاى شي، نو زه له غرونو څخه را وزم، بيا وياله شم، په لومړي سر كي وړه وي، بيا وروسته سرووره او ژوره شي، خلك وايي: نهر السند، نهر دجلة، نهر الفرات، نهر النيل او زه دلته يم، ما وپيژنئ.

ښايي د ژمي په سهار كي به دې د دود په شان يو څه ليدلي وي، خلك ورته توږ وايي، نو زه دلته يم، ما وپيژنئ.

ښايي تا به د ونو پر پانو څاڅكي ليدلي وي، همدا شان پر وښو او ګلانو هم په ژمي كي پراته وي، خلك ورته نرم باران او شبنم وايي، نو زه دلته يم، ما وپيژنئ.

او زه په فابريكو كي ايخى كېږم، د دوبي په ورځو كي خلك را باندي ډېر حريصناك وي، اوبه له دې ايخي پرته نه څښي، يوازي د همدې ايخي اوبه څښي، نو زه دلته يم، ما وپيژنئ!

د الفاظو تشريح:

القِدْر: قُدُور يې جمع ده: کټو، د خوراک پخولو يو لوښی دی.

الزّجاج: ښيښه، روڼ جسمه دی چې اسانه ماتيږي، له دې څخه بيلابيل دولونه شيان او لوښي جوړ شوي دي.

الصّوف: خپله جمع ده: د پسونو پر بدن ولاړ وېښتان، په عربي کې صوف بولي. د اوښ هغو ته وبر وايي او د اوزو وېښتانو ته شعر ويل کېږي. جمع الجمع يې أصواف ده، مفرد يې صوفة دی.

الضّباب: د ژمي په موسم کې له ځمکې پورته کېدونکی توښ/بخار دی چې ژر سره منتشر کېږي. مفرد يې ضَبابة دی او جمع الجمع يې أضِبّة راځي.

شلّالات: ابشار، له لوړه ځايه د اوبو را تويدل چې جوړجوړويی جوړ کړي او بڼ کوي. مفرد يې شَلّال دی.

الطّل: نرم باران چې لږ غونډې اثر يې پاته شي. طِلال يې جمع ده.

النّدی: د اوبو څاڅکي دي چې سهار مهال پر وښو يا نورو شيانو ليدل کېږي، شبنم.

اللُّجين: سپين زر.

نوي لغات:

البيتُ الزّجاجي: له ښيښو جوړه ودانۍ ده چې واښه يا تېز شنه کېدونکي تخمونه په کې کري.

بائع الزجاج او صانعه: ښيښه پلور يا جوړونکی.

شفّاف كالزُّجاج: د ښيښې په شان روڼ.

فلانٌ صوفته حمراء: پر پلاني تهمت دی، د بدو گومان ور باندې کېږي.

خرقاء وجدت صوفاً: د هغه چا په اړه متل دی چې يو شی پيدا کړي. قيمت يې نه پيژني. ور څخه ضايع شي.

يكثرُ الضّباب في المدن السّاحليّة: د سمندر پر څنډه پرتو ښارونو کې بخارات زيات وي.

تبلّل وجهُ الأرض بالطّل: د ځمکې مخ نرم باران لوند کړ.

(٢٥)

سَفِينَةٌ على البَرِّ

د وچې كښتۍ

هَلْ سَمِعْتَ بِسَفِينَةٍ تَسِيرُ عَلَى الـبَرِّ؟ وَهَلْ تُصَدِّقُ اذا أَخْبَرَكَ بِه أَحَدٌ؟! أَظُنُّكَ تَقُولُ ـ وَلَكَ الحَقُّ ـ : مَا سَمِعْنَا بِهٰذا في آبائِنا الأَوَّلِينْ. وَلكِنَّ مُحَمَّداً الثَّاني العُثْمَانيَّ فَاتِحَ القُسْطُنْطِينِيَّةِ ، سَيَّرَ سَبْعِينَ سَفِينَةً عَلَى البَرِّ.	ايا تر اوسه دې اورېدلي دي چې كښتۍ پر وچه ځي؟ او كه يو څوک په دې اړه خبر در كړي، رښتيا به يې وګڼې؟ زما په اند ته به كې ووايې -او حق يې هم لرې- : زموږ له اسلافو مو په دې اړه هيڅ نه دي اورېدلي. خو د قسطنطنيې فاتح محمد ثاني عثماني پر وچه اويا كښتۍ رواني كړې.
هَلْ تَعْرِفُ كَيفَ كَانَ ذٰلِكَ؟	پوهېږې دا څنګه و؟
غَزَا العَرَبُ القُسْطَنْطِينِيَّةَ العُظْمى سِتَّ مَرَّاتٍ ، ولم يفتحوها ، وقد قَدَّرَ اللهُ أَنْ يَكُونَ هذا الفتحُ العَظِيمُ بِيَدِ شَابٍّ مُسْلِمٍ مِنْ آلِ عُثْمَانَ ، وهو في الرَّابِعَةِ وَالْعِشْرِينَ مِنْ عُمُرِهِ ، وَذٰلِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ.	عربو پر ستره قسطنطنيه شپږ پلا بريد وكړ، تر پايه يې فتح نه كړه. الله تعالى دغه ستره فتح د عثمان له كورنۍ څخه د يوه مسلمان ځوان په تقدير كې ليكلې وه، د هغه عمر دا وخت څلورويشت كاله و، نو دا الهي فضل دی چې هغه يې چا ته وغواړي، ور كوي يې.
زَحَفَ مُحَمَّدٌ الى القُسْطَنْطِينِيَّةِ ، وأَعَدَّ لِذلك عُدَّةً عَظِيمةً ، فَقَدْ قال اللهُ تعالى:	محمد د قسطنطيه خوا ته لښكر وخوځاوه، د همدې له پاره يې لوی

(وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ).
فَكَانَ تَحْتَ قِيادَتِهِ ثَلاثمئةِ أَلْفِ مُقَاتِلٍ ، وَمَعَهُ مِدْفَعِيَّةٌ هَائِلَةٌ ، فِيهَا مِدْفَعٌ لا يُوجَدُ في أُورُبَّا أَضْخَمُ مِنْهُ ، أَعَدَّهُ لِذلِكَ ، مَرْمَاهُ أَكْثَرَ مِنْ مِيلٍ.
وَكَانَ أُسْطُولُهُ مُرَكَّباً مِنْ مِئَةِ سَفِينَةٍ حَرْبِيَّةٍ.
وَكَـانَ مُحَمَّـدٌ رَأى أَنَّ العَـدُوَّ قَـدْ سَلْسَلَ خَلِيجَ قَرْنِ الـذَّهَبِ ـ وهـو مَـدْخَلُ القُسْـطَنْطِينِيَّةِ ـ بِالسَّلاسِلِ ، فَكَيْفَ يَعْبُرُهُ بِأُسْطُولِهِ؟
فَكَّرَ مُحَمَّدٌ ، وَلَمْ يَعْجَزْ ولم يَيْأَسْ ، وَوَجَدَ حِيْلَةً!
رَأى أَنَّـهُ يُمْكِـنُ العُبُـورُ إِلـى القُسْطَنْطِينِيَّةِ مِنْ جِهَةِ قاسم باشا.
ولكنَّ هذه الجِهَةَ بَعِيدَةٌ مِنْ سُفُنِهِ ، فَمَنْ يَحْمِلُها وَمَنْ يَنْقُلُها مِنْ هـذه الجِهَةِ الى تِلْكَ الجِهَةِ ، والمَسَافَةُ بَعِيدَةٌ؟
فَكَّرَ مُحَمَّدٌ ، ولم يَعْجَزْ ولم ييأس

چمتوالی نیولی و. الله تعالی ویلي دي: (وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ). له خپل وس سره سم چمتوالی ورته وکړئ.
ده دغـه وخـت د دري لکـه لښـکر مشري کوله. ورسره يې ستر توپونه هـم اخيستي وو. لـه دي توپونـو يـو توپ دومره ستر و. چي ساری يې په ټوله اروپا کي نه و. چي ده د همـدې له پاره تيار کړی و، ننښه به يې تـر يـو ميل لرې ويشته.
جنګي قوه يې لـه سلو جنګي بېړيـو جوړه وه.
محمد وليدل چي دښمن قسـطنطنيې ته د ننوتلو لار قرن الذهب خليج په ځنځيرانو بند کړی دی، نو دی به خپله جنګي قوه څه ډول ور تېره کړه؟
محمـد فکـر وکـړ. نـه لـه خپلـه کـاره ناتوانه شو او نه ناهيلی، بس يوه چاره يې ورته وسنجوله.
ده فکـر وکـړ چـي قسـطنطنيې تـه د قاسم پاشا له خوا هـم راتـګ شـونی دی. اما دغه لوری بيا د ده لـه کښـتيو

ووجد حِيلَةً!

طَلَى الأخشَابَ بِالشَّحْمِ. فَلَمَّا أَمْلَسَتْ أَزْلَقَ عَلَيها السُّفُنَ. وهي سَبْعُونَ سَفِينَةً.

وَمَا رَاعَ أَهْلُ القُسْطَنْطِينِيَّةِ، الاّ وَسُفُنُ المُسْلِمِينَ قَدْ أَرْسَتْ عَلَى سَاحِلِ القُسْطَنْطِينِيَّةِ. وَسُقِطَ في أَيْدِيهِمْ.

وَهَكذا أَخَذَ مُحَمَّدٌ القُسْطَنْطِينِيَّةَ - عَاصِمَةَ الدَّوْلَةِ البِيزَنْطِيَّةِ - وَسَقَطَتْ عَاصِمَةُ النَّصْرَانِيَّةِ المَنِيعَةُ أَمَامَ قَائِدٍ مُسْلِمٍ شَابٍّ.

ولاَ تَزَالُ هٰذِهِ المَدِينَةُ العَظِيمَةُ، وتُرْكِيَا، في يَدِ المُسْلِمِينَ مِنَ سَنَةِ ۸۵۳هـ يَوْمَ فَتَحَهَا مُحَمَّمُ بنُ مُرَادٍ - الِى يَومِ الناسِ هذا.

وَ (لِلهِ الأَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ).

ډېر لرې و. څوک به یې هلته وړي او له هغې لارې به یې څوک دلته راولي، دا خو ډېر زیات واټن دی؟

محمد بیا هم فکر پر وکړ. نه یې ناتواني ښکاره کړه او نه ناهیلي. بلکې یوه چاره یې ورته وایسته!

لرګي یې په وازګو غوړ کړل. کله چې ښه پاسته شول، نو کښتی یې پر ور تېرې کړې. د کښتیو شمېر تر اویا رسېدی.

د قسطنطنیې خلک هغه وخت وډار شول چې د مسلمانانو کښتی د قسطنطنیې پر ساحل ودرېدلې او دوی یې په بشپړ ډول حیران دریان کړل.

دغه ډول محمد د بیزنطیني دولت پلازمېنه قسطنطنیه ور څخه ونیوله. د یوه ځوان مسلمان سپه سالار په وړاندې د نصرانیت محکمه پلازمېنه را ولوېده.

له هماغې سنې ۸۵۳ هـ - څخه چې دغه ستر ښار محمد بن مراد فتح کړ او ترکیه تر نن ورځې پورې د مسلمانانو په لاس کې دي.

او د چارو کنټرول وړاندې او وروسته بیا هم د الله په واک کې دی.

د الفاظو تشريح:

أَضْخم: اسم تفضيل دی: ډېر ستر، ډېر لوی.

مَرْمی: اسم مكان دی: هغه ځای/نښانه چي په غشي يا بل شي ويشتل كېږي.

مَرَام يې جمع ده.

مصدر ميمي دی: هغه هدف چي انسان يې له خپل كار يا كلام څخه ولري.

يا هم په فوټبال كي د ګول ځای ته ويل كېږي چي بايد توپ هغه ځای ته ور وويشتل شي.

أسطول: د أساطيل جمع ده: د جنګي يا تجارتي كښتيو ګروپ يا ټولګې ته عرب اسطول وايي.

أَمْلَسَتْ: د افعال له بابه ماضي ده: نرمېدل، پستېدل.

أَزْلَق: د افعال له بابه ماضي معلومه ده: ازلق عليه السفن: كښتى يې پر ټېله كړې.

أرست: د فعال له بابه ماسي ده: درېدل.

عاصمة: د يوه هيواد پلازمېنه، مركز، پايتخت.

نوي لغات:

كان أضْخم رجُلٍ في الحفلة: په غونډه كي يو ډېر لوی بدنی كس و.

أطلق الكرة إلى المرمى: توپ يې سيده پر هدف وويشت.

بلغ مرماه: خپل هدف ته ورسېد.

هذا كلام بعيد المرمى: د دې خبرې هدف لرې دی.

بعيدُ مرمى النظر: ژور فكره دی، لرليد لري.

هذا الشيءُ في مرمى النظر: په سترګو يې ليدل شوني دي.

حارس المَرمى: ګول كيپر، ګولكي.

قائمة المرمى: په ميدان/لوبغالي كي يوه لور ته يوه ستنه چي ګول ور څخه جوړېږي.

توقفت السفن عند الشاطيء: كښتى پر ساحل ودرېدلې.

(٢٦)

الخَلِيْفَةُ عمرُ بنُ عبدِ العَزِيْزِ رحمه الله

خليفه عمر بن عبد العزيز رحمه الله

(١)

وُلِدَ عُمَرُ بنُ عبدِ العزيزِ سنةَ ٦١ هـ . وَأُمُّهُ أُمُّ عَاصِمٍ بِنْتُ عَاصِمِ بنِ عُمَرَ بنِ الخَطَّابِ ، جَمَعَ القُرْآنَ ، وهو صغيرٌ ، وبَعَثَهُ أبوهُ الى المَدِينَةِ يَتَأَدَّبُ بها ، وكانَ يَأْتي عَبْدَ اللهِ بنَ عمرَ كثيراً ، لمكانِ أُمِّه منهُ، ثُمَّ يَرْجِعُ الى أُمِّهِ ، فَيَقُولُ: يَا أُمَّه! أَنَا أُحِبُّ أَنْ أَكُونَ مِثْلَ خَالِي.

وكانَ عمرُ بنُ عبدِ العَزِيزِ في شَبَابِه مُتَنَعِّماً ، يُكْثِرُ مِنَ الطِّيبِ ، حَتّى تُوجَدَ رَائحَتُهُ في المكانِ الذي يمُرُّ بهِ ، ويَمْشِي مِشْيَةً تُسَمَّى «العُمَرِيَّةَ» كَانَ الجَوَارِي يَتَعَلَّمْنَهَا مِنْ حُسْنِها ، ولَمْ يَزَلْ

عمر بن عبد العزیر رحمه الله په ٦١هـ کي پیدا شوی دی. د هغه مور أمّ عاصم بنت عاصم بن عمر بن الخطاب وه. ده په ماشومتوب کي قران را جمع کړ. پلاريې مديني ته د ښې تربيې له پاره ولیږی. هغه به عبد الله بن عمر رض ته ډېر ورتلی. ځکه مور يې هغه ته ګرانه وه. بيا مور ته راغی. ورته ويل يې: اې مور جاني! زه غواړم د خپل ماما په شان شم.

عمر بن عبدالعزيز ځوانی کي ډېر سوکاله ژوند در لود. خورا زيات عطر يې کارول. ان که به يو خای تېر شو، نو همالته به د عطر بوی پاته و. نوموړی يو ډول خاص مزل کاوه چي هغه ته «العُمَرِيَّة» ويل کېږي، د دي مزله د ښکلا له امله به ورو

عَلَى هَذا التَّنَعُّمِ ، حَتَّى وَلِيَ الخِلافَةَ ، فَزَهِدَ في الدُّنْيا وَرَفَضَها.	نجونو ور خخه زده كاوه، ده تر هغو همداسي ارام او سوكاله ژوند در لود څو چي يې خلافت ور تر غاړې شو، دلته يې بس دنيا ته شا كړه او ځان يې ور خخه وساتى.
وكَانَ في شَبَابِه ، وَوِلايَتِه لِلْمَدِيْنَة ، كَثِيرَ التَّعْظِيمِ لِلعُلَماءِ ، شَدِيدَ الاِعظَامِ لِمَسْجِدِ الرَّسُولِ صلى الله عليه وسلم ، خَاشِعاً مُتَدَيِّناً.	هغه تازه ځواني كي د مديني والي و، د علماؤ يې ډېر زيات احترام كاوه، د نبوي مسجد يې بې حده درناوى كاوه او لوى عقيدت يې ورته در لود، ډېر متواضع، خاكساره او ديندار انسان و.
وَعَهِدَ سُليمانَ بنُ عبدِ الملكِ اِلَيهِ بِالخِلافةِ وعُمرُ لا يعلمُ، فَلَمَّا عَلِمَ فَزِعَ.	سليمان بن عبد الملك هغه له خپلې خوا وليعهد كړ او عمر په خبر هم نه و، كله چي خبر شو، وېره ور سره پيدا شوه. ويل يې:
وقال: واللهِ اِنَّ هذا الأمْرَ مَا سَأَلْتُ اللهَ قَطُّ.	په الله قسم! كه مي هيڅكله د دې چارې غوښتنه كړې وي.
وَقَدَّمَ اِلَيْهِ صَاحِبُ المَرَاكِبِ مَرْكَبَ الخَلِيفَةِ فَأَبَى وقال: اِيتُوني بِبَغْلَتِي ، وَرَدَّ المَرَاكِبَ ، والسُّرادِقَاتِ والفُرُشَ ، والأَدْهَانَ ، والثِّيابَ الخَاصَّةَ بِالخَلِيفَةِ ، اِلى بَيْتِ مَالِ المُسْلِمِين.	هغه ته د خليفه ځانګړې سپرلى را وړاندي شوه، ده ور خخه انكار وكړ. ويې ويل: ما ته مي خپله كچره راولئ، شاهي مركب، شاهي خيمه، فرشونه، تيل و عطرونه او خليفه ته
وَجَلَسَ لِلنَّاسِ بَعْدَ ثَلاثٍ ، وَحَمَلَهُمْ على الشَّرِيعَةِ ، وردَّ	

المَظَالِمَ وأَحْيا الكتابَ والسُّنَّةَ . وسَارَ بِالعدلِ ، وَرَفَضَ الدنيا وَزَهِدَ فِيها ، ونَهى عَنِ القِيَامِ ، وابْتَدَأَ بِالسلامِ ، وتَرَكَ أَلْوَانَ الطَّعامِ ، وتَرَكَ أنْ يُخْدَمَ.

كانَ عِنده قومٌ ذاتَ لَيْلَةٍ . فَقَامَ الى السِّرَاجِ ، فَأَصْلَحَهُ ، فَقِيلَ له: يا أميرُ المُؤْمِنِينَ! نَكْفِيكَ ، قال: ومَا ضَرَّنِي؟ قُمْتُ وَأَنا عمرُ بنُ عبدِ العزيزِ ، وَرَجَعْتُ وَأنا عمرُ بنُ العبدِ العزيز.

وَأُتِيَ ذاتَ يوم مِنَ الفَيءِ بِعَنْبرَةٍ ، فَأَخَذَ بِيَدِهِ فَمَسَحَها ، ثُمَّ أَمَرَ بِها فَرُفِعَتْ حَتَّى تُبَاعَ ، ثُمَّ أَمَرَّ يَدَه على أَنْفِهِ ، فَوَجَدَ رِيْحَهَا ، فَدَعَا بِوَضُوءٍ فَتَوَضَّأَ.

وكانَ لَهُ غُلامٌ يَأْتِيه بِقُمْقُمٍ مِنْ مَاءٍ مُسَخَّنٍ يَتَوَضَّأُ مِنهُ ، فقال لِلغُلامِ يوماً: أَتَسَخِّنُ الماءَ في مَطْبَخ

خانګړې جامې يې د مسلمانانو بيت المال ته وسپارل.

تر درې ورځې ورروسته خلکو ته کېناستی، خلک يې د شريعت لور ته وګرځول، په ظلم تر لاسه شوي مالونه يې بېرته خپلو خاوندانو ته ور کړل، کتاب الله او سنت الرسول يې را ژوندي کړل، تولنيز عدالت ته يې مخه کړه، دنيا ته يې شا کړه، مخ يې ور څخه وګرځاوه، خلک يې ورته له ولاړېدو منعه کړل، سلام به يې کاوه، رنګا رنګه خوراکونه يې ايله کړل او دا رواج يې هم ترک کړ چې خادمانو به يې خدمت کاوه.

يوه شپه له هغه سره خلکو ناست وو، دی څراغ ته ور ولاړ شو، هغه يې سم کړ، چا ورته ويل: امير المومنين! موږ له دې کار څخه درته کافي يو، ده ويل: ما ته څه زيان لرې؟ چې ولاړېدم هم عمر بن عبد العزيز وم او چې را ستون شوم، هم عمر بن عبد العزيز يم.

يوه ورځ له فيء څخه څه عنبر ورته

المسلِمِين؟ قال: نَعَمْ! قال: أَفسَدْتُهُ عَلَيْنَا. ثُمّ حَاسَبَ تِلْكَ الأَيَامَ، وَأَدْخَلَ الحَطَبَ في المَطْبَخِ، وأبطأ يوماً عَنِ الجُمُعَةِ قَليلاً فَعُوتِبَ في ذلک فقال: إنّما انْتَظَرْتُ قَمِيصِي غَسَلْتُهُ أَنْ يَجِفَّ.

قَالَ أَزْهَرُ: رَأَيْتُ عمرَ بنَ عبدِ العزيزِ يَخْطُبُ النَاسَ وَعَلَيْهِ قَمِيصٌ مَرْقُوعٌ.

راوړل شول، ده واخيستل په لاس يې ومښل، بيا يې امر وکړ، هغه پورته شول، ويې پلورل، وروسته يې لاسونه پر ږيره را تېر کړل، بوی يې احساس کړ، د اودس اوبه يې وغوښتې، نو يې اودس وکړ.

د هغه يو غلام و، چي په يوه پيتلي لوښي کي به يې د اودس ګرمې اوبه ورته راوړې، ده پرې اودس کاوه، يوه ورځ يې غلام ته ويل: ايا ته د مسلمانانو په پخلنځي کي اوبه ګرموې؟ هغه ويل: هو، ده ويل: راته خرابې دي کړې، بيا يې دا ورځې شمار کړې، پخلنځي ته يې لرګي ور کړل، يوه ورځ په جمعه يې يو څه تاخير وکړ، پر همدې يې ځان ته ترټنه ور کړه، ويل يې: ما مې د کميس انتظار کاوه، مينځلی مې و، د وچېدو په تمه يې وم.

ازهر ويل: ما عمر بن عبد العزيز په کي حال کي خلکو ته د وينا مهال وليد چي پينه شوې جامې يې اغوستې وې.

د الفاظو تشریح:

سُرَادِق: هغه خیمه چي خلک د واده، ماتم یا بل شي مراسم پـه کـي لمانځي، سُرادِقات یې جمع ده. دغه خیمه صِیوان هم بولي، چي صِیوانات او صـواپین یې جمعې دي.

فَيْء: خراج: غنیمت، یا هغه مال چي بې جنګه یې مسلمانان ونیسي. أفْیاء یـې جمع ده.

عَنْبَرَة: ټینګه ماده ده چي نه خوند لري او نه بوی، که وره شي یـا هـم وسـوځل شي، بیا بوی کوي او د عطرو په توګه کارېږي. سمندري ستر کب ته هم ویـل کېږي چي لوی غټ سر لري، غاښونه یـې هـم شـته او عنـبر مـاده افـرازوي. د شیانو د زیرمه کولو سترې خونې تـه هـم عنـبر وایـي او پـه روغتـون کـي د مریضانو یوه واټ ته هم استعمالېږي.

قُمْقُمْ: وړوکی لوښی چي لـه پیتلو یـا سـپینو زرو جـوړ وي. یـا هغـه خرافـاتي لوښی دی چي سرکښ شیطانان به یې په کي بندول. قَماقِم یې جمع ده.

نوي لغات:

خرج العفريتُ من القمقم: عفریت پیری له زندان څخه یې ووت.

أُرسلت البضاعةُ الى عنبر الشركة: سامانونه د شرکت ګودام ته ولېږل شول.

في العنبر عدد كبير من المرضى: په واټ کي ګنشمېر مریضان دي.

(٢٧)

الخَلِيفةُ عُمَرُ بنُ عبدِ العزِيزِ

خليفه عمر بن عبد العزيز

(٢)

وَلَمْ يُحْدِثْ عمرُ مُنْذُ وَلِيَ دَابَّةً ولا اِمرأَةً ولا جَارِيَةً حتّى لَحِقَ باللهِ، وَلَمْ يُرَ ضَاحِكاً مُنْذُ وَلِيَ الخِلافَةَ حتّى لَقِيَ اللهَ. وَأَتَتْهُ سَلَّتَا رُطَبٍ مِنَ الأُرْدُنِ، فقال: ما هذا؟ قالوا: رُطَبٌ مِنَ الأُرْدُنِ، قال: عَلَامَ جِيءَ بِهِ؟ قالوا: على دَوَابِّ البَرِيدِ. قال: فَمَا جَعَلَنِيَ اللهُ أَحَقَّ بِدَوابِّ البريدِ مِنَ المسلِمِينَ، أَخْرِجُوهما فَبِيعُوهما، واجْعَلُوا ثَمَنَهُما في عَلَفِ دَوابِّ البرِيدِ. واشْتَرَاهما في السُّوقِ ابنُ أَخِيهِ وأَهْدَى إِحداهُما إليه، فأَكَلَ وقال: آلان طَابَ أَكْلُه.	د خلافت له ور سپارلو وروسته هغه نه بیا سپرلی نوې کړه، نه یې میرمن وکړه، نه یې مینځه تر لاسه کړه، څو چې په همدې حال کې مړ شو، تر خلافت وروسته بیا چا په خندا نه دی لیدلی. همداسې الهي حضور ته ولاړ. هغه ته دوه ونبکیه خورماوې له اردونه راوړل شوې. ده ویل: دا څه دي؟ دوی ویل: له اردونه خورما رغلې. ده ویل: پر څه شي راوړل شوې؟ دوی ویل: د پوست خانې پر سپرلیو. ده ویل: د پوست پر سپرلیو د راوړل شوي شي مستحق د الله په قانون کې زه نه مسلمانان دي. دواړه ونبکي وباسئ. خرڅ یې کړئ. پیسې یې د د پوست د سپرلیو د وښو لګښت ته ځانګړې کړئ. په بازار

وَدَخَلَ عَلَى بَنَاتِه ذَاتَ لَيْلَةٍ ، فَوَضَعْنَ أَيْدِيَهُنَّ على أفواهِهِنَّ ، فَقال لِلْحَاضِنَة: مَا شَأْنُهُنَّ؟ قالَتْ: لَمْ يَكُنْ عِنْدَهُنَّ شَيْءٌ يَتَعَشَّيْنَهُ اِلاَّ عَدَسٌ وَبَصَلٌ ، فَكَرِهْنَ أَنْ تَشُمَّ ذلك مِنْ أَفْوَاهِهِنَّ ، فَبَكى عمرُ ، ثُمَّ قال لَهُنَّ: يا بناتي ما يَنْفَعُكُنَّ أَنْ تَعَشَّيْنَ الأَلْوَانَ وَيُمَرُّ بِأَبِيْكُنَّ اِلَى النَّارِ ، فَبَكَيْنَ حَتَّى عَلَتْ أَصْوَاتُهُنَّ ، وَوَضَعَ عمرُ حَلْيَ زَوْجَتِه فِي بَيْتِ المَالِ ، وَأَرْجَعَ مَزَارِعَهُ اِلَى مَا كَانَتْ عَلَيْهِ فِي عَهْدِ الرَّسُولِ صلى الله عليه وسلم.

وَاِذا كانَ في حَوَائِجِ العامَةِ كَتَبَ عَلَى الشَّمْعِ ، وَاِذا صارَ اِلَى حاجَةِ نَفْسِه دَعَا بِسِرَاجِه.

وَقَدْ أَغْنَى عُمَرُ بنُ عبدِ العزيزِ النَّاسَ ، حتّى لَمْ يُوْجَدْ فَقِيرٌ في

كې دواړه وښكې يې ورازه رانيول. بيا يې يو هغه ته ډالۍ كړ. نو ده خوراك ور څخه وكړ. ويې ويل: اوس د خوراك وړ شوي.

يوه شپه خپلو لوڼو ته ورغی. هغوی ژر پر خپلو خولو لاسونه كېښودل. ده د ماشومانو روزونكې او پالونكې ته ويل: دوی څه كوي؟ دې ويل: د ماښامنۍ له پاره ور سره هيڅ نه وو. يوازې دال او پياز وو. نو دوی ښه ونه گڼله چې له خولو څخه يې پر تا بوی در شي. عمر وژړل. بيا يې دوی ته وويل: زما لوڼو! دا به تاسو ته څه گټه وكړي چې ماښامنۍ كې ډول ډول خواړه وخورئ او خپل پلار اور ته ور سيخ كړئ. هغوی دومره وژړل چې اوازونه يې اوچت شول. عمر د خپلې ميرمنې گڼې بيت المال ته ور كړې. د خپلو كښتونو حاصلات يې هلته مصرفول. لكه نبوي دور كې چې به كېدل.

كه به د مسلمانانو په خدمت بوخت و. نو شمعې ته به يې ليكل كول. كه

بِلادِ المُسْلِمِين ، وَلَم يُوجَدْ أَحَدٌ يَأْخُذُ الصَّدَقاتِ.

وكَانَ لاَ يُؤَخِّرُ عَمَلَ اليومِ لِلْغَدِ ، ولا يَعجَزُ ،قال بَعْضُ اِخوَتِه: يَا أَمِيرَ المُؤْمِنِينَ! لَوْ رَكِبْتَ فَتَرَوَّحْتَ ، قال: فَمَنْ يَقْضِي شُغْلَ ذلك اليومَ؟ قال: تَقْضِيه مِنَ الغَدِ ، قال: لَقَدْ ثَقُلَ عَمَلُ يَومٍ واحِدٍ فَكَيْفَ اِذا اجْتَمعَ عَمَلُ يَومَينِ؟

مَاتَ عمرُ بنُ عبدِ العزيزِ سَنَةَ ١٠١هـ

به خپل يوه كار كي بوخت شو، بيا به بې خپل څراغ را وغوښت.

عمر بن عبد العزيز خلک دومره شتمن كړل چي د مسلمانانو په ښارونو كي فقير نه پيدا كېدى، نو د صدقې اخيستلو كس به نه موندل كېدى.

هغه به د نن ورځي كار سبا ته نه ايله كاوه، له كار هيڅ نه ستومانه كېدى. يوه ورور يې ورته ويل: اې امير المومنين! كاش پر سپرلۍ د تفريح له پاره وتلى واى، ده ويل: نو د دې ورځي كار به څوک كوي؟ هغه ويل: سبا به يې وكړې. ده ويل: پر ما د يوې ورځي كار لا زيات دى، نو كه د دوو هغه سره يوځاى شي، بيا به څنګه وي؟

عمر بن عبد العزيز په ١٠١هـ كي ومړ. رحمه الله!

. سَلاَت او سِلال يې جمعې دي: سوده، له لښتو جوړ ګرد شى دى چي انګور يا دې ته ورته شيان په كي وړي.

الاردن: د پښتواني بلاد الشام جنوبي برخه دی، چې د عربي ټاپووزمې په شمالي برخه کې واقع دی، دا يو عرب هیواد ته دی چې د اسیا لویدیځ ته پروت دی، او د منځني ختیځ له مابینځي هیوادونو څخه کېږي. له شمالي اړخه سوريه ور څرمه ده، غرب ته يې فلسطين دی، ختیځ ته يې عراق پروت دی، سعودي يې شرق او جنوب ته راځي او يوازې جنوب لویدیځې برخې کې يې د عقبه ښار پولې له سور سمندرګي سره منبلي.

دوابّ: دابّة يې مفرد دی: د سپرلی حیوانات، لکه: اس، کچر، اوښ او نور.

للحاضِنة: حواضِن يې جمع ده: هغه ميرمن چې د ماشوم د تربيې چارې ور له غاړې وي.

عَدَسٌ: دال، دې ته العدس المطبخي يا العدس المعروف يا هم البلسن وايي، په انګریزي ژبه ورته (Lentil) وايي. د دال تاريخ د بشر ـ د ماقبل التاريخ تر دورې رسيږي، په خورا زياتو تاريخي کيسو او اسطورو کې يې يادونه راغلې ده. رنګ يې سور، ژړ، خاکي او تور راځي. داني يې وړې دي، چې انسانان يې د خوراک له پاره پخوي او د جوړنګ پاڼې يې حيوانات خوري.

بَصَلٌ: پياز، تېز بوی لري، که څوک يې وخوري د خولې يې بوی څي. د ميده کولو مهال په يو شمېر کسانو اوښکې کوي. انګریزي کې ورته (Onion) وايي. د پوست رنګ يې سپين، ژړ او سور وي.

نوي لغات:

سلّة المهملات: خځلداني.

مِسَلّة: لويه ستن ده چې پنډ او سخت توکر په ګنډل کېږي.

البصل الأخضر: شنه پياز.

(٢٨)

فِيْ بَيْتِ أَبِيْ أَيُوبَ الأَنصارِيِّ رضيَ اللهُ عنهُ

د ابو ايوب انصاري رض په کور کي

قَالَ سَيِّدُنا أَبو أَيُّوبَ رضي الله عنه: «لَمَّا نَزَلَ عَلَيَّ رَسُولُ الله في بَيْتِي نَزَلَ في السُّفْلِ ، وَأنا وَأُمُّ أَيُّوبَ في العُلُوِّ ، فَقُلْتُ له: يا نبيَّ اللهِ! بِأَبي أَنتَ وَأُمِّيْ! اِنيَ لأَكْرَهُ وَأُعْظِمُ أَنْ أَكُونَ فَوقَكَ وَتَكُونَ تَحْتِي . فَاظْهَرْ أَنْتَ فَكُنْ في العُلُوِّ ، وَنَنْزِلُ نَحْنُ فَنَكُونَ في السُّفْلِ . فَقَالَ: يَا أَبَا أَيُّوبَ! اِنَّ أَرْفَقَ بِنَا وَبِمَنْ يَغْشَانا أَنْ نَكُونَ في سُفْلِ البَيْتِ. قَالَ: فَكَانَ رسولُ اللهِ ص في سُفْلِه وَكُنَّا فَوْقَهُ في المَسْكَنِ ، فَقَد انْكَسَرَ حُبٌّ لَنَا فِيهِ ماءٌ ، فَقُمْتُ أَنَا وَأُمُّ أَيُّوب بِقَطِيْفَةٍ لَنَا ،	حضرت ابو ايوب رض الله عنه ويل: کله چي رسول الله ص زما کره ميلمه شو، نو د کور په کښته پوړ کي يې واړول. زه او د ايوب مور به لوړ پوړ کي وو. ما ورته وويل: د الله نبي! زما مور و پلار دې تر تا قربان شي؛ زه دا بده بولم او ډېره راته سخته ده چي زه دې لوړ پوړ کي يم او ته کښته، نو ته را لوړ شه. لوړ پوړ کي به ته شې او موږ به را کښته شو. لوړي منزل کي به موږ شو. هغه ويل: اي ابو ايوبه! موږ او هغه چا ته چي ليدو ته مو راځي. دا غوره ده چي د کور په لوړي پوړ کي پاته شو. ده ويل: نو رسول الله ص د کور په وروستي منزل کي او موږ يې په لوړ کي وو. بيا زموږ يو منګى مات شو. چي اوبه په کي وې، نو ما او ام ايوب

مَا لَنَا لِحافٌ غَيرُها ، نُنَشِّفُ بِها الماءَ تَخَوُّفاً أنْ يَقْطُرَ على رسولِ الله ص مِنه شَيءٌ فَيُؤْذِيَه.	يو بخملي څادر را واخيست، له دې پرته مو د توشکې په ډول بل شی نه در لـود. پـه همـدې سره مـو اوبـه وچولې. له دې دارېدو چې دغه اوبه پر رسول الله ص ور تـوى نه شي او ور څخه په تکليف به شي.
قال: وكُنَّا نَصْنَعُ لَـهُ العَشَاءَ ، ثُـمَّ نَبْعَثُ بِهِ اِلَيه ، فَاذا رَدَّ عَلَيْنَا فَضْـلَهُ تَيَمَّمْتُ أنَا وأُمُّ أيُّوبَ مَوْضِعَ يَـدِهِ فَأَكَلْنَا مِنْهُ نَبْتَغِي بِـذلك البَرَكَـةَ ، حَتّى بَعَثْنَا اِليه لَيْلَةً بِعَشَائِه ، وقـد جَعَلْنَا لَهُ فِيهِ بَصَلاً أَوْ ثُوْماً ، فَـرَدَّهُ رسولُ الله ص، ولَـمْ أرَ لِيَـدِهِ فِيـه أَثَراً ، قال: فَجِئْتُهُ فَزِعاً ، فَقُلْـتُ: يَـا رسـولَ اللـه! بِـأبي أنـتَ وَأُمِّـي! رَدَدْتَ عَشَـاءَكَ ، ولم أَرَ فِيـه مَوضِعَ يَـدِكَ ، وكُنْـتَ اِذا رَدَدْتَـهُ عَلَيْنَا تَيَمَّمْتُ أنَا وأُمُّ أيُّوبَ موضِعَ يَدِكَ ، نَبْتَغِي بِذلكَ البَرَكَةَ.	ده ويل: موږ به مابنـامنى تيارولـه، بيا به مو هغه تـه ور استوله، بيا بـه چې موږ تـه تـر هغـه اضـافه شـوې ډوډی راغله، ما او د ايـوب مـور بـه لـه هغه ځايه د خوراک هڅه کوله چې رسول الله ص بـه ور څخـه خـوړلې وه، لـه دې کاره مو هدف د برکت تر لاسه کول و. په دې لړ کې مـو يـوه ورځ مابنـامنى ور ولېږله، موږ پياز او ووږه ور اچـولې وه، نو رسول الله ص بېرتـه همـداسې سالمه را ولېږله، ما يې د لاس ور وړلو اثر ونه ليد، ده ويل: زه په ډار ورغلم، ومې ويل: د اللـه رسـوله! زمـا پـلار و مـور دې تـر تـا قربـان شي، مابنـامنى دې بې خوراکه را لېږلې وه، مـا سـتا د لاس ځای په کې ونه ليـد. مخکې چې
قَالَ: اِنِّي وَجَدْتُ فِيـهِ رِيْـحَ هـذِهِ الشَّجَرَةِ ، وأنَا رَجُلٌ أُنَـاجِي ، فَأَمَّـا أنْتُم فَكُلُوْهُ.	به ستا له خوا لوښـي را غلـل، نـو مـا او د

قال: فَأَكَلْنَاه ، وَلَمْ نَصْنَعْ لَهُ تِلْكَ الشَّجَرَةَ بَعْدُ.	ايوب مور ستا د لاس له خايه خوراک کاوه، په دې سره مو برکت غوښتی. هغه ويل: ما د دې بوټي بوی ور څخه حس کړ، زه له فرشتو سره مناجات کوم، نو تاسو هغه خوراک و خورئ. ده ويل: موږ بيا وخوړ، تر دې وروسته مو په خوراک کې ورته وړه نه ده اچولې.

(سِيرةُ ابنِ هِشام)

د الفاظو تشريح:

قطيفة: له وړبښمو يا پنبه څخه جوړ توکر دی چې جامې يا فرشونه ور څخه جوړېږي. قطيفات، قطائف او قُطُف يې جمعې دي. هغه پتيره هم قطيفه بلل کېږي چې وړو ته يې کشمش، وچه مېوه ور گډه شي، په غوړو غوړه شي او د خوړوالي له پاره بوره ورسره گډه وي.

لِحاف: توشکه، يا د ځان پټولو هر شی.

نُتَشَّفُ: د تفعيل له بابه مضارع متکلم مع الغير دی: وچول.

تَيَمَّمَ: د يوه شي قصد کول، د يوه شي نيت کول.

نوي لغات:

غطّاه بلحافٍ من البرد: له يخه يې ځان په يوه توشکه پټ کړ.

يمدّ رجليه على قدر لحافه: له خپلې کمبلې سره دې سمې پښې غزوي، په خپلو حدودو کې دې تصرف کوي.

وضعتُ لحافاً فوق السّرير: پر کټ مې لوړ توشکه کېښوده.

(٢٩)

الإمامُ مالكُ بنُ أنسٍ رح

امام مالک بن انس رح

وُلِدَ الإمَامُ مَالِکُ بنُ أَنسٍ سَنَةَ ثَلاَثٍ وَتِسْعِينَ فِي المدِيْنَةِ المُنَوَّرَةِ ، وَسَمعَ الزُّهْرِيَّ وَنَافِعاً مولى ابنِ عمرَ ، وأَخَذَ العِلْمَ عن رَبِيْعَةَ الرَّأْيِ ، وقال: قَلَّ رَجُلٌ كُنْتُ أَتَعَلَّمُ مِنهُ مَا ماتَ حتّى يَجِيْئَنِي وَيَسْتَفْتِيَنِي.	امام مالک بن انس رح مدینه کي د (۹۳) مهال پیدا شوی دی. له زهري او د ابن عمر رض له ازاد شوي غلام نافع څخه یې احادیث واورېدل. له ربیعة الرأی څخه یې علم تر لاسه کړ. او ده به ویل: ډېر کم به کي یو کس وي چي ما به ور څخه علم زده کړی وي، یا دې هغه په کي حال کي مړ شوی وي چي ما ته د یوې مسلې د پوښتنلو له پاره نه وي راغلی.
وكَانَ لَهُ شَأْنٌ عَظِيمٌ في العِلْمِ يَرْحَلُ النَاسُ إليهِ مِنَ الآفاقِ وَيَزْدَحِمُونَ على بَابِهِ لِأَخْذِ الحديثِ والفقهِ كَازْدِحَامِهِمْ عَلى بابِ السُّلْطانِ ، وكانَ النَاسُ يَفْتَخِرُون بِالرِّوايةِ عنهُ ، وكان ذلک شَرَفاً كَبِيراً في عصْرِهِ . فَاذا قال أحدٌ: حَدَّثَنِي مَالِکٌ ، رَفَعَ	په علم کي د هغه لوړه مرتبه وه. خلک به له لرې ځایونو څخه ورته راتلل. د هغه پر دروازه به د حدیثو او فقهې د زده کړې له پاره کي ګڼه ګوڼه وه لکه د پاچا پر دروازه. خلکو به له ده څخه په روایت سره ویاړ کاه. دا د هغه په زمانه کي یو ستر

الناسُ اِليهِ أَبْصَارَهُمْ.	وياړ و، که به يو چا ويل: ما ته مالک حديث بيان کړ، نو د خلکو سترګې به ورته شخې شوې.
وكـان اِليـه المُنْتَهـى في الفِقْـه والتفوى. قال ابنُ وهبٍ: سَمِعْتُ مُنَادِيـاً يُنَـادِي بِالمَدِيْنَـة: أَلا لا يُفْتِي الناسَ اِلاّ مَالِكُ بنُ أنسٍ، وابـنُ أَبِي ذِئْـبٍ. وَمِـنَ الأَمْثَالِ السَّـائِرَةِ: لا يُفتـى وَمَالِـكٌ في المدِيْنَةِ.	په فقه او فتوا کې پر هغه تمامه وه. ابن وهب ويل: په مدينه کې مې د يوه اعلان کوونکي اعلان واورېد: خبردار! له مالک بن انس او ابن ابي ذئب پرته به بل څوک فتوا نه ور کوي. يو مشهور متل دا هم دی چې مالک په مدينه کې وي، نو بل څوک فتوا نه شي ور کولای.
وكَانَ كَثِيرَ الأَدَبِ، شَدِيْدَ التَّعْظِيْمِ لِحَدِيثِ رسـولِ اللـه صـلى اللـه عليـه وسـلم وسـلم. اِذا أَرَادَ أَنْ يُحَـدِّثَ اغْتَسَـلَ وَتَطَيَّـبَ وَلَـبِسَ ثِيَاباً جُدَداً، وَتَعَمَّمَ وَقَعَدَ بِخُشُوعٍ وَخُضُـوعٍ وَوَقَـارٍ، وَتَبَخَّـرَ بِـالعُودِ مِنْ أَوَّلِهِ فَلا يَزَالُ يَتَبَخَّرُ اِلى فَرَاغِهِ. وَقِيلَ لَهُ في ذلك، فقال: أُحِبُّ أَنْ أُعَظِّمَ حَدِيثَ رسولِ الله صلى الله عليه وسلم، وَلا أُحَدِّثَ بِهِ اِلاّ مُتَمَكِّناً عَلَى طَهَارَةٍ، وكـان يَكْـرَهُ	هغه ډېر ادبناک انسان و، د رسول الله ص يې ډېر تعظيم کاوه، د حديثو د بيان له پاره به يې غسل کاوه، عطر به يې لګول، نوې جامې به يې واغوستې، لونګی به يې ووهله، په ښه خشوع، خاکساري او وقار به کېناستی، خوشبو لرونکی لرګی به يې بل کړ، د درس له پيله به يې بوی کاوه څو چې به هغه فارغ شو، په دې اړه له هغه پوښتنه وشوه، ده ويل: زه غواړم چې د نبوي احاديثو تعظيم

أَنْ يُحَـدِّثَ عَلَـى الطَّرِيـقِ . أو مُسْـتَعْجِلاً . ويَقُـولُ: أُحِـبُّ أَنْ أَتَفَهَّمَ مَا أُحَدِّثُ بِهِ عَنْ رَسولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم.

قالَ عبدُ اللهِ بنُ المُبَارَكِ: كُنْتُ عندَ مالِكٍ . وهو يُحَدِّثُنا فَلَدَغَتْهُ عَقْرَبٌ سِتَّ عَشْرَةَ مَرَّةً . وَمَالِكٌ يَتَغَيَّرُ لَوْنُهُ . ولا يَقْطَعُ الحديثَ . فَلَمَّا تَفَرَّقَ الناسُ قال: اِنَّما صَبَرْتُ اِجلالاً لِلحديثِ.

وكانَ لا يَرْكَبُ في المدينةِ على ضُـعْفِهِ وكِـبَرِ سِـنِّهِ . وَيَقُـولُ: لا أَرْكَبُ في مدينةٍ فيها جُثَّةُ رسولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم مَدْفُوْنَةٌ.

وَكانَ مَجْلِسُهُ مَجْلِسَ وَقَارٍ وحِلْمٍ . وكان رَجُلاً مَهِيباً نَبِيلاً . لَيسَ في مَجْلِسِهِ شَيءٌ مِنَ المِرَاءِ واللَّغَطِ . وَلا رَفْعُ صَوتٍ . وكـان الغُرَبَـاءُ يَسْأَلُونه عنِ الحديثِ فَلا يُجِيبُ

وكـړم. زه يـوازې د طهـارت مهـال احاديـث بيانوم. دا يـې نـه خوښېده چې په لار کې احاديث بيان کړي يـا هم په تلوار. ده به ويل: زه غـواړم په هغه ښه پوه شم چې له رسول الله ص څخه يې بيانوم.

عبد الله بن مبارک ويل: زه له مالک سره وم. هغه موږ ته احاديث بيـانول. نو لړم شپاړس واره وچيچى. د مالک رنګ سره اوښتى. د حديث بيان يـې نـه پرېښـودى. کلـه چې خلـک سره ولاړل. ده ويـل: د نبـوي احـاديثو د عظمت له کبله مې صبر وکړ.

نوموړى به له کمـزورى او لـوړ عمـر سره پـه مدينـه کـې پـر سـپرلۍ نـه کېناستى.ويل به يې: په هغه ښار کې څنګه پر سپرلۍ کېنم. چې هلتـه د رسول الله ص جسد پټ دى.

مجلـس بـه يـې د ښـه وقـار او زغـم مجلس و. دى ډېر شريـف او د هيبـت خاوند و. په مجلس کې يـې هـيڅ ډول تشريفات. ناري او لوړ اوازونـه نـه وو.

إلاّ في الحديثِ بعدَ الحديث.

سَأَلَ هَارُونُ الرَّشِيدُ مَالِكاً أَنْ يَأْتِي فَأبى، فَأَتَى هارونُ مالِكاً، وهو في منزِله، ومعه بَنُوهُ، وَسَأَلَ أَنْ يَقْرأَ عليهم، فقال: ما قَرَأْتُ على أحدٍ مُنْذُ زَمانٍ، وإنّما يُقْرأُ عليّ. فَقال هارون: أَخْرِجِ النَاسَ حَتّى أَقْرأَ أنا عليكَ، فقال: اِذا مُنِعَ العامُّ لِبَعْضِ الخَاصِّ لم يَنْتَفِعِ الخَاصُّ.

وَدَخلَ مَالِكٌ عَلى أَميرِ المُؤْمِنِينَ مَنْصُورٍ، وهو على فِرَاشِه، اِذ جاءَ صَبِيٌّ يَخْرُجُ ثُمّ يَرْجِعُ، فقال لي: أَتَدرِي مَنْ هذا؟ فقلتُ: لا! قال: اِبْني، وإنّما يَفْزَعُ مِنْ هَيْبَتِكَ.

وفي سنةِ سَبْعٍ وأَرْبَعِينَ وَمِئَةٍ ضُرِبَ مَالِكٌ سَبْعِين سَوطاً لأجْلِ فتوىً لَمْ تُوافِقْ غَرضَ السُّلطانِ، فَغَضِبَ وَدَعا بِهِ، وَجَرَّدَهُ وَضَرَبَهُ

مسافرو او نا اشنا کسانو به د حدیث په اړه پوښتنه ور څخه کوله، نو ده به تر هغه وروسته خواب ور کړ چي د حدیث بیان به یې خلاص کړ.

هارون الرشید له امام مالک څخه وغوښتل چي هغه ته ورشي، ده انکار وکړ، نو بیا هارون و امام مالک ته راغی، دی په خپل کور کي و، ور سره یې زامن هم وو، ده ور څخه غوښتنه وکړه چي راته لوله یې، امام ویل: زه له ډېره وخته لوست نه کوم، بلکې ما ته لوستل کېږي. بس هارون وویل: خلک وباسه چي زه یې درته ولولم. امام ویل: که عام خلک د یو خاص چا له امله ممنوع شي، نو خاص هم گټه ور څخه نه شي اخیستلای.

امام مالک رح امیر المومنین منصور ته ورغی، هغه پر خپله بستره پروت و، چي دغه وخت یو ماشوم راغی، بیرته به ولاړ، بیا به راستون شو، هغه ما ته ویل: پوهیږي دا څوک دی؟ ما ویل: نه، هغه ویل: زما زوی دی، ستا

بِالسِّيَاطِ ، وَمُدَّتْ يَدُهُ حَتَّى انْخَلَعَتْ كَتِفُهُ . فَلَمْ يَزَلْ بَعْدَ ذلك الضَّرْبِ في عُلُوٍّ وَرِفْعَةٍ ، وَكَأَنَّمَا كانتْ تِلكَ السِّيَاطُ حُلِيًّا حُلِّيَ بِهِ.

وَكِتَابُهُ المُوطَّأُ مِنْ أَشْهَرِ كُتُبِ الحديثِ ، وَمِنَ الكُتُبِ المَقْبُولَةِ في الإِسلامِ ، رَزَقَكَ اللهُ قِرَاءَتَهُ ، وَالانْتِفَاعَ بِهِ ، وَسَيَكُونُ ذلك (انْ شَاءَ اللهُ) في بِضْعِ سِنِينَ اِذا تَقَدَّمْتَ في العِلْمِ.

تُوُفِّيَ مَالِكٌ سَنَةَ تِسْعٍ وَسَبْعِينَ وَمِئَةٍ.

هيبت ودار كړ.

د (۱۴۷) مهال امام مالک د يوې کې فتوا له امله اويا درې ووهل شو چې د پاچا لـه غـرض سره موافقه نـه وه، هغه غوسه شو، دى يې را طلب کـړ، جامې يې ور څخه وکښلې، په دره يې وواهه، لاسونه يې ور څخه کش کړ، اوږه يـې لـه بنـده وختـه، تـر دې وهلو وروسته د هغه رتبه نـوره هـم لوړه او اوچته شوه، کې بريښېده لکه دا وهل چې د هغه لـه پاره ګېڼه وي او دى په ښکلى شوى وي.

د ده کتاب المُوطأ د حديثو له مشهورو کتابونو څخه دى، په اسلام کـې هغه ډېر منلى او مقبول کتاب دى، الله دې تاتـه د هغـه لوسـت او ور څخـه ګټـه اخيستل در نصيب کـړي، ان شاء الله که په علم کې وړاندي ولاړې، دا به پـه يو څو کاله کې ممکن شي.

امـام د (۱۷۹ هــ) مهـال وفـات شـو. رحمه الله رحمة واسعة!

د الفاظو تشريح:

ابن شهاب محمد الزهري: د مديني ستر تابعي دی، لومړنی کس دی چي حدیث يې تدوین کړي، شام ته ولاړ او همالته مېشت شو، د (١٢٤هـ) مهال وفات شو.

نافع بن عمر القرشي الجمحي المكي: د حدیثو حافظ او په خپل وخت کي د مکې محدث و. نوموړی په (١٦٩هـ) کي وفات شوی دی.

رَبِيْعَةُ الرَّأي: نوموړی امام، حافظ، فقيه، مجتهد او د غوره رايې څښتن و، مدينه منوره کي يې فتوا ور کوله. له همدې کس څخه امام مالک فقه زده کړې او په (١٣٦هـ) کي وفات شوی.

يَسْتَفْتِينِي: د استفعال له بابه مضارع معلومه ده: په يوه مسله کي له عالم کس څخه د هغه رايه پوښتل.

آفاق: د ځمکي هغه برخه چي د سترګو په وړاندي پای مومي او بيا اسمان ورسره معلومېږي. هغه اطلاع اومعرفت چي عقل ور باندې احاطه کولای شي. د ځمکي يا يوه هيواد ګوښه. مفرد يې أُفق/أُفُق دی.

أَتَفَهَّم: د تفعّل به بابه مضارع واحد متکلم دی: ادراک، فهمول، ور باندې پوهېدل.

حَلْياً: اسم مصدر دی، په ګېڼو ښکلا کول.

يزدحمون: د افعال له بابه مضارع معلومه جمع مذکره ده: د خلکو ګڼه ګوڼه، يو بل په اوږو ټېله کول، ټېل ماټېل.

تَتَطَيَّبُ: د تفعّل له بابه مضارع مخاطبه ده: عطر لګول، په ځان عطر مښل.

تَعَمَّمَ: د تفعّل له باب څخه ماضي معلومه ده: لونګی تړل، لنګوټه پر سر کول.

تَبَخَّرَ: د تفعل له بابه ماضي معلومه ده: په لرګي يا بخار يې خوشبويي کول.

المِراء: تکلّف، تشریفات.

اللَّغط: شورماشور، هی و هیو، ګډوډ اوازونه. ألغاط یې جمع ده.

جَرَّدَ: د تفعیل له بابه ماضي معلومه ده: جامې ور څخه کښل، لڅول.

السِّیاط: چلاخه، له څرمنې جوړه اله ده چې خلک یا حیوانات په وهل کېږي. مفرد یې سوط او أسواط یې هم جمع ده. دِرَّةٌ هم ورته وایي، دِرّات او دِرَر یې جمعې دي.

نوي لغات:

الشمس فوق الأفق: لمر د افق د پاسه دی.

في الأفق غیوم: په افق کې وریځ ده.

فلانٌ ضیق الأفق/ فلانٌ محدود الأفق: اطلاع او معرفت یې کم دی.

بلغت شهرتُه الآفاق:- د ځمکې هر ګوټ ته یې شهرت ورسېد.

جوّاب آفاق: ډېر ګرځېدونکی کس.

ضَرَبَ في الآفاق: تر لرې ولاړ.

حلِیتِ المرأةُ: په ګېڼو یې ځان ښکلی کړ.

حلِیتِ الشَّجرةُ: پاڼې یې وکړې او مېوه هم.

سمع لَغطاً في المحاضرة: په لیکچر کې یې ګډوډ اوازونه واورېدل.

هما یتعاطیان سوطا واحداً: پر یو ډول اخلاقو یې اتفاق کړی.

سَوّاط: د چلاخې خاوند، هغه پولیس چې چلاخه ورسره وي، وهل په کوي.

(٣٠)

القَاطِرَةُ

د د اورګاډي انجن

ذَهَبَ رَشِيدٌ مَعَ أَبِيهِ سَعِيدٍ إِلَى المَحَطَّةِ يَسْتَقْبِلُ أَخَاهُ محموداً . وكان قادِماً مِنْ دِيُوبند في مُسَامَحَمِ عِيدِ الأَضْحَى.

وكان القِطارُ مُتَأَخِّراً . فَأَخَذَ سعِيدٌ يَتَجَوَّلُ على المَحَطَّةِ يُحَدِّثُ رَشِيداً عَنِ القِطَرِ وَنِظَامِ المَحَطَّةِ . وانْتَقَلَ مَعَهُ إِلى رَصِيفٍ آخَرَ.

وكان قِطَارٌ واقِفاً هُنَا تَصْفِرُ قَاطِرَتُهُ ، وَيَخْرُجُ مِنْهَا بُخَارٌ كَثِيفٌ مُتَصَاعِدٌ.

قالَ رَشِيدٌ: حَدِّثْنِي اليومَ يا أَبِي! عَنِ القَاطِرَةِ كَيْفَ تَجُرُّ القِطَارَ ، وكيفَ تُسْرِعُ في السَّيْرِ؟

قال سعيدٌ: لَقَدْ سَأَلْتَ بِهِ خَبِيراً

رشيد له خپل پلار سعيد سره د اورګاډي تمځي ته ولاړ، څو د خپل ورور محمود ښه راغلی وکړي، هغه له ديوبند څخه د لوی اختر د رخصتيو له امله را ستنېدی.

اورګاډی ځنډېدی، نو سعيد ولاړ شو په تمځي کي يې قدم واهه، له رشيد سره يې د اورګاډي او د تمځي د نظام په اړه خبرې کولې، له هغه سره يو ځای بل درې ګزي ته ولاړ.

اورګاډی دلته ولاړ و، انجن يې شپېلکی کاوه، له هغه څخه ډېر زيات يوه خوړسکه دود پورته کېدی.

رشيد ويل: پلار جانه! نن د انجن په اړه راته بيان وکړه چي هغه څنګه پر ليکه ډبې کشوي او څنګه تېز په تاخته وي؟

سعيد ويل: په دې اړه دې له خبردار

فَقَدْ كُنْتُ مُوَظَّفاً في القِطَارِ . وَسَأُحَدِّثُكَ عَنْها في تَفْصِيلٍ . فَقُمْ بِجَنْبِي أَمَامَ هـذهِ القَاطِرَةِ ولَاحِظْها.

أُنْظُرْ يَا رَشِيدُ! اِلى القَاطِرَةِ تَرَهَا صُنِعَتْ مِنَ الحَدِيدِ ، ولَهَا سِتُّ جَلاتٍ تَسِيرُ عَلَيها وهي قَوِيَّةٌ جِداً كَأَنَّها عِفْرِيتٌ مِنَ الجِنِّ ، تَجُرُّ قِطَارَ البِضَاعَةِ ، وَهُوَ طَوِيلٌ وَثَقِيلٌ جِداً ، وَتَجُرُّ قِطَارَ الرُّكَّابِ وَفِيهِ النَّاسُ وَأَثْقَالُهُمْ ، وَتَجُرُّ القِطَارَ السَّبَّاقَ ، وهو أَسْرَعُ القُطُرِ يَقْطَعُ خَمْسَةً وَأَرْبَعِينَ مِيلاً في الساعةِ.

والقِطَارُ السَّرِيعُ يَقْطَعُ نَحْوَ أَرْبَعِينَ مِيلاً في السَّاعةِ ، والقِطَارُ والوَقَّافُ يَقْطَعُ نَحْوَ ثَلَاثِينَ مِيلاً في السَّاعَةِ ، تَجُرُّ القِطَارَ مِنْ أَقْصَى الهِنْدِ اِلى أَقْصَاها ، مَثَلاً ، مِنْ بِمَبَيْءَ اِلى بِشَاوِرَ ، وَمِنْ

كس خخه پوښتنه وكړه، رښتيا ما په اورګاډي كي دنده درلوده، زه به يي تفصيلي كيسه درته وكړم، ته د دي انجني څنګه ته ودريږه او ښه په غور يي څاره.

رشيده! انجن ته ګوره، وبه يي ويني چي له اوسپيني جوړه ده. شپږ ويله (اربي) لري چي پر هغو څغلي، دا دومره پياوړي ده لكه عفريت پيرى، تر شا له سامانه ډكي ډبي كشوي، هغه ډېرې زياتي اوږدې او درنې وي، همدا شان د سپرلى ډبې وي چي په هغو كي خلك او د دوى بارونه يي وي، همدا شان د مسابقي (سيالى) ډبي كشوي، دا اورګاډى تر ټولو تېز اورګاډى دى چي په يوه ساعت كي (۴۵) ميله مزل كوي.

ايكسپريس اورګاډى په يوه ساعت كي څلوېښته ميله واټن وهي او يو بل اورګاډى چي الوقاف ورته وايي، په يوه ساعت كي دېرش ميله مزل وهي، اورګاډى په ټول هند كي له يوه سره تر بله خي، مثلا: له ممبى تر پېښوره،

دِهْلِيْ اِلى مَدْرَاسَ.	له ډيلي تر مدراسه ځي.
وَقُوَّةُ هذه القَاطِرَةِ اِنمّا هِيَ البُخَارُ الحَقِيرُ الـذي لاَ تَعْبأ بـه ، ولا تُحَاسِبُ لَهُ حِسَاباً ، وَقدِ اهْتَدَى «استيفنسن» مُخْتَرِعُ القِطَارِ اِلى قُـوَّةِ هـذا البُخـارِ واهْتَـدَى اِلى تَسْـخِيرِهِ والاَنْتِفـاعِ بِـهِ في الأَغْرَاضِ ، وَعَلِمَ بَعَقْلِهِ وِدِرَاسَتِهِ أَنَّهُ بِقُوَّتِهِ يَحْمِلُ الأَثْقالَ ، وَيَنْقُلُ الجِبَالَ ، وَيَأْتِيْ بِالعَجَائِبِ.	د دې انجن ټول قووت په همدې کمزوري بخار (دود) کې دی چې ورته خاصه پاملرنه نه کيږي او نه کوم حساب پرې کيږي. د اورګادي مخترع د همدې بخار قووت ته ور پام شوي او هم په دې پوه شوی چې څنګه تسخير او بيا ور څخه په خپلو اهدافو کې ګټه واخلي. هغه د خپل عقل او څيړنې په نتيجه کې په دې پوه شوی چې بخار په قووت سره کولای شي درانه بارونه پورته کړي، غرونه نقل کړي او جالبې چارې تر سره کړي.
وَذلِکَ هُوَ الفَرْقُ بَيْنَ الجَاهِلِ والعَـالِمِ ، وَبَيْـنَ العَـامِيِّ والمُکْتَشِـفِ ، يَـرَى الأَوَّلُ کُـلَّ شَيْءٍ فَلا يرفعُ بِهِ رَأْساً ، ولا يُلْقِي عَلَيْهِ بَالاً ، وَيَـرَاهُ الثَّانِي فَيَرِفُ قِيْمَتَهُ وَيَجْتَهِدُ فيهِ ، حَتّى يُسَخِّرَهُ لِغَرَضِهِ.	د جاهل او عالم، د عام کس او کشفوونکي تر منځ همدغه توپير دی، لومړی يې هر شی ويني، پاملرنه ورته نه کوي، هيڅ سر نه په ګرځوي، دويم يې ګوري، د هغه قيمت او ارزښت پيژني، د همدې له پاره کوښښ کوي، څو يې د خپل هدف له پاره تر خپل کنترول لاندې راولي.

د الفاظو تشریح:

دیوبند: د سهارنپور ښار مربوط یو کلی دی، چي د هند د اتراپردیش ایالات اړوند بلل کېږي.

عجلات: د عجلة جمع ده، د اورګاډي اربې یا ویلونه.

قاطِرة: د اورګاډي انجن، چي د بخار یا برېښنا په زور نورې اوسپنزه ډبلې پر فلزي پټلی کشوي.

کثِیف: سخت، غلیظ، ګڼ.

بمبی: د هند په لویدیځ کي یو ستر تجارتي ساحلي ښار دی.

پِشاور: د لوی افغانستان په شرق کي یو خورا پخوانی تاریخي ښار دی.

ډیلی: د هندوستان پلازمېنه ده.

مَدْراس: د هندوستان په جنوب کي د بنګال خلیج تـه څېرمه ستر کلتوري، اقتصادي او تعلیمي ښار دی چي اوس ورته چینای وایي.

نوي لغات:

عجلة القیادة: استېرینګ.

قِطار رِکّاب/ سریع/ سباق/بضائع: د سپرلی، اوږدواټنـه، سیالی او سامانونو اورګاډی.

(٣١)

القاطرة

د اورګاډي انجن

(٢)

أُنظُرْ يَا رَشِيدُ! إِلى هَـذا المَوْقِدِ في القَاطِرَةِ ، يُلْقِي فِيهِ الرَّجُلُ الفَحْمَ الحَجَرِيَّ ، وَفَوقَ هذا المَوقِدِ حَوْضٌ مِنْ مَاءٍ مَتِينٌ جِدّاً وفيهِ أنابيبُ عَدِيدَةٌ يَسْخَنُ هذا الماءُ بِالنارِ وَيَتَحَوَّلُ بُخَاراً ، وَيَنْتَقِلُ هذا البُخَارُ إلى الأنابِيبِ.	اې رشيده! په انجن کې دې نغرې ته وګوره، يو کس په دې ځاى کې د ډبرو سکاره اچوي، پر دې نغري لوړ بيا يو ډېر مضبوط حوض دى چې اوبه په کې وي، هغه حوض ګڼ پايپونه لري، دغه اوبه په اور ګرمېږي او بيا بخار شي، همدا بخار په دغو پايپونو کې انتقالېږي.
وَتَعَالَ مَعِيَ نَدْخُلُ فِي القَاطِرَةِ ، فَإِنَّ سَائِقَهَا مِنْ أَصْدِقَائِي ، وَهُنَا نَفْهَمُ تَرْكِيبَ القَاطِرَةِ جَيِّداً.	راځه له ماسره انجن ته ور ننوزو، ځکه چلونکى يې زما ملګرى دى، هلته د انجنې په جوړښت دې ښه سر خلاصېږي.
أُنظُرْ إِلى الأنَابِيبِ ، إِنَّها مُتَّصِلَةٌ بِهذهِ الآلاتِ الدَّقِيقَةِ الَّتِي تُدِيرُ عَجَلاتِ القَاطِرةِ ، فَإِذا اجْتَمَعَ هـذا البُخَارُ في الأنَابِيبِ ، دَفَعَ	دې پايپونو ته ګوره، پايپونه له هغو دقيقو الاتو سره منښلي چې د انجن ارابې څرخوي، څه وخت چې دغه بخار په پايپونو کې جمع شي، نو په خپل قووت سره هغه آلې وګرځوي.

بِقُوَّتِهِ الآلاتِ . فَأَدَارَهَا وَبِدَوَرَانِهَا تَدُورُ العَجَلاتُ . وَتَسِيرُ القَاطِرَةُ.

وَهذَا هُوَ الوَقَّادُ الَّذِي يُرَاقِبُ النَّارَ وَالماءَ . وَيُشْرِفُ عَلَيْهِمَا . وهذا صَدِيقُنَا السَّائِقُ . وَإِذَا كَانَتِ القَاطِرَةَ تَجُرُّ القِطَارَ . وَتُوصِلُ الرُّكَّابَ مِنْ دِيَارٍ إِلى دِيَارٍ . فَصَاحِبُنَا يَسُوقُ القَاطِرَةَ . فهو مِفْتَاحُ القِطَارِ . وَإِلَيْهِ يَرْجِعُ الفَضْلُ فِي سَيْرِ القِطارِ وهو يَسْهَرُ على عَمَلِه . وَيَقومُ بِوَاجِبِهِ بِأَمَانَةٍ وَجِدٍّ . وكذلك أَمِينُ القِطَارِ يَستحِقُّ الشُّكْرَ مِنَ الرُّكَّابِ فَإِنَّه يُلاحِظُ الطَّرِيقَ وَيَلْحَظُ وقوف القطار وسيره . والسائق والقاطرةُ طَوعُ اشارته . فاذا هزَّ البيرق الأحمرَ وقف القطارُ واذا هزَّ البيرقَ الأخضرَ تحرّكَ القطار.

وَانْظُرْ إِلى هذه الآلَةِ الَّتِي في يدِ

دهمدې په ګرځېدو او څرخېدو سره بيا ويلان هم ګرځي او انجن خپل مزل په کوي.

او دغه هغه اور بلونکی دی چې اور او اوبه دواړه څاري. د دواړو سرپرستي کوي. دغه چلونکی زموږ ملګری دی؛ که انجن له ځان سره ډبې کشوي، مسافر له يوه ځايه بل ته رسوي، نو زموږ ملګری بيا انجن چلوي، دی د اورګاډي کيلي ده، اورګاډی د ده په برکت مزل کوي، هغه په خپل کار کې شپې رونوي، خپله دنده کې ډېر هڅاند او خپله وظيفه په ښه امانتداري ترسره کوي.

همدا شان د اورګاډي د ساتونکي هم بايد سپرلي مننه وکړي؛ ځکه هغه لار څاري، د اورګاډي پر مزل او درېدو نظر ساتي. چلونکی او اورګاډی دواړه د هغه د اشارې تابع دي، کله چې سور بيرغ وخوځي، نو اورګاډی ودرېږي او کله چې زرغون بيرغ وښوري، نو اورګاډي مزل

السَّائِقِ هذه... فَاِذا رفعَها السَّـائِقُ اِلى فوقُ ، اِنْدفعَ البُخـارُ وسـارَتِ القَاطِرةُ ، واِذا ضَغَطَ عليها سَـكَنَ البُخارُ وهَـدَأَتِ القـاطِرةُ ، حِيْنَئِـذٍ يَضْغطُ السَّائِقُ على آلَةٍ أُخْرى ، وَهِـيَ هـذه وَتُسَـمَّى المِصَـدُّ ، وتَقِـفُ القـاطرةُ مِـن سـاعَتِها ، والعرفـاتُ كُلُّهـا مُرَكَّبَـةٌ بِالقَـاطِرَةِ تَسِيرُ بِسَيْرِها ، وَتَقِفُ بِوُقُوفِها.

وهَذا هُوَ الخَطُّ الحديديُّ الَّـذي يَسِـيرُ عليـه القِطـارُ ، ولـولا هـو لَغَـاصَ القِطـارُ في الأرضِ ، لأَنَّ التُّرْبَةَ لا تَحْمِلُ ثِقْلَ القِطارِ.

هذه هي القَاطِرَةُ الَّتِي تَجُرُّ القِطَارَ ، وهذا هو القِطَارُ الـذي يُوصِـلُ الرُّكَّـابَ مِـنْ دِيـارٍ اِلـى دِيـارٍ ، وَيَحملُ أَثْقَالَ الناسِ اِلى بَلَدٍ لَـمْ يَكُونو بَالغيه الاّ بِشِقِّ الأَنْفُسِ.

أُنظُرْ يَـا رشـيدُ! كيـفَ أَلْهَـمَ اللهُ

پیلوي.

د چلونکي په لاس کې دغې آلې ته وګوره... که چلونکی یې لوړ پورته کړي، نـو بخـار ور خـوشي شي او انجن حرکت کوي او که فشار ور باندې راوړي، بیا بخار تیټ/بند شي او انجن هم ور سره ارامه شي. بیا چلونکی یوه بله آله کنټرولوي، چې هغې ته بریک وایي، بس له دې سره نو انجن سمدستي دریږي، ټولې لـه انجن سره تـړاو لـري، د هغې په خوځښت حرکت کوي او د هغې په دریدو دریږي.

او دغه بیا هغه اوسپینزه پټلۍ ده چې اورګاډي پرې ځي. که دا پټلی نه وي، اورګاډی پر ځمکه ننوزي، ځکه خاروه د اورګاډي درونـدوالی نـه شي برداشت کولای.

دغه انجن شوه چې اورګاډی ځغلوي او دغه دې اورګاډی شو چې مسافر له یوه ځایه بل ته رسوي، د خلکو هغه درانه بارونه لـه یـوه ښـاره تـر بله

الإنسانَ الحِكمَةَ والصِّناعَةَ ، وَرَزَقَهُ العَقْلَ الذي يُسَخِّرُ بِهِ الحديدَ والبُخارَ . أفَلا يَحِقُّ لَكَ أنْ تَقُولَ إذا رَكِبْتَ القِطارَ: سبحانَ ٱلَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُۥ مُقْرِنِينَ ١٣ وَإِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ.	وړي، چې کـه دا کـار دوی خپلـه کولای، نو ډېر به يې په زحمت کړی وای. رشيده! گوره الله تعالى څنگه انسان ته د حکمت او صنعت الهام کړی دی، ورسره يې هغه عقل ور کړی دی چې د هغه په توسط انسان اوسپينه او بخاري مسخروي، نو کله چې په اورگاډي کې سپور شې، دا درته لايقه نه ده چې وايې: هغه ذات ته پاکي ده چې موږ ته يې دغه ماشين مسخر کړی او موږ په خپل توان نه شوای ايلولای او موږ به حتما خپل رب ته ورگرځو.

د الفاظو تشريح:

الفحم الحجري: کولا، زغال سنگ، د ډبرو سکاره.

مَوقِد: د «ض» له بابه اسم مکان دی: د اور بلولو ځای، هغه الـه ده چې په ډبرينو سکرو، يا گاز، يا تيلو، يا بريښنا يا همداسې بل شي سره اور پـه کې بلېږي.

أنابيب: پايپونه، له فلزاتو، يا ښيښې يا هم بل شي څخه جوړ اوږد شی دی چې نس يې خالي وي، د بېلابېلو اغراضو له پاره کارېږي. لکه داوبـو د تېرولـو، يا گاز وړلو، يا دود ايستلو يا هم نور. مفرد يې أُنبوبة او أُنبوبة دي.

وقّاد: مبالغه ده: اور بلونکی، څراغ روښانونکی، د انجن اورتون ته د سون توکي ور اچونکی، ذهن او ځیرک انسان.

نوي لغات:

خَطّ الأنابيب: اوږد پايپ لاين چي پترول، گاز يا اوبه ليږدوي.

أطفال الأنابيب: په لابراتوار كي پيدا شوي ماشومان.

موقِد الغاز: د گازو نغرى، يا د اور بلولو اله.

قَلْبٌ وقّاد/ ذِهْنٌ وقّاد: ځيرک، ځالاک او تيز فهمه.

تحليل الفحم: د ډبرو د سکرو تجزيه.

الفحم الأسود: تور سکاره.

الفحم الحمري/الفحم النحيل/ فاحم الشَعر: لرگين سکاره.

الفحم الباهث: کمرنگه سکاره.

الفحم الرديء: کمزوري سکاره.

الفحم اللاصق: سره مبنتي سکاره.

الفحم العلوي: د لوړ کيفيت سکاره.

الفحم الكبير: لوی سکاره.

الفحم المحلي: محلي سکاره/وطني سکاره.

(٣٢)

جِسْمُ النَّبَاتِ

د ووبښ جسم

(١)

كانَ أَمامَ بيتِ عبّاسٍ حدِيقَةٌ فيها أَنواعُ الشَّجَرِ والنَبَاتِ. قال له أبوه عمرُ مَرَّةً في يومِ عُطْلَةٍ: هَلْ رَأَيتَ يا عبّاسُ! حَدِيقَةَ الدارِ؟	د عباس د كور مخته يوه باغچه ده چي رنګارنګه ونې او واښه په كي شته. هغه ته د رخصتی په ورځ يې پلار عمر ويل: اې عباسه! ايا تا د كور باغچه ليدلې ده؟
قال عبّاسٌ: كيف لا يا أبي! وهي حديقةُ دارِنا؟ أَلْعَبُ فيها كُلَّ يومٍ وأَتَرَدَّدُ اِليها صباحَ مَساءَ.	عباس ويل: پلاره! څنګه به مي نه وي ليدلې؟ هغه مو د كور باغچه ده؟ هره ورځ په كي ساتيرى كوم او سهار و ماښام ور ځم.
قال: عمرُ: ما أَظُنُّكَ رَأَيْتَها! فَتعالَ مَعِيَ نَتَمَشَّ في الحديقةِ ونَدْرُسُ النَبَاتَ، فَإِنّه مِنْ عَجَائبِ خَلْقِ اللهِ، وكِتَابٌ يَجِبُ أَنْ تُطَالِعَهُ.	عمر ويل: ګومان نه كوم چي تا دې ليدلې وي! له ما سره راځه چي په باغچه كي وګرځو او وښو ته يو نظر وكړو. ځكه دا د الله تعالى يو جالب مخلوق او يو كي كتاب دی چي حتما يې بايد ولولې.
خَرَجَ عمرُ وَعبّاسٌ اِلى الحديقةِ، فَرأى عبّاسٌ البستانيَّ يُصْلِحُ قِطْعَةً مِنَ الأرضِ، وَيُنَحِّي	نو عمر او عباس باغچي ته ولاړل، عباس باغوان وليد چي ګوښه كي يې

الحَجَرَ والخَزَفَ ، ويَقْلَعُ الحَشَائِشَ والأعْشَابَ . فَسَأَلَ عبّاسٌ أباهُ عن ذلك.

قال عمرُ: الرَّجُلُ يُصْلِحُ الأرضَ ويُهيِّئها لِغَرسِ الأشجارِ ، فَإذا بَقِيت الأحجارُ والخَزَفُ لَمْ يَثْبُتِ الفَسِيلُ في الأرضِ ، ولَمْ تَمْتَدَّ جُذُورُه في بَاطِنِ الأرضِ ، وإذا تُرِكَتْ هذه الحَشَائِشُ الشَّيْطَانِيَّةُ امْتَصَّتْ غِذَاءَ الفَسِيلِ وَذَوَى الفَسِيلُ ، والبُسْتَانيُّ النَّاصِحُ المُجْتَهِدُ يَحْرُثُ الأرْضَ كَمَا يَحْرُثُ الفَلّاحُ الحَقْلَ ، ويُلْقِي فيها السَّمادَ ويَسْقِيها كُلَّ يومٍ ، حَتّى تُصْبِحَ الأرضُ رِخْوَةً كَرِيمَةً ، تَقْبَلُ كُلَّ ما يُلْقَى فِيها.

ثُمَّ يَغْرِسُ الفَسَائِلَ في مَكَانٍ تَصِلُ إليه الشَّمْسُ كُلَّ يَومٍ.

هُنَا قَاطَعَهُ عباسٌ وقال: وهل يَحْتَاجُ النباتُ أيْضاً إلى الشَّمْسِ؟

يوه توته ځمکه برابروله. له هغې یې ډبري و شګې ایسته کولې. وابنه او بوټي یې ور ځخه کنبل. عباس په دې اړه له خپل پلار ځخه پوښتنه وکړه.

عمر وویل: باغوان ځمکه سموي او د ونو لګولو ته یې چمتو کوي. که ډبري او شګې پرتې وي، بیا نهال په ځمکه کې نه ټینګیږي او نه یې کښته ځمکه کې ریښې غزیږي او که دا شیطاني بوټي پاته شي، نو د نهال اوبه ور ځخه ځښي او نهال وچیږي. خواخوږی او هڅاند باغوان ځمکه سره اړوي، لکه بزګر چې د کښت ځمکه یوې کوي، بیا په کې امبار/شره/کود اچوي او هره ورځ یې اوبه کوي، ځو ځمکه ښه پسته و نرمه شي، هر هغه شی مني چې په کې لویږي.

بیا هغه ځای کې یې نهال لګیږي چې هره ورځ لمر پر ور لویږي. دلته یې عباس خبره ور پرېکړه، ویې ویل: ایا وابنه هم لمر ته اړتیا لري؟

عمر ویل: هو، عباسه! نو ووښ هم

قالَ عمرُ: نَعَمْ! يَاعبَّاسُ! فَالنَّباتُ جِسْمٌ حَيٌّ نَامٍ يَحْتَاجُ إلى الشَّمْسِ والهواءِ والماءِ.	ژوندی وده کوونکی جسم دی چي لمر، هوا او اوبو ته اړتيا لري.
واسْتَمَرَّ عمرُ في حَدِيثِه «ثُمَّ يَغْرِسُ الفَسَائِلَ في صَفٍّ وَيَتْرُكُ بينَ فَسِيْلَيَنِ فُسْحَةً يمّكِنُ لِكُلِّ واحِدٍ مِنْهما أنْ يمّتدَّ فِيها، ولا يُضَايِقُ بَعْضُها بَعْضاً.	عمر خپلي خبري پسي وغزولي: بيا نهالان پر يوه ليکه ښودل کيږي، د هرو دوو نهالانو ترمنځ دومره واټن خوشي کيږي چي دواړه په کي خپلي ښاخلې وغزوي او يو بل ته مزاحمت ونه کړي.
وَيَحْسُنُ أَنْ تَكُونَ الفَسَائِلُ أَتْرَاباً في سِنٍّ واحِدَةٍ، وَإذا كَانَتْ ذاتَ أَزْهارٍ فَلأَزْهارِها مِيعادٌ واحِدٌ، لِيَتِمَّ جَمَالُ كُلِّ صَفٍّ مِنْ صُفُوفِها.	دا به ډيره ښه وي چي نهالان سره همزولي او همعمره وي، که ګلان کوي، نو د ګلانو به يې معلوم وخت وي، په دې ترتيب يې د هر لين اصف ښکلا بشپړيږي.
ولَا يَسْتَرِيحُ البُسْتَانيُّ بَعْدَ ذلكَ، بَلْ يَسْهَرُ عَلى هذه الفَسَائِلِ، فَلا يَزَالُ يَسْقِيها مَرَّةً أوْ مَرَّتَيْنِ كُلَّ يَوْمٍ، وَيَقْلَعُ الحَشَائِشَ وَيَعْزِقُ الأَرْضَ حَوْلَها، فَيَجْعَلُ بَاطِنَها ظَاهِرَها.»	باغوان تر دې وروسته ارام نه کوي، بلکې د همدې نهالانو له پاره شپې رڼوي، هره ورځ يې يو يا دوه خله اوبه کوي، واښه ور څخه کاږي، شاوخوا خمکه ورته اړوي، د کښتې خمکه يې را برسېره کړي او د سر خمکه د خمکي تل ته کړي.
هُنَا فَرَغَ البُسْتَانيُّ مِنْ إصْلَاحِ الأرضِ وَذَهَبَ يَنْقُلُ فَسِيلاً، فَتَبِعَهُ عمرُ وَعَبَّاسٌ، وَوَقَفَا بِجَانِبِه.	دغه وخت باغوان د خمکې له سمولو فارغ شو او ولاړ چي نهالان راوړي، نو عمر او عباس هم ور پسې شول، د هغه تر څنګ ورته ودريدل.

د الفاظو تشريح:

أَتَرَدَّدُ: د تفعّل له بابه مضارع متكلم واحد دی: وخت ناوخته ورتـګ، بېلابېـل وختونه ورتلل.

يُنَحِّي: له ځایه لرې کول، کښل، ایسته کول.

فَسِيْلَة: د ونې ښاخ چې د کرلو/ږدلو په نیت ور ځخه پرې شي، نهال. فسِيل او فَسَائِل يې جمعې دي.

باطِن الأرض: د ځمکې تل، کښته برخه.

السَّماد: امبار، کود، په ځمکه کي پاشل کېدونکې ماده ده چې کښت تـه وده ور کوي. الأسمِدة يې جمع ده.

رِخْوَة: نرمه، پسته.

يَغْرِقُ: د «ض» له بابه مضارع معلومه غائبه ده: اړول.

البُسْتانيّ: باغوان.

حشائش: مفرد يې حشيشة او جمع يې حَشِيش ده. شنه واښه چې پلنې پـانې ولري.

أعشاب: جمع الجمع ده، مفرد يې عُشْبة دی او عُشْب يې جمع ده: شين نازک بوټی دی چې حیوانات يې خوري.

نوي لغات:

نبات بُستانيّ: کرل کېدونکی بوټی لووښ.

نبات بريّ: هغه بوټي چې عموما نه کرل کېږي.

علم الحشائش: د علم النبات یوه څانګه ده چې پر وښو خپل تحقیقات کوي.

قَلَّ العُشْبُ هذا العام بسبب الجفاف: دغه کـال د وچکـالی لـه امله واښـه کـم شوي دي.

(٣٣)

جِسْمُ النَّبَاتِ

د ووبښ جسم

(٢)

حَفَرَ الْبُسْتَانِيُّ الأرضَ حَوْلَ الفَسِيلِ بِاحْتِرَاسٍ ، وكَأَنَّهُ يَخَافُ شَيْئاً ، فَسَأَلَ عباسٌ والِدَه عن ذلك ، وقال: لِمَاذا يَتَوَانَى البستانيّ في شُغْلِه ، ولا يُعْجِّلُ؟	باغوان د نهال شاوخوا ځمکه په احتياط وکيندله، کي لکه پر يوه شي چي دارېدی، عباس له خپل پلار څخه د دې پوښتنه وکړه، ويې ويل: باغوان ولې په خپل کار کي ځنډ کوي، تلوار ولې نه پر کوي؟
قَالَ عمرُ: هُوَ يَخَافُ أَنْ يَقْطَعَ بَعْضَ الجُذُورِ فَيَضُرُّ بالفَسِيلِ ، ورُبَّما يموتُ ، لأَنَّ الجُذُورَ لازِمَةٌ لِلشَّجَرَةِ وبِها حَيَاتُها.	عمر ويل: هغه دارېږي چي ځيني ريښي بې پرې نه کړي، دا بيا نهال ته تاوان کوي، امکان لري چي وچ شي؛ ځکه ريښې له ونې سره لازمې وي او په همدې سره ژوندی وي.
قال عبّاسٌ: وَمَا فَائِدَةُ الجُذُورِ وَمَا شُغْلُها حَتّى لَا تَحْيا الشَّجرةُ بِغيرِها.	عباس ويل: ريښې څه ګټه لري او څه کاره دي چي ان ونه بې ريښو ژوند نه شي کولای؟
قالَ عمرُ: النَّبَاتُ اِنَّمَا يَثْبُتُ في الأَرضِ بِالجُذُورِ ، فَهِيَ الَّتِي تَمْتَصُّ الغِذَاءَ مِنَ الأرضِ ، وَتَبْحَثُ عَنْهُ ، أَلاَ تَرَاهَا مُمْتَدَّةً مُتَشَعِّبَةً في بَاطِنِ الأرضِ ، كأَنَّها جَوَاسِيسُ وَعُيُونٌ قَدِ انْبَثَّتْ لِعَمَلِها.	عمر ويل: وابښه په ځمکه کي پر ريښو ولاړ او ټينګ وي، ريښې ورته له ځمکې غذا را ټولوي، د همدې غذا لټه ورته کوي، ته نه وينې چي د ځمکې په تل کي د جاسوانو او خبر

عباسٌ: وماهي الأجزاءُ اللازمةُ للنباتِ غيرُ الجذورِ؟

قال عمرُ: مِنَ الأعضاءِ اللازمةِ للنباتِ السّاقُ، وهو الجُزْءُ البارزُ على الأرضِ، وهو الذي يَحْمِلُ الفُروعَ والأوْراقَ ويَسيلُ فيه غِذاءُ الشَّجرةِ، ويَنْتقِلُ إلى أجْزائها.

والآخَرُ اللازِمُ للنَّبات الأوْراقُ وبِها يَتَنفَّسُ النَّباتُ، ويأخُذُ مِنَ الهواءِ ما يُصْلِحُ بِهِ حَياتَهُ.

وهذه الثَّلاثَةُ: الجُذُورُ، والسّاقُ، والأوْراقُ، هِيَ أعْضاءُ النَّباتِ اللازِمَةُ لحَياتِه ونَمائه، ويَكْفيكَ يا عبّاسُ! هذا الدَّرْسُ الأوَّلُ عَنِ النَّباتِ.

قال عبّاسٌ: عَجَباً يا أبي! ما كُنْتُ أعْرِفُ مِنْ قَبْلُ أنَّ النَّباتَ جِسْمٌ حَيٌّ نامٍ، لَهُ تَرْكيبٌ دقيقٌ.

قال عمرُ: وكذلك كُلُّ شيءٍ، فإذا دَرَسْتَه كَكِتابٍ تَعجَّبْتَ مِنْ صُنْعِ الله الذي أتْقَنَ كُلَّ شيءٍ، وعَرَفْتَ أنَّ في كُلِّ شيءٍ آيةً للهِ.

راوړونکو په شان په خپل کار پسې تر لرې تللي او خپر شوي وي.

عباس ويل: وابنه له ريښو پرته نور کوم لازمي اجزاء لري؟

عمر ويل: له ونو سره لازمي غړي يې تنه ده، دا جز يې پر ځمکه ښکاره وي، پر هغه باندې ښاخونه او پاڼې ولاړې وي، د وابنه غذا په همدې کې ورځي او بيا يې اجزاوو ته رسيږي.

د وابنه بل لازمي غړی د هغه پاڼې دي چې په همدې سره تنفس کوي. له هوا څخه هغه څه ور تولوي چې ژوند يې په وپايي.

دغه درې واړه اجزاء: ريښې، تنه او پاڼې د نبات د ژوند او ودې لپاره لازمي اجزاء دي. عباسه! له نباتاتو د لومړي درس په توګه همدا درته بسنه کوي.

عباس ويل: پلاره! جالبه ده، زه وړاندې نه پوهېدم چې نبات هم ژوندی او وده کوونکی جسم دی، د هغه ډېر دقيق جوړښت دی.

عمر ويل: دغه ډول هر شی دی، که د کتاب په شان يې ولولې، نو د الله تعالی هغه کار ته به حيران شي چې

وفي ذلك يَقولُ الشَّاعر: ولله في كُلِّ تَحْــــرِيكَةٍ وَفي كُلِّ تَسْكِيْنَةٍ شَاهِدُ وفي كُلِّ شيءٍ لهُ آيــةٌ تَدُلُّ على أنَّهُ وَاحِـــدُ	هر شی يې په خپله كامله بڼه پيدا كړی، هله به وپوهيږې چې هر شی د الهي قدرت يوه نښه ده، په همدې اړه شاعر ويلي دي: په هر خوځښت او هر سكون كې د الله يو شاهد دی، په هر شي كې د هغه يوه نښه شته، چې په ګوته كوي هغه تنها دی.

د الفاظو تشريح:

بِاحتراس: په احتياط او ډېر پام.

بِتَوانی: ځنډ او تاخير كول.

جواسيس: د جاسوس جمع ده: د يوه خاص جهت/لوري له پاره پټ معلومات را ټولونكی.

عيون: مفرد يې عَين دی، بله جمع يې أعينٌ ده: سترګې، جاسوسان، هر غوره او ښه شيان، ساتونكی، هر حاضر شی، ماليه، د اوبو چينه، د يوه شي ذات.

نوي لغات:

جواسيس العدوّ: د دښمن جاسوسان.

جاسوس مزدوج: هغه څوک چې د دوو لورو له پاره كار كوي، هغه كس چې يوه وخت كې د دوو دولتونو له پاره كار كوي. يوه ته چل ور كوي او بل ته خدمت.

فلانٌ عَينٌ على فلان: پلانی هغه بل كس څاري.

بعثه عيناً بعين: لاس په لاس مې خرخ كړ.

(٣٤)

الببغاء

توتي

أَلِفْتِها صَبِيحَةً مَلِيْحَةً	نَاطِقَةً باللُّغَةِ الفَصِيْحَةِ
عُدَّتْ مِنَ الأَطْيارِ واللِّسَانُ	يُوْهِمُنِي بِأَنَّها اِنسَانُ
تِنْهِي اِلَى صَاحِبِها الأَخْبارا	وَتَكْشِفُ الأَسْرارَ والأَسْتَارا
بَكْماءُ اِلاَّ أَنَّها سَمِيعَةٌ	تُعِيدُ ما تَسْمَعُهُ طَبِيعَةً
زَارَتْكَ مِنْ بِلادِها البَعِيدَةِ	واسْتَوْطَنَتْ عِندكَ كَالقَعِيدَةِ
ضَيفٌ قِراهُ الْجَوزُ والأَرزُ	والضَّيفُ فِي اِتْيانِه يُعَزُّ
تَراهُ فِي مِنْقارِهِ الرَّقِيقِ	كَلُؤْلُوءٍ يَلْقُطُ بِالعَقِيقِ
تَنْظُرُ مِنْ طَرْفَينِ كَالفَصَّينِ	فِي النُّورِ والظُّلْمَةِ بَصَّاصَيْنِ
خَرِيدَةٌ خُدُورُها الأَقْفاصُ	لَيسَ لَها مِنْ حَبْسِها خَلاصُ
تَحْبِسُها وَمَالَها مِنْ ذَنْبِ	وَاِنَّما ذَاكَ لِفَرطِ الحُبِّ

(أَبو اِسحاق الصَّابيُّ)

ترجمه:

له ښکلي او ښایسته توتي سره مي مینه شوه، هغه چي په روانه ژبه خبري کوي. هغه مرغه او ژبه شو، زه کي انګېرم چي انسان دی. خپل خاوند ته خبر ور کوي، رازونه او پټې ورته افشا کوي، ګونګی دی، مګر اوري، هر څه چي واوري، هغه په خپله ښه را ګرځوي. ستا زیارت ته له لرې وطنو راغلی دی،

ستا خو' کي د مجلس کوونکي په شان پاته شو. کي ميلمه دی چي خوراک يې چارمغز او وريجې دي، هغه ميلمه دی چي په راتګ يې عزت کيږي. نرمه مشوکه به يې د ملغلرې په شان وويني چي کله پر ډبرو دانه ټولوي. له دواړو خواؤ کي ښکاري لکه د ګوتمې غمی، په رڼا او تياره کي خلبل کيږي. دی هغه بې سوريه ملغلره ده چي پرده يې قفسونه دي، له دې قفسونو يې هيڅ خلاصون نه شته. هغه له هيڅ ګنا پرته بندي کيږي، بلکې دا بند يې د ډبرې مينې له کبله وي.

د الفاظو تشريح:

أَلِفْتُها: د (ح) له بابه ماضي متکلم دی: مينه ور کول، الفت، أنس.

تُنْهِي: د افعال له بابه مضارع مونث دی: رسوي.

بَكْمَاء: د أبْكَم مونث دی، جمع يې بُكْمٌ ده: ګونګی، بې خبرو، هغه څوک چي خبرې نه شي کولای.

القَعِيدة: ناست، مجلسي.

مِنقار/مِنسر: مشوکه. مناقير يې جمع ده.

يَلْقُطُ: د «ن» له بابه مضارع مذکر غائب دی: په مشوکه له ځمکې د يوه شي اخيستل.

العقيق: سر قيمتي ډبره.

الفصُّ: فصوص يې جمع ده: د ګوتمې غمی، چي له قيمتي ډبرې يا بل شي جوړ وي.

بَصَّاصٌ: خلبل.

خُرَيدةٌ: د خرائد جمع ده: بې سورې ملغلره.

خِدرٌ: خدور او أخدار يې جمعې دي: پرده، هغه څه چې د نيرمې له پاره را خوړند شي.
مَليحة: د مليح مونث دى: ښکلى. فتاةٌ مليحة: ښکلې نجلى. وجهٌ مليح: ښکلى مخ.
صَبيحة: د صَبيح مونث دى: ښايسته، لکه: فتاةٌ صبيحة: ښکلې نجلى. يا سهار، د ورځې لومړى برخه: زاره صَبِيحة يومِ الجمعة: د جمعې د ورځې په سهار يې ورسره وليدل.

نوي لغات:

بناتُ الخُدور: پيغلې نجونې.
نظرتُ من وراء الخِدر: د پردې هاخوا مې وکتل.
ربّات الخُدور: پرده داره ښځې.
بصيص: وړانګې، ځلا، رڼا.
لُقاط: هغه څه چې له وړې اخيستل کيږي.
مِنقار طويل/حادّ: اوږده او تېره مشوکه.
بَصِيص الضَّوء: نرمه رڼا.

(٣٥)

الحَجَّاجُ وَالْفِتْيَةُ

حجاج او ځوانکيان

أَمَرَ الحجَّاجُ صاحِبَ حَرَسِهِ أن يَطُوفَ ليلاً، فَمَنْ رَآهُ بعدَ العِشاء سَكْرانَ ضَرَبَ عُنُقَه. فطاف ليلَةً مِنْ اللَّيالِيْ، فَوَجَد ثلاثَةَ فِتْيانٍ، يَتَمايَلُون، عليهم أَمَاراتُ السُّكْرِ، فَأَحاطَتْ بِهِمُ الغِلْمانُ، وقال لهم صَاحِبُ الحَرَسِ:

من أنتم؟ حتى خالَفْتُم أمرَ أميرِ المُؤمِنِين، وَخَرَجْتُمْ في مِثْلِ هـذا الوَقْتِ؟ فقال أحَدُهُمْ:

أَنَا ابنُ مَنْ دانَتِ الرِّقابُ لَهُ
مِنْ بَينَ مَخْدُومِها وخادِمِها
تَأْتِيه بِالرَّغمِ، وهي صاغِرَةٌ
يَأْخُذُ مِن مَالِها وَمِن دَمِها

فَأَمْسَكَ عَنه، وقال: لعلَّه من

حجاج د خپلو پوليسو مشر ته د شپې د گزمې امر وکړ او ورته يې وويل: که دې د ماخستن تر لمانځه وروسته څوک د نشې په حال کې وليد، سر يې پرې کړه. نو هغه يوه شپه گزمه کوله چې درې ځوانکيان يې وليدل، په ناز او نخرو روان وو او د نشې نښې ور باندې ښکاره کېدلې. پوليسو هغه چارپېر کړل، ورته يې وويل: څوک ياست؟ چې د امير المومنين له امره مو سرغړونه کړې؟

نو يوه يې ويل:

زه د هغه کس زوی يم، چې په وړاندې يې سرونه ټيټېږي، د هغې اړيکې پر بنسټ چې خادم او مخدوم يې سره لري. هغه سرونه په کې حال کې هغه ته راځي چې ذليل وي او دی ور څخه مال او وينه اخلي.

پوليس مشر د هغه له وژلو منعه شو، له خان سره يې ويل: شوني ده چې د

أَقَارِبِ أميرِ المؤمنين، ثم قال للآخَرِ: وَأَنْتَ من تَكُونُ؟ فَقَالَ:

أنا ابنُ الذي لا تَنْزِل الدهر قِدْرُهُ
وإِن نَزَلَتْ يوماً فَسوفَ تَعُوْد
تَرَى الناسَ أَفْوَاجاً إلى ضَوءِ نَارِهِ
فَمِنهُم قِيَامٌ حَوْلَهَا، وَقُعُوْدُ

فَأَمْسَكَ عنه، وقال: لَعَلَّه مِن أَشْرافِ العرب.

ثم قال للآخَرِ: وَأَنْتَ مَنْ تَكُوْنُ؟ فَأَنْشَدَ قائلاً:

أنا ابن الذي خَاضَ الصُّفُوفَ بِعَزْمِه
وَقَوَّمَهَا بالسيفِ حتى اِسْتَقَامَت
رِكَابَاهُ لَا تَنْفَكُّ رِجلاه مِنهما
إِذَا الخَيلُ في يومِ الكَرِيهَةِ وَلَّت

فأمسك عنه، وقال: لعله من أشجع العرب، واحْتَفَظَ بِهِم.

فلمَّا كَانَ الصَّبَاح رفع أمرَهُم إلي الأميرِ، فأحضرهم وكشف عن

امير المومنين قريب وي، بيا يې بل ته ويل: او بيا ته څوک يې؟ هغه ويل:

زه د هغه کس زوی يم چي کټو يې زمانه نه کښته کوي، که يوه ورځ کښته شي، نو بېرته سمدستي راګرځي. خلک به د هغه د اور پر شاوخوا پنډ ووينې، چي يو څه به ورته ولاړ او نور به ناست.

پوليس مشر د دې له وژلو هم لاس بند کړ، ويل يې: ښايي د عربو له اشرافو سره اړه ولري. نو درېيم ته يې ويل: او ته څوک يې؟ هغهٔ ويل:

زه د هغه کس زوی يم چي په خپل عزم او همت صفونو ته ننوزي، په توره هغه ليکې سيده کوي، څو هغه صفونه برابر شي. د هغه پښه له رکابه نه وزي، څو چي د جنګ په ورځ اسان له ميدانه ونه تښتي.

پوليس مشر د دې وژلو ته هم زړه ښه نه کړ، ويل يې: امکان لري د کوم زړور غيرتي عرب زوی وي. نو درې واړه يې وساتل.

سهار يې د هغوی قضيه حجاج ته وړاندي کړه. حجاج هغوی را وغوښتل. د حالاتو جاج يې واخيستی. نو معلومه

حـالهم، فـإذا الأول ابـنُ حَجّـام، والثاني ابن خُضَرِيٍّ، والثالث ابن حائـک، فتعجَّـب الحجّـاج مـن فصاحتهم، وقال لِجُلَسَائه: عَلِّمُـوا أولادكُـمْ الأدَبَ، فـوَ اللـهِ، لَـوْ لَا فَصَاحَتَهُمْ لَضَرَبْتُ أعْنَاقَهُمْ.	شـوه چي لـومړی د سـلمان(نائي) زوی دی، دويم د ترکاري فروش زوی دی او دريیم يې د جامـه اوبـدونکی زوی دی. نو حجاج دَ هغوی فصـاحت تـه حيران شو او خپلو د مجلس کسانو ته يې ويل: خپلو اولادونو ته ادب ور زده کـړئ، په خدای که د دوی غوره فصاحت نه وای، ما به يې سرونه له تنو جلا کړي وای.

د الفاظو تشريح:

يَتَمايَلون: د تفاعل له بابه مضارع معلومه جمع مذکره غائبه ده: پـه نـاز و نخـرو تگ، متکبرانه مزل.

أَمارات: مفرد يې امارة دی: نښانه، علامه.

دَانَتْ: د «ض» له بابه ماضي مونث ده: تسليمي، سر ټيټي، امر منل.

صَاغِرَة: راضي، په خوښي، ذليل، خوار.

خاضَ: د «ن» له بابه ماضي معلومه ده: ور ننوتل، په کي تـگ. خـاض الرجـل الصفوف: سړی صفونو ته ننوتی.

قوَّمَها: د تفعيل له بابه ماضي معلومه ده: برابرول، سمول.

حائک: حائکين يې جمع ده: نساج، جامه اوبدونکی.

خُضَرِيّ/فاكهانيّ: ميوه او ترکاري فروش.

نوي لغات:

خَضْرَاءُ الدِّمَن: هغه چي ظاهر يې ښه او باطن يې بد وي.

أبادَ اللهُ خضراءَهم: الله تعالی پوپنا کـړل، د هغـوی شـتمني او نعمتونـه يـې لـه منځه يوړل.

الخَضْراء/القُبَّة الخضراء: اسمان.

(٣٦)

أنا تُرَابٌ

زه خاورې يم

أَنـا تُـرَابٌ حَقِـيرٌ يَطَـؤُنِي النـاسُ بِأَقْدَامِهِم وتعالِهم، وَيَضْـرِبُونَ بِي مَثَلاً في الحَقَارَةِ والذُّلّ.	زه خوارې خاورې يم چې خلک مې تـر پښـو او پـايزارو لانـدې کـوي.د خوارۍ او ذلت مثالونه په ما تېروي.
النَاسُ يَنْتَفِعُونَ بي في كُلِّ سَاعَةٍ ، وفي كُـلِّ مَكَـانٍ وَزَمَـانٍ ، ثُـمَّ يَحْتَقِرُونَنِـي وَيَهْجُونَنِي كالشَعِيرِ يُؤْكَلُ وَيُذَمُّ.	خلک هر ګړی له ما ګټه اخلي، په هر ځای او هر وخت کي، بيا هـم زمـا سـپکاوی کـوي، زمـا بـدوي بيانوي، لکه اوربشې چې هـم يـې خوري او هم يې بد بيانوي.
فَفِي مَنَاكِبِي يمْشِي الناسُ ، وعلى ظَهْرِي يَبْنُونَ بُيُوتاً ومَبَانِيَ عَظِيمةً ، ومِن بَطْنِي تَخرُجُ لِلنَّاسِ ، حُبُوبٌ يَأكُلُها الناسُ ، وجَنَّاتٌ مِنْ أَعْنَابٍ والزَّيْتُونَ والرُّمَّانُ ، والنَّخْلَ والزَّرْعُ مُخْتَلِفاً أُكُلُهُ.	زما پر اوږو خلک مزلونه کوي، زما پـر شـا کورونـه او سـترې مـانۍ ودانوي، زما له نس څخه خلکو تـه د خوراک غلې دانې راوزي، همدا شان د انګورو، زيتون، منو، خورماؤ باغونه راوزي او د خوراک بېلابېل کښتونه.
وَمِنْ بَطْنِي يَخرُجُ ذلك القُطْنُ الّذي بِهِ لِبَاسُكُمْ وكِسْوَتُكُمْ في الصَّيْفِ والشِّتَاءِ ، وَسَرَابِيلُ تَقِيكُمُ الحَرَّ.	زما له نـس څخـه هغه پنبه راوزي چې تاسو ور څخـه د دوبي او ژمي جامې او لباس جوړوئ، همدا شان هغه کميسان چې له ګرمۍ مو ساتي.
وَفي لِبَاسِ الحَرِيرِ أيضاً يَرْجِعُ إِلَيَّ	وربښـمينه جامه هـم زمـا په برکت پنځـول کېږي؛ ځکـه د وربښـمو

الفَضْلُ فَإنَّ دُوْدَةَ القزِّ تَتَغَذّى مِنْ وَرَقِ التُّوتِ ، وَمِنِّي تَتَغَذّى شَجَرَةُ التُّوتِ ، وَعَلَيَّ تَنْمُو وتَعِيشُ ، وَعلى ظَهْرِي تَحْفِرُون البِئْرَ الّتِي تَشْرَبُونَ مَاءَهَا ، وعلى ظَهْرِي تَجْرِي الأَنْهارُ الّتِي تَسْقِيكم ، وَتَسْقِي زُرُوْعَكُم.

ومِن الطِّينِ يَبْنِي الفَخّارِيُّ الأَوَانِيَ والظُّرُوفَ ، الّتِي تَأْكُلُونَ فِيها وتَشْرَبُونَ ، واللُّعَبُ والدُّمَى الّتِي يَلْعبُ بها الأَطْفالُ.

وهل تُصَدِّقُونَ إذا أَخْبَرْتُكم بِأَنِّي مَادَّةُ الكِتَابِ الّذي تَقْرَؤُوْنَه ، ومادّةُ كُلِّ كِتابٍ وَصَحِيفَةٍ ، فَإنَّ مَادَّةَ الوَرَقِ الحَشِيشُ الذي يَنْبُتُ في الأرضِ ، فَلِي مِنَّةٌ على كُلِّ عالِمٍ وَطَالِبٍ ، وَلِيَ مِنَّةٌ على كُلِّ مَنْ عليه مِنَّ العلمِ والدِّين.

ومِن بطني يَخْرُجُ الذَّهَبُ والفِضَّةُ ، والنُّحاسُ والحديدُ، الذي فيه بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ ،

چینجي د توت پاڼې خوري او د توت ونه بیا له ما خپله غذا اخلي. په ما سره وده کوي او ژوندی وي. زما په ملا کې تاسو څاهان کاږئ، هغه څاهان چې ور څخه د څښاک اوبه تر لاسه کوئ. زما پر شا هغه نهرونه بهیږي چې تاسو ته د څښلو اوبه در کوي او کښتونه هم خړوبوي.

زما له ختو کلال خاورین لوښي او ظرفونه جوړوي، هغه لوښي چې تاسو په کې خوراک او څښاک کوئ، د لوبو سامان او مجسمې چې ماشومان ور باندې ساتېری کوي.

ایا تاسو به یې را سره ومنئ که زه خبر در کړم چې کوم کتاب تاسو لولئ، د همدې کتاب خام توکي هم زه یم. همدا شان د هر کتاب او صحیفې ماده؛ ځکه د پاڼو خام مواد له بوټو او وښو تر لاسه کیږي چې هغه پر ځمکه را زرغونیږي؛ له دې امله نو زما احسان د هر عالم او طالب په اوږو کې بار دی، همدا شان مې پر هغه چا هم احسان دی چې پر هغه د علم او دین احسان پروت دی.

والزَّيْتُ الَّذي يُضِيءُ والفَحْمُ الحَجَرِيُّ تَسِيرُ بِهِ القَاطِرَةُ ، وَالْبِتْرُوْلَ الذي تَسِيرُ بِهِ السَّيَّارَاتُ والطَّائِرَاتُ.

إنَّكُم تُفْسِدُونَ أَطْيَبَ الأَشْيَاءِ ، فَكُلُّ مَا تَلَبَّسَ بِكُمْ فَسَدَتْ رَائِحَتُهُ ، وَذَهَبَتْ نَضَارَتُهُ . وَأَنَا أُعِيدُه غَضّاً طَرِيّاً ، وَبِهذا السَّمَادِ الذي تُلْقُونَه في الحُقُولِ والفَسَائِلِ أُنْبِتُ لَكُم حَبّاً صَحِيحاً ، وفاكِهَةً لَذِيذَةً ، وزُهوراً جَمِيلَةً.

أنا أَمِينُ أَجْسَادِ الأَنْبِيَاءِ ، أنا مَرْقَدُ الشُّهَدَاءِ ، أنا مُسْتَودَعُ الأَوْلِيَاءِ ، أنا مَضْجَعُ العُلَمَاءِ والصُّلَحَاءِ ، أنا مَدْفَنُ الأُمَّهاتِ والآبَاءِ ، فَلا تَمْشُو عَلَيَّ مَرَحاً ، وَاذْكُروا قَولَ صَاحِبِكم.

خَفِّفِ الوَطْءَ مَا أَظُنُّ أَدِيمَ الا
أَرْضِ الاَّ مِنْ هذه الأجْسَادِ
وَقَبِيحٌ بِنَا وَإن قَدُمَ العَهْدُ
هَوَانُ الآبَاءِ والأَجْدَادِ

زما له نس څخه سره او سپين، پيتل او اوسپينه راوزي، چي ډېره پياوړي او انسانانوته ګټه لري، همدغه ډول تيل راوزي چي رڼا درته جوړوي او د ډېرو سکاره دي چي د اورګاډي انجن په چلېږي او پټرول راوزي چي موټر او الوتکي ور باندې رفتار کوي.

بېشکه تاسو ډېر غوره شيان خرابوئ، هر شی چي تاسو اغوستی، د هغه بوی خي. سوکروالی يې ختم شي او زه يې بېرته روښانه او نرم کړم. په همدغه امبار سره چي تاسو يې، خپلو کښتونو او نيالګيو کي اچوئ، زه تاسو ته سمي داني، خوندوري مېوې او ښکلي ګلان را زرغونوم.

زه په ډېر امانت د انبياؤ جسدونه ساتم، زه د شهداؤ هديره يم، زما سره د اولياؤ بدونه امانت دي، زه د صالحانو او علماؤ تکيه ځای يم، په ما کي مندي او پلرونه پټ دي، نو پر ما متکبرانه مه ځئ، د خپل يوه کس خبره در ياده کړئ:

ورو قدم ږده، زما په اند د ځمکي مخ به له دې جسمونو څخه جوړ وي.

که څه هم زمانه ډېره شوي ده، اما بيا هم د خپلو پلرونو او نيکونو سپکاوی

سِرْ اِن اسْتَطَعْتَ فـي الهَوَاءِ رُوَيْداً لا اخْتِيالاً عَلَى رُفَـــــاتِ العِبَادِ	موړ ته بد كار دى. كه دې په وس پوره وي، يو ګړى هوا كي ولاړ شه، د بندګانو پر پاتې شونو په تكبر مه څه.

د الفاظو تشريح:

يَطأُ:د «ع» له بابه مضارع معلومه ده: تر پښو لاندې كول.

يَهْجُو: د «ن» له بابه مضارع معلومه ده: د چا عيبونه شمارل، بدي يې بيانول.

سِرْبَالٌ: سرابيل يې جمع ده: هر اغوستونكى شى لكه كميس يا زغره.

تَقِيكم: د «ض» له بابه مضارع معلومه ده: ساتي مو.

القَزُّ: طبيعي وريښم چي د وريښمو له چينجو تر لاسه كيږي.

دُمْيَة: دُمى يې جمع ده: وړې مجسمې.

بَأسٌ شديد: سخت قووت، پياوړى و مضبوط.

نضارة: د هر شي خالص /سوكر.

مَرْقَدٌ: د مَراقِد جمع ده: قبر.

طَرِيًّا: پوست، باريک، نرم.

هَوَان: د «ن» له بابه مصدر دى: ذلت، سپكاوى، كمزوري، بې عزتي.

رُوَيْداً: لږګړى، وخت ور كول، چانس و فرصت ور بخښل.

لا اخْتِيالاً: بې تكبر او لويي.

رُفات: د هر مات شوي شي ټوټې او زړې برخې.

نوې لغات:

وَقَاهُ السِّربالُ الحرَّ: كميس له ګرمي څخه خوندي كړ.

من يَهُن يسهل الهوان عليه: څوک چي سپک شي، اهانت په اسانه زغملاى شي.

هان الشَّخصُ: بې عزته، ذليل و خوار شو.

(٣٧)

السُّلْطَانُ مَحْمُوْدُ بنُ مُحَمَّدٍ الْغُجْرَاتِي

سلطان محمود بن محمد گجراتي

السُّلطانُ العَادِلُ المُجَاهِدُ ، أَبُو الفَتْحِ سيفُ الدِّينِ مَحْمُودُ بْنُ مُحَمَّدٍ الغُجْرَاتِيُّ ، وكانَ مِنْ خِيارِ السَّلاَطِينِ ، وَلِدَ بِغُجْرَاتَ في عَاشِرِ رَمَضَانَ سَنَةَ ٨٤٩هـ وَقَامَ بِالمُلْكِ بَعْدَ دَاوُدَ شَاه سَنَةَ ٨٦٢هـ وكانَ يوماً مَشْهُوداً. اِسْتَقَلَّ بِالْمُلْكِ خَمْساً وخَمْسِينَ سَنَةً ، وَجَاهَدَ في اللهِ حَقَّ الجِهَادِ ، وَوَسَّعَ حُدُوْدَ مُلْكِهِ اِلى مَالْوَهْ ، وَاِلَى بِلادِ السِّنْدِ ، وَلٰكِنَّهُ في تِلْكَ الْمُدَّةِ الطَّوِيلَةِ لَمْ يَطْمَحْ اِلَى بِلادِ المُسْلِمِينَ وَلَمْ يَسْتَشْرِفْ لَهَا ، وَاِذَا اسْتَوْلَى القَوِيُّ مِنْهُمْ عَلَى الضَّعِيفِ بِنُصْرَةِ الضَّعِيفِ ، وكانَ قَائِماً بِالْعَدْلِ وَالاِحْسَانِ ، يُنَفِّذُ أَمْرَ	عادل او مجاهد سلطان ابو الفتح سيف الدين محمود بن محمد گجراتي يو ډېر غوره پاچا و، نوموړی په گجرات کي د روژې پر لسمه ۸۴۹هـ مهال پیدا شو. تر داؤد شاه وروسته يې د چارو واگې د ۸۶۲هـ مهال په لاس کي ونيولې، چي هغه ورځ خورا زيات کسان مراسمو ته حاضر شوي وو. پنځه پنځوس کاله يې په خپلواک دول پاچاهي وکړه، د الله په لار کي يې سم جهاد وکړ. د خپل هيواد بريدونه يې تر مالوا او سنده پوري وغزول. اما د خپل سلطنت په دې دومره اوږده موده کي يې د مسلمانانو له هيواد سره هيلې ونه تړلې او نه يې تر سترگو پورته وړ وکتل. که به له مسلمانانو څخه يوه

الشَّرْعِ فِي السِّيَاسَةِ ، وَيَمْضِي حُكْمَ القِصَاصِ ، وَلا يَمْنَعُ كَوْنُ أَحَدٍ مِنْ عُظَمَاءِ المُلْكِ الْخَاصَّةِ بِهِ أَلَّا يَعْمَلَ بِالشَّرِيْعَةِ.

وَمِنْ مَكَارِمِهِ قِيَامُه بِتَعْمِيْرِ الْبِلادِ وتَأْسِيسِ المساجِدِ ، والمَدَارِسِ والزَّوَايا ، وتَكْثِيرِ الزِّرَاعَةِ وغَرْسِ الأَشْجَارِ المُثْمِرَةِ ، وَبِناءِ الحَدَائِقِ والبَساتِينِ ، وتَحْرِيض النَّاسِ على ذلِكَ ، وإِعَانَتِهِم بِحَفْرِ الآبَارِ وإِجْراءِ العُيُون ، ولِذلِكَ أَقْبَلَ عليه الناسُ إِقْبالاً كُلِّياً ، وَوَفَدَ عليه البَنَّاؤُونَ والمُهَنْدِسُوْنَ وأَهْلُ الحِرَفِ والصَّنائع مِنْ بِلادِ العَجَمِ ، فَقَامُوا بِحِرَفِهِمْ وصَنَائِعِهم ، فَصارَت غُجْرَاتُ رِياضاً مُخْضَرَّةً بِكَثْرَةِ الحِيَاضِ والآبارِ ، والحَدَائِق والزُّرُوعِ والفَوَاكِهِ الطَّيِّبَةِ ، وصَارَتْ بِلادُ كُجْرَاتَ مُتْجَرَةً

پیاوړي پر کمزوري برید وکړ، نو دی د کمزوري مرستې ته ورتلی، نوموړی هر وخت د عدل پلوي او احسان کوونکی و، په سیاست کې یې شرعي اوامر نافذول، د قصاص حکم جاري کېدی، پر هر چا لازمي وه چې په شریعت به عمل کوي، که څه هم د هغه د سلطنت خانګړي اشراف او لویان وای.

له ښو خویونو څخه یې یو د ښارونو تعمیر، د جامع مساجدو، مدارسو او خانقاګانو جوړول، د کښتونو ډېرول، د مېوه داره ونو لګول، د باغچو او بڼونو ابتکار کول، خلک همدې ته هڅول، له خلکو سره د څاهانو او چینو په کیندلونو کې مرسته کول و. له دې امله د هغه لور ته یو مخ خلک ور مات شول، له عجمي ښارونو څخه بنایان، انجنیران، د پیشو او صنعت خاوندان په ډلو ډلو ورته راغلل، همدلته یې خپلو هنرونو او صنعت ته مخه کړه. نو ګجرات د

تُجْلَبُ مِنها الثِّيَابُ الرَّقِيْعَةُ اِلى بِلادٍ أخرى . وذلكَ كُلّه بِمَيْلِ سُلْطَانِها مَحْمودٍ شَاهْ اِلى مَا يَصْلُحُ بِهِ المُلْكُ والدَّوْلَةُ . وَيَترَفَّهُ بِهِ رَعَايَاهُ.

وَمِنْ مَكَارِمِهِ قِيَامُهُ بِتَرْبِيَةِ العلماءِ والصَّالِحينَ لِما كانَ مَجْبُولاً عَلى حُبِّ العِلمِ وأهْلِه . فَاجْتَمَعَ في حَضْرَتِه خَلْقٌ كَثِيرٌ مِنْ أفَاضِلِ العَرَبِ . حَتَّى صَارَتْ بِلادُ العربِ . وَأقْبَلَ النَّاسُ على الحديثِ الشَّرِيفِ . فَتَشَابَهَتْ غُجْراتُ بِاليمنِ المَيمُونِ . وفَاقَتْ سَائِرَ بِلادِ الهِندِ في ذلك.

وكانَ غَايَةً في العِفَّةِ والحياءِ . حُسْنِ الأخلاقِ عَظِيم الهِمَّةِ . كَرِيمَ السَّجِيَّةِ . شَرِيفَ النَّفْسِ . كَثِيرَ البِرِّ والاِحْسَانِ . أطَالَ المُؤَرِّخُونَ في مَنَاقِبِه وَفَضَائِله.

زياتو حوضونو، څاهانو، باغچو، كښتونو او غوره ميوه لرونكو ونو له كبله د يوه ستر زرغون باغ بڼه خپله كړه.
گجرات هغه لويه تجارتي منډۍ شوه چې له دې ځايه به نورو ښارونو ته قيمتي رختونه وړل كېدل. دا هر څه د دغه ځاى د پاچا محمود شاه په بركت چې د پاچاهي، دولت او ولس چارو ته يې د اصلاح په نظر وكتل او په خپلو هڅو يې ولس سوكاله كړ.
يوه بله غوره ځانگړه يې د علماؤ او صالحينو تربيې ته كار ويل و، له علم او علماؤ سره هغه فطرتي مينه درلوده، د هغه په دربار كې خورا زيات عرب علماء را ټول شول، ان د گجرات ښارونه په علماؤ ودان او رغاند وو. له عربي هيوادونو څخه ورته محدثين راغلل، د خلكو د حديثو خواته پاملرنه زياته شوه، نو گجرات د بركتي يمن په څېر شو، په همدې برخه كې د هند تر نورو ښارونو گجرات ډېر زيات وړاندې شو.
نوموړى ډېر پاكلمنى او شرمناك

فِي سَنَةِ ٩١٦هـ تَوَجَّهَ إِلى نَهْرِ والَهْ بَتَنْ ، وَزَارَ أَئِمَّةَ الدِّينِ بِهَا أَحْيَاءً وأمْواتاً ، وَعَقَدَ مَجْلِساً خاصّاً لِمُذَاكَرَةِ التَّفْسِيرِ والحديثِ ، وأَكْثَرَ مِنَ الجَوائِزِ ، وأَعْمَالِ البِرِّ والوَظَائِفِ ، والتَمَسَ الدُّعاءَ ، وكانَ أَنْشَأَ مَضْجَعَهُ في جَوارِ قَبْرِ مولانا الشَّيخِ أَحْمَدَ في سَرْكَهيج ، يَتَعَهَّدُهُ أَحْياناً ، وقَبْلَ وفاته بِأيّام فَتَحَ القَبْرَ وجلسَ عِندهُ وقال: اللهمَّ إِنَّ هذا أَوَّلُ مَنازِلِ الآخِرَةِ فَسَهِّلْهُ واجْعَلْهُ مِنْ رِياضِ الجنَّةِ ، ثمَّ مَلأَهُ فِضَّةً وتَصَدَّقَ بِها.

وكانتْ وَفَاتُهُ عَصْرَ يومِ الاثْنَيْنِ ثَانِيَ شهرِ رمضانَ سنةَ ٩١٧ع ولَهُ تِسعٌ وَسِتُّونَ سَنَةً ومُدَّةُ سَلْطَنَتِهِ خَمسٌ وَخَمْسُونَ سَنَةً.

کس و. د ښو اخلاقو خاوند، لوی همت لرونکی، ډېر زيات سخي، پاک نفسه او خورا زيات نيکو کاره و احسان کوونکی و. مورخانو د هغه ډېرې زياتې ستاينې او فضايل ذکر کړي دي.

د ۹۱۶هـ مهال د واله بتن نهر ته ئ ليدو له پاره ولاړ، همالته يې د ژوندو او مړو علماؤ زيارت هم وکړ. د تفسير او حديثو د مذاکرې له پاره يې ځانګړی مجلس جوړ کړ. ډېرې جايزې به يې ور کولې، نيک کارونه به يې کول، وظيفې يې اخيستې او له بزرګانو څخه به يې دعاوې تولولې، هغه خپل قبر د مولانا شيخ احمد له قبر سره څنګه ته په سرکهيج کې جوړ کړی و. چې کله ناکله به يې ور څخه ليدنه کوله. تر مړينې څو ورځې وړاندې يې قبر خلاص کړ، ورسره کېناستی، ويل يې: اې الله! د اخرت له پړاونو دغه لومړی پړاو دی، اسانه يې کړه او د جنت يوه باغچه ور څخه جوړه کړه. بيا يې له سرو زرو ډک کړ او هغه يې ټول خيرات کړل.

	نوموړی د ۹۱۷هـ د روژې پر ۲مه د دوشنبې مازیګر وفات شو، دغه وخت یې عمر ۶۹ کاله او د پاچاهي موده یې هم ۵۵ کلونو ته رسېده.

(الإعلام بمن في تاريخ الهند من الأعلام)

للعلامة عبد الحي الحسني

د الفاظو تشریح:

آهِلة: په هستوګنو اباد.

بنّاء: بناؤون یې جمع ده: بنایان، هغه څوک چې همدا بنایي یې پیشه وي.

بُستان: جمع یې بساتین ده: د خورما یا نورو مېوه داره ونو بڼ.

حدیقة: حدائق یې جمع ده: باغ، بڼ.

زاوِیة: زاویات او زَوایا یې جمعې دي: د صوفیانو خانقاه، د ودانۍ یوه ګوښه، د کور یوه خوا.

نوي لغات:

حدیقة أطفال: د ماشومانو پالنې او تعلیم ښوونځی، وړکتون، کودکستان.

حدیقة الحیوان: باغ وحش، هغه ځای چې د ننداري له پاره یې ډول ډول حیوانات ساتلي وي.

حدیقة عامّة: پارک، هغه ځای چې وابنه او چمن ولري، خلک ورته د تفریح و میلې له پاره ورځي.

حَجَر الزّاوِیة: د کار هغه اساسي شی، د موضوع مهم اړخ.

(٣٨)

الْبَاخِرَةُ

بېړی

(١)

كَانَ النَّاسُ فِي قَدِيمِ الزَّمَانِ يُسافِرونَ مِنْ مَكَانٍ اِلى مَكَانٍ عَلى الابِلِ والبِغَالِ ، وَعَجَلَاتِ الْخَيْلِ وَعَجَلَاتِ الثِّيرَانِ ، فتَرَاها غَادِيَةً رائِحةً على الطُّرُقَاتِ والشَّوَارِعِ تَحْمِلُ الرُّكَّابَ والبَضَائعَ.	پخوا وختونو کې به خلکو له یوه ځایه بل ته پر اوښانو او کچرو سفرونه کول. همدا راز بې په د اس او غوایانو په بګیو کې سفر کاوه. نو لیدلې به دې چې د تلو راتلو مهال به یې پر لویو لارو او سړکانو سپرلی را اخیستې وې یا سامانونه.
وكَانَ النَّاسُ يَخَافُونَ السَّفَرَ في البِحارِ وَيَتَحامَونَهُ ، ولكنْ اَلْجَأَتْهُمُ الضَّرُورَةُ اِلى السَّفَرِ فِيها لأنَّه يَحْمِلُ الأَثْقالَ العظِيمَةَ ولا يُكَلِّفُ نَفَقَةً . فوَصَلُوا الأَنْهارَ والْبُحَيراتِ بالتُّرَعِ ، وَصَارُوا يُسَافِرُونَ فِيها اِلَى السُّفُنِ الشِّرَاعِيَّةِ ، وَيَنْقُلُونَ بَضَائعَهُمُ التِّجارِيَّةَ مِنْ مَكانٍ اِلى مَكانٍ بَعيدٍ.	خلک به سمندرونو کې له سفر څخه دارېدل. له دې وجې به یې ور څخه ډډه کوله. اما اړتیا سمندري سفر ته ور تېل وهل. ځکه دلته به دوی له ډېر لګښت پرته درانه بارونه وړل. نو دوی نهرونو او بحیرو ته په چتکۍ ورسېدل. دوی په سمندرونو کې پر بادبان لرونکو کښتیو سفرونه کول. له همدې لارې یې د تجارت مالونه له یوه ځایه بل لرې ځای ته نقلول.
وكَانَتْ هذه السُّفُنُ الشِّرَاعِيَّةُ تَسِيرُ ثَلَاثَةَ أَمْيالٍ في سَاعةٍ	دغو بادبان لرونکو کښتیو به په ساعت کې درې میله مزل کاوه. دغه کښتی د باد په وسیله حرکت کاوه. که به باد

واحِدَةٍ ، وكانَتْ هٰذِهِ السُّفُنُ تحتَ حُكْمِ الرِّيَاحِ ، فَإِنْ وافَقَتْ وَصَلَتِ السَّفِينَةُ في وَقْتٍ قَرِيبٍ ، وإنْ عارَضَتْ وَقَفَتْ أَسَابِيعَ وَشُهُوراً ، وإنْ عَانَدَتْ صَدَمَتْها بِصَخْرَةٍ فَكَسَّرَتْها ، أَوْ قَلَبَتْها ، وَهَلَكَ الرُّكَّابُ وَغَرِقَتِ البَضَائِعُ ، وكانَ هذا يَقَعُ كَثِيراً حَتّى ذَهَبَ مَثَلاً ، وقَالَ الشَّاعِرُ:

مَا كُلُّ مَا يَتَمَنَّى الْمَرْءُ يُدْرِكُهُ
تَجْرِي الرِّيَاحُ بِمَا لا تَشْتَهِي السُّفُنُ

وكانَ السَّفَرُ خَطِراً لا يَدْرِي الانسانُ أَيَصِلُ إلى المَنْزِلِ أَمْ يَمُوتُ في الطَّرِيقِ ، فَكانَ الوَاحِدُ إذا أرادَ أنْ يُسَافِرَ في سَفِينَةٍ شِرَاعِيَّةٍ أَوْصَى أَقَارِبَهُ وَأَصْدِقَاءَهُ بِدُيُونِهِ وَبِمَا عَلَيْهِ ، وكانَ الانسانُ لا يَقْدِرُ أنْ يَقُولَ: إنّه يَصِلُ في شَهْرٍ أو عامٍ ، فَإنّه يُسَافِرُ في ظُلُماتِ البَحرِ ، وكان

ورسره موافق لوري ته و، نو کښتي به په لنډ وخت کې رسېده او که به مخالف باد و، بیا نو کښتی اونۍ او میاشتې انتظار کاوه، که به ور سره ټکر واقع شو، بس کښتي به يې له یوې لویې تیږې سره وهله، چې ماته به شوه، یا به يې پر بل مخ واړوله چې سپرلي او سامانونه به يې ټول غرق کړل، دا ډول پېښې به زیاتې کېدلې، بالاخره متل ور پورې جوړ شو، شاعر ویلي دي:

انسان چې د کوم څه هیله لري، هغه گرده نه شي تر لاسه کولای، باد له هغه لوري را الوزي چې کښتي يې نه غواړي.

دغه مهال سفر ډېر خطر درلود، انسان به نه پوهېدی چې هدف ته به ورسېږي که به پر لار ومري؟ که به یو چا غوښتل چې بادبان لرونکې کښتی کې سفر وکړي، نو خپلو قریبانو او ملگرو ته به یې د خپلو پورونو او ور باندې قرضونو وصیت کاوه او انسان نه شوای کولای چې ووایي: دی به په یوه میاشت یا یوه کال کې ورسېږي؛ ځکه هغه به د سمندر په تاریکیو کې سفر کاوه، لکه هغه چینجي چې پر لرگي سپور

دُوْداً على عُودٍ . لا يَدْرِي أَيَمُوتُ في الطَّرِيقِ أَمْ يَصِلُ سَالماً وَيَعُودُ.

وكانَ الناسُ رَغْمَ ذلك كُلِّهِ يُخَاطِرون بِأَنْفُسِهم وأَمْوالِهم ، وكان المسلمون يُسافرون لِلْحَجِّ مِنْ كُلِّ بِلادٍ ، ولا يَمْنَعُهم خَطَرٌ أَو خَوْفٌ من السَّفَرِ الى بَيْتِ اللهِ ، وَأَدَاءِ فريضةِ الحجِّ ، فكان المسلمون من الهند ، والصِّين، وجَزَائرِ بَحْرِ الهند ، وكذلك مِن مَراكِش وبِلادِ الأندلِس يُسافِرون كُلَّ عامٍ لِلحَجِّ ، وقد يَسْتَغرِقُ سَفَرُهم عَاماً كاملاً أو أكْثَرَ.

وكان الجَوَّابُونَ يَسِيحُونَ في الأرضِ ، وَيَرْكَبُون البَحْرَ مِنَ المَغْرِبِ الأَقْصى الى المشرِق الأقْصى . وكان العالَمُ الاسلاميُّ كَبَيْتٍ واحدٍ ، والمسلمُون كَأُسْرَةٍ واحدةٍ . يَنَالُ الجَوَّابُ

وي، دی به نه پوهېدی چې لار کې به ومري او که به روغ رمټ را ستون شي.

پر دې هر څه سربېره به خلکو خپل ځانونه او مالونه خطر ته اچول. مسلمانانو له د نړۍ له هرې گوښې د حج له پاره سفر کاوه. الهي بيتې او د حج فريضې ادايني ته له سفر څخه هيڅ خطر او ډار منعه نه کړل. نو د هند، چين او هندي سمندر له جزيرو، همدغه ډول له مراکش او د اندلس له ښارونو څخه به هر کال مسافر حج ته راتلل. کله به کې هم کېدل چې سفر به يې بشپړ کال يا تر کال هم زياته موده ونيوه.

سياحان (توريستان) به په ځمکه کې د سياحت له پاره گرځېدل، دوی به د مغرب له هغه لرې گوښې څخه پر سمندري کښتۍ د مشرق يوې ډېرې لرې گوښې سفرونه کول، توله اسلامي نړۍ د يوه کور په شان وه او مسلمانان د يوې کورنۍ په څېر. سياح به د سفر مهال تول هغه شيان تر لاسه کول چې په خپل وطن کې به يې لاس رسی ورته در لود.

د هر ځای خلک يې د خپل اهل په شان بلل او گاونديان يې د گاونديانو په څېر.

في السَّـفَرِ كُـلُّ مـا يَجِـدُهُ في الوطن. أَهْلاً بِأهْلٍ وَجِيراناً بِجِيران. وقد سَافر ابنُ بَطُوطَةَ المَغْـرِبِيُّ ، وابنُ جُبَيْرٍ الأندلسِيُّ ، وسُليمانُ التَّـاجِرُ ، الِـى مُعْظَـمِ المعمُـورة بِهذِه السُّفُن.	ابن بطوطه المغربي، ابن جُبَيْرْ الاندلسي-او سليمان التاجر په همدې کښتيو د نړۍ ګنو سيمو ته سفرونه وکړل.

د الفاظو تشريح:

غاديةٌ ورائحةٌ: تلونکې او راتلونکې.

عَجَلاَتِ الخيل: اس بګۍ.

بِالتَّرِعِ: ډکېدل، تلوار کول.

السُّفُن الشراعية: هغه کښتۍ چې بادبان ولري. شِراع: بادبان، أشرعة او شُرُع يې جمعې دي. بادبان به د کښتۍ پر لوی پراشوټ وزمه کلک تـوکر دی چې پر کښتۍ به لوړ ولاړ و، باد به واهی او کښتۍ به يې تېله کوله.

يَتَحَامونهُ: د تفاعل له بابه مضارع معلومه ده: ځان ور څخه ساتل، ګوښې کېدل.

عَانَدَتْ: د مفاعلې له بابه ماضي معلومه مونث ده: تکړ.

يُخاطِرون: د مفاعلې له بابه مضارع معلومه ده: خطر ته ځان ور کول.

الجوّاب: سيّاح، توريست. جَوابون يې جمع ده.

نوي لغات:

في غَدَواته ورَوْحاته: په تلو او راتلو کې يې.

ترع الاِناء: لوښی ډک شو.

ترع الى اِنقاذ الغريق: د ډوبېدونکي ژغورلو ته په تلوار وړاندې شو.

(٣٩)

الباخِرَةُ

بيړۍ

(٢)

مَضَى على ذلك قُرونٌ ، ثُمَّ بَدَأَ النـاسُ يُفَكِّـرونَ ، ويَخْتَرِعُـون حتّى تَوَصَّلُوا الى سفِينةٍ تَسِيرُ بالبُخارِ ، وكان ذلك بِالتدريجِ ، وفي عِدَّةِ قُرون.	په دغه ډول پېړۍ تېرې شوې، بيا خلكو د نورو شيانو په اړه فكرونه كول، ابتكارات يې وكړل، څو دسې بېړيو ته ورسېدل چې په بخار چلېدلې، دا هر څه په تدريج او وور وررو د څو پېړيو تر تېرېدو وروسته وشول.
كانتِ السُّفُنُ الشراعِيَّةُ تسيرُ بِالمَجاديفِ ، وتَقَدَّمَ بَعْضُ الأذكياءِ فَرَكَّبَ في سَفِينةٍ عَجَلَةً رَبَطَ بِها المجاديف ، فإذا دارت العجلةُ بَدَأَتِ المجاديفُ تَعْمَلُ وَتَمْخُرُ الماءَ.	باداباني كښتۍ به په پاروگانو هم مزل كاوه، يو شمېر هوښيارو كسانو په كښتۍ كې ويلان وتړل، له هغو ويلانو سره يې پارگانو پيوست كړل، كله چې به ويل څرخ وخوړ، نو پارگانو به هم په اوښتلو پيل وكړ او اوبه به يې سره اړولې.
ثُمَّ اهْتدى بَعْضُ الأذكياءِ الى ادارةِ العَجَلَةِ بِالبُخارِ ، والاِسْتِغْناءِ عَنِ اليَدِ العامِلَةِ ، ولم تَـزَلِ الصِّناعَةُ تَرْتَقِي ، حتّى ظَهَرَتْ	بيا د يو شمېر نورو نابغه گانو دې ته ور پام شول چې دغه ويل بايد په بخار وگرځي، څو د يوه كاريگر

أوّلُ سَفينةٍ بُخاريةٍ ، صَنَعَها رَجُلٌ أمريكيٌّ اسْمُهُ «هلْتنْ كِلَرْ مَاوِنْت» ، قَطَعَتْ مِئَةَ مِيلٍ في أرْبَعٍ وَعِشْرِينَ سَاعَةً.

ولم تَزَلِ السُّفُنُ البُخاريَّةُ تَتَقَدَّمُ في السُّرْعةِ والقُوةِ ، حتّى أَصْبَحَتْ تَعْبُرُ البَحْرَ الأطْلانْتِيكيَّ بينَ اِنْكِلتَرَةَ وأمريكةَ في خمسةِ أيّامٍ ، وكان السَّفرُ في هذا البحر يأخُذُ شهرَيْنِ.

والباخرةُ كالقاطرةِ تسيرُ بِقُوةِ البُخارِ ، فَإنّه يُديرُ العَجَلَةَ ، والعجلةُ مُتصلَةٌ بِآلاتٍ تَتَحَرَّكُ الباخِرةُ بِدَوَرانِها وتَسِيرُ.

وكذلك هُنَالكَ آلاتٌ تُوَجِّهُ الباخِرةَ مِنْ جِهَةٍ إلى جِهَةٍ ، وَتُسَخِّرُها لِلرُّبّانِ يَسيرُ بِها كَيْفَ يَشاءُ.

وقد تَقَدَّمَتِ التِّجارةُ تَقَدُّماً عظيماً

لاس ته ارتيا پيدا نه شي، بيا صنعت ورغ تـر بلـې پرمختـګ كـاوه، چـي بالاخره په بخار تلونكې بيړى ته خبره ودرېده، دا يوه امريكايي كس جوړه كړه چي نوم يې «هلتن كلر ماونټ» و، دې بېړى په څلورويشت ساعته كې سل ميله واټن وواهه.

تر دې وروسته نو په بخار چلېدونكې بيړيو چټک پرمختګ وكړ، هم يې سرعت ډېر شو او هم قووت، حتا كې وشول چي اطلانتيک سمندر له بريتانيا تر امريكې په پنځه ورځو كې طى كوي، په كې حال كې چي دغه سمندري سفر به په دوو مياشتو كې كېدى.

بيړى هم د اورګاډي د انجن په شان د بخـار پـه زور تلـه، بخـار ويـل ګرځوي، ويـل بيا لـه كې الاتـو سره پيوست دى چي د هغو په حركت سره بيړى حركـت كـوي او سـمندر كې ګرندى ځغلي.

همدا شان بيړى كې الات لري چي د

. وأَصْبَحَ النَّاسُ يُسَافِرون في البَحْرِ على مَتْنِ البَاخِرَةِ كَأَنَّهم يُسافِرون في البَرِّ على القِطارِ . أو مُطْمَئِنُّونَ في البلد وجالِسون في الدار.	هغو په توسط له يوه لوري بل ته مخ اړوي، د کپتان په واک کې يې ور کوي چې هغه يې چېرې غواړي، همالته يې بيولای شي.
وكَبُرَتِ المراكِبُ وتوسَّعَتْ ، حَتَّى كأنَّها حارَةٌ مِنْ حاراتِ البلدِ ، أو قَرْيَةٌ صَغيرةٌ ، فيها المَطْعَمُ والمَلْعَبُ ومُتَنَزَّهاتٌ وتَحْمِلُ مِنَ الرُّكّابِ مِنَ خَمْسِمِئَةٍ إلى أَلْفٍ.	په دې سره تجارت ډېر ګړندی پرمختګ وکړ، نن سبا خلک په سمندر کې د همدې بېړی په مټ کې سفر کوي لکه پر وچه چې په اورګاډي کې سفر کوي، يا هم ښار و کور کې دادمن ناست وي.
	بېړی پسې غټېدې او پراخېدلې، حتا کې شوې لکه د ښار يوه محله يا يو وړوکی کلی، په دې کې رستورانټ، لوبغالی او تفريحونه ځايونه وو، ور سره جوخت به يې له پنځه سوه تر زرو پورې سپاره هم را اخيستي وو.
وَإِذا رَأى الإنسانُ السُّفُنَ الشِّراعِيَّةَ والمراكِبَ البُخارِيَّةَ تَجْرِي في البحرِ رُخَاءً تَعَجَّبَ ، ورأى تَصْديقَ قولِه تعالى: (وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ وَسَخَّرَ لَكُمُ الأَنْهار).	او کله چې انسان دغه بادباني کښتۍ او بخاري بېړی ويني په سمندر کې ارامې روانې وي، نو تعجب به وکړي او عيني د دې الهي قول مصداق به يې وګني: تاسو ته مو کښتۍ ايلې کړې دي چې د ده په امر سمندر کې مزل کوي او هم مو درته نهرونه مسخر کړي دي.

د الفاظو تشريح:

مَجاديف: د مِجْداف جمع ده: لرگی دی چي سر کي يې پلنه لوحه وي، ورې کښتي ور باندې تگ کوي، پاروگان.

تمْخُرُ: د «ن» له بابه مضارع مونث ده: روانگي، په اوبو کي مزل چي اوبه څيرې کړي.

على متن الباخرة: د بيړۍ پر مخ.

رُخاء: ارام، له خوځيدا او ښوريدا پرته.

حارة: کلي، محله، اپارتمان، حارات يې جمع ده.

نوي لغات:

يسكن في الحارَة المجاورة: په څنگلوري کلي کي اوسي.

بوارِح: د دوبي گرم بادونه.

البارِحة: تيره شپه، برايي، تېر شواروز. سافر البارِحة الى بلدته: تيره شپه خپل ښار ته ولاړ. ما أشبه الليلَة بالبارحة: دا شپه له تيري شپې سره څومره ډېر ورته والی لري. (متل) کله چي چارې په يوه ډول مخته ځي، نو دا متل ورته کيږي.

(٤٠)

جِسمُ الطُّيُورِ

د مرغانو جسم

إنّ اللهَ وَهَبَ لِكُلِّ حَيَوَانٍ صَغِيرٍ و كبيرٍ جِسماً لائقاً ، وأعْضَاءً يَسْتَعِينُ بها على قَضَاءِ حَوَائِجِه ، وتَحْصِيلِ قُوتِه ، وَسِلاحاً يُدَافِعُ به عن نفسِه ، فَهُوَ الذي أعْطَى كُلَّ شيءٍ خَلقَهُ ثُمّ هَدَى.	الله تعالى هر مرغه ته وړوکی وي، که ستر، مناسب بدن ور کړی دی، کې اندامونه يې ور کړي چې هغه خپلې اړتياوې په پوره او خپله غذا په تر لاسه کړي، له خپله ځانه د دفاع اسلحه يې ور کړې، نو دی هماغه ذات دی چې هر شی يې پيدا کړی او بيا يې ورته لار ښودلې ده.
أُنظُروا الى الفيل كَيفَ مَدَّ اللهُ في أنفِهِ لِيَسْتخدِمَه في حوائجه ، ويتناولَ بـه الطَّعـامَ والمـاءَ ، وَيُوَجِّهَهُ حَيْثُ شَاءَ ، وفي طَرَفِه زَائِدَةٌ يَلْتَقَطُ بها الأشياءَ الدَّقِيقَةَ ، وقد قَرَأْتم أنّ الجَمَلَ رَقَبَتُهُ طَوِيْلَةٌ ، لِأنّهُ كَبيرُ الجسم ، طَوِيلُ الأرجُلِ ، فلو كانت رقبتهُ قَصِيرةً .لم يمّكنه أنْ يَرْعى الكَلأَ مِنَ	فيل ته وګورئ، څنګه يې الله تعالى پزه اوږده کړې ده څو يې د خپلو اړتياؤ په تکميل کې استعمال کړي، په همدې سره خوراک او څښاک ور اخلي، هر ځای ته چې يې وغواړي، هماغه لوري ته يې ور ګرځوي، سر يې چاودلی دی، چې واړه شيان په ور اخلي. تاسو لوستي دي چې د اوښ غاړه اوږده ده، ځکه بدن يې لوی

الأرضِ حتّى يَبْرُكَ . وفي ذلك تَعَبٌ عَظِيمٌ ، وَشُغْلٌ كَثِيرٌ ، فَمَدَّ اللهُ في عُنُقِه ، وَرَأْسُهُ صَغيرٌ ، فكان خَفِيفَ الحَمْلِ على رقبته ، ولمّا قدّر اللهُ أنْ يكونَ الجَمَلُ سَفِينَةَ الصَّحراءِ جعل أرْجُلَها مُناسِبَةً لِذلك ، فلا تَسُوخُ في الرِّمالِ ، وخلق في جَوفِه كُرُوشاً وأَزْقَاقاً يُخزَنُ فيها الغذاءَ والماءَ ، لِأنّ السَّفرَ في الصَّحْراءِ يَحْتَاجُ اِلى ذلك كثيراً.

أُنظروا الى القَنْغر والأرنب ، تروا رِجْلَيهما الخَلْفِيَّتَين طَوِيلَتَين وكبيرتين ، وَرِجْلَيهما الأمامِيَّتَينِ صَغيرتَين وقَصِيرتَينِ ، لِيُمْكِنَهما الجَرْيُ قَفْزاً ، وفي قَدَمَي الرِّجْلَين الخلفيتين للقنغر ظِلْفٌ حادٌ جِداً ، هُوَ سِلاحُه يَبْقَرُ به بَطْنَ عَدُوِّه بِطَعْنَةٍ واحدةٍ.

دی، پښې يې اوږدې دي، نو که غاړه يې لنډی وای، هغه به نه شوای کولای چې له ناستې پرته د ځمکې وابنه وخوري، دا به د هغه له پاره ډېره لويه ستونزه او هميشنی شغل وای، نو الله تعالی يې غاړه اوږده کړه او سر يې يا کوچنی دی، هغه سپک دی، نو غاړه يې په اوچتولو کې ستونزه نه لري. دا چې الله تعالی غوښتل اوښ د بيديا کښتی کړي، نو د هغه پښې يې د همدې له پاره مناسبې کړې، د هغه پښې په ريګو نه ننوزي، په نس کې يې ميدې او مشکونه ور پيدا کړل چې غذا او اوبه ور کې ذخيره کړي؛ ځکه د بيديا سفر همدې توښې ته اړتيا لري.

تاسو کانګورو او سوی/سويګې ته وګورئ، تاسو به يې د شا دوې پښې اوږدې او لويې وويني، د مخ دوې پښې به يې کمې او لنډې وګورئ، څو ورته په ټوپ ټګ اسانه شي، د کانګورو په شاتنيو دوو پښو کې تېره نوکان دي چې دا يې وسله ده او په يوه وار کولو د

كـذلک الطُّيـورُ ، فَفِـي جسـمها وخِلقتِها آياتٌ لله ، فقد كَسا اللهُ جِسْـمَها بِـالرِّيشِ ، لِأَنَّـه أَخَـفُّ لِلطَّـيرانِ ، وجعـل عِظَـامَ الطَّـائِرِ رَقِيقـةً جَوْفـاءَ ، فَـلا يَعُوقـهُ ثِقْـلُ رِيشٍ ، أو جِسْمٍ عن الطَّيران.

ثُمَّ وهب أنواعَ الطُّيورِ أنواعاً مِـنَ المنـاقيرِ ، تَخْتَلِـفُ بِـاِختلافِ طَبِيعَـةِ الطَّـيرِ وغِذائـهِ وعاداتِـه ، وكذلک يَخْتَلِفُ تَرْكِيبُ أَقْدامِه.

أُنظـر الـى العصـافِيرِ والحـمامِ ، والـيمام والغِرْبـان ، ليسـتْ أَجْسامُها عَالِيَةً ، وأَنَّها تَلْقُـطُ حَبّاً صَغِيراً مِنَ الأَرضِ فلـم تَكُـنْ في حاجـةِ الـى طُـولِ الأَعنـاقِ ، مناقِيرُها مُستقيةٌ وقصيرةٌ تُعِنُها في حاجاتِها.

أُنظر الى الطُّيورِ الَّتـي تَعِيشُ في المـاء ، وتَبْحَـثُ عـن قُوتهـا في

دښمن تر نس بوټ خېژي.

همدغه ډول مرغان هم دي، د مرغانو بدن او خلقت دواړه الهي نښې دي، الله تعالى يې بدن په بڼکو پوښلى دى، ځکه بڼکې د الوت مهال سپکې دي، د مرغانو هډونه نرم او منځ يې خالي دى. نو مرغه له الوت څخه نه د هغه د بڼکو وزن او نه يې د بدن دروندوالى منعه کولاى شي.

څينو مرغانو ته بېلابېلې مشوکې ور کول شوې دي، چې د مرغه نوعيت، غذا او عادت ته په کتلو مشوکې هم ګڼ ډولونه لري، همدغه ډول د مرغانو د پښو جوړښت هم يو له بل سره توپير لري.

مرغى، کوترې، زرکې او کارغه ته وګورئ. جسمونه يې لوى نه دي، دوى له ځمکې څخه وړې دانې ټولوي، له دې امله نو اوږدې غاړې ته اړتيا نه لري، مشوکې يې سيده او لنډې دي، چې په خپلو اړتيا کې ورسره مرسته کوي.

هغو مرغانو ته وګوره چې په اوبو کې

الماء كالبط واللَّقْلَق . تر أعناقها ومناقيرَها طَويلةً لأنَّها تُرْسِلُ مناقيرَها في أعماقِ الأنهارِ والبِرَكِ ، وتستخرجُ قُوتها مِنْ أحشائِها فخلق اللهُ لَها أعْناقاً طَوِيلَةً ، ومناقِير مستقِيمةً وطويلَةً كذلك.

أُنظر الى الطَّيورِ التي تقتاتُ بِاللَّحم والفاكهةِ وتأكلها نَهْشاً كالحِداءِ والنُّسورِ والصُّقورِ لا تَجِدُ مناقِيرها مستقِيمةً ، لِأنَّها لا تُغني عنها ، ولا تَقْضِي حَاجتها ، فخلق الله لها مناقيرَ مُتَقَوِّسةً ، فَيُعينُها في نهشِ اللُّحومِ وقَرضِ الفَواكِهِ في العَضِّ عليها.

كذلك اذا نَظَرْنا الى أرجُلِ الطُّيورِ ومخالِبها ، رأيْنَها فَرْقاً بِحَسْبِ أنواعِ الطُّيورِ وَطَبَائِعها وعاداتِها وَغِذائِها فالطُّيورُ التي

ژوند کوي او خپله غذا هم په اولو کې لټوي، لکه: هيلی او ډينگ، ويه وينې چې غاړې او مشوکې يې اوږدې دي؛ ځکه دواړه يې په د ويالو او رودونو ژور تل ته تنباسي، د هغو له تل څخه خپله غذا را کاږي، نو الله تعالى هم وره اوږدې غاړې ور کړې دي، د دوی مشوکې هم مستقيمې او اوږدې دي.

هغو مرغانو ته وگوره چې غوښې او مېوې يې غذا ده، په خپلو مشوکو يې خوري، لکه: باښه، ټپوس او باز، د هغو مشوکې يا مستقيمې نه دي، ځکه دوی ور څخه چاره نه لري او په مستقيمه مشوکه خپله اړتيا نه شي پوره کولای، نو الله تعالى ورته د لينډې په شان کږې مشوکې ور کړې چې يو لوری يې ډېر تېره دی، د مشوکې لوړه برخه يې تر کښتنۍ تېره او ور باندې را کږه ده، نو په مشوکه د غوښو پرې کولو، د مېوې داني اخيستلو او کنبکاړلو کې ورسره مرسته کوي.

دغه ډول که موږ د مرغانو پښو او منگولو ته نظر وکړو، نو د مرغانو

تعيشُ على البرّ . وتلتقط الحبّ ليست أرجلها طويلة، وأنها ترفع رِجلَيها في وقتٍ واحدٍ ، وتمشي وَثْباً . وأمّا الطَّيورُ التي تَعِيشُ في الماء وتصِيدُ السَّمكَ وهوامَّ الماءِ فإنّها تُقَدِّمُ رِجلاً في المشي وتُؤخِّرُ أُخرى كالانسانِ ، وتمشي رُوَيداً ، فإنها اذا وثبتْ وثباتٍ أو قفزتْ أفلتها الصّيد.

كذاك الطّيورُ التي تسبح في الماء ، وتصِيد فلها جِلدٌ رقيق في مخالبها يصل بين أصابِعها ، فتنشرُ مخالبها كالمِظَلّات اذا نشرتْ ، وتساعدُها في السباحة مُساعدةً عاليةً.

والطُّيورُ التي تقتاتُ باللّحمِ لها أرجلٌ قَوِيّةٌ ومخالبُ كبيرةٌ ، وفي أصابِعها أظفارٌ مُتقوّسةٌ حادّةُ الأطرافِ تُساعِدها في

دولونو، طبيعتونو، عاداتو او غذا ته په کتو به د دې ترمنځ هم جوت توپير ووينو. هغه مرغان چې پر وچه ژوند کوي او غلې دانې ټولوي، د هغو پښې اوږدې نه دي، دواړې پښې په يوه وخت کې پورته کوي او په ټوپونو مزل کوي. اما هغه مرغان چې په اوبو کې ژوند کوي، ماهيان يا د اوبو حشرات ښکار کوي، هغه د تلو مهال يوه پښه مخته او بله شاته کړي، لکه انسان، ورو مزل کوي. ځکه دا مرغان که ټوپ ووهي، نو ښکار يې له منګولو وزي.

همداشان هغه مرغان چې په اوبو کې لامبو وهي او ښکار کوي، نو د منګولو پوست يې نرم دی چې تر ګوتو يې رسيږي. خپلې منګولې غوړي، د غوړېدا مهال د سايوان په شان ښکاري او په دې توګه له دوی سره لامبو کې ډېره مرسته کوي.

هغه مرغان چې غوښه يې غذا وي، د هغو پښې ډېرې پياوړې او منګولې يې غټې وي، په ګوتو کې يې کاږه تېره څوکه لرونکي نوکان دي چې د

نَهْشِ اللُّحـومِ . وتقـوم أرجلهـا ومخالبها مقام الأرجلِ والأيـدي . فـاذا مشـت كانـت لهـا أرجـلاً تمشي ــ بهــا . واذا طــارتْ أو أرادتْ أن تأكل كانت لها أيـدياً تبطِشُ بها . وهذا النوعُ من الطَّيرِ قد يُمسِكُ عُوداً أو قِطْعَةَ لحـمٍ . ويطيرُ في الجوِّ ويستقِلُّ به . فـلا يسقُطُ من يده . وكثـيراً مـا رأينـا البازي قد قبض على طائرٍ كبيرٍ بِمخالبـه وطـار بـه الـى عُشّـه . وأكلهُ هُنالك أمِناً مُطمَئِناً.	غوښې په پرېکولو کې ورسره کومک کوي. دوی ته پښې او منګولې يې د لاسونو او پښو کار ور کوي. که مزل پر کوي، نو پښې دي د مزله کار ترې اخلي. کله چې والوزي يا د يوه شي د خوراک اراده وکړي، نو بيا يې لاسونه دي نيول په کوي. د مرغانو دا ډول کله لرګی يا د غوښې يوه ټوټه ور سره نيسي، فضا کې له همدې هر څه سره الوت کوي، د هغه له لاس څخه دا شی نه راځي. خوشي کېږي. موږ ډېر واره باز ليدلی دی چې په خپلو منګولو يې لوی مرغه نيولی وي، تر خپلې خالې يې ور سره يوسي، هماټه يې بنه په ډاډه زړه او ارام سره وخوري.

د الفاظو تشريح:

القَنْغَر: دې حيوان ته کنغر او قنقر هم ويل کېږي، فارسي کې ورته کانګورو وايي او انګليش کې يې (kangaroo) بولي. د مخ دوې پښې يې کمې او د شا هغه يې اوږدې دي، ښځينه يې له نس سره کڅوړه هم لري چې واړه يې په کې ساتي.

أرْنَب: جمع يې أرَانِب او أرانِ دي: واړه حيوانات دي چې د مخې پښې يې لنډې او د شا هغه يې اوږدې دي، لوی خپاره غوږونه لري، لنډه لکۍ، نرم

وښتنان يې پر بدن دي، ډېر لنګېږي او تېز مزل کوي، غوښه يې خوږه کېږي، په بې غيرتيا کې متل ګرځېدلی دی. سوی اسويګی.

فلا تَسُوخُ: د «ن» له بابه مضارع منفي ده: ننوتل، ډوبېدل.

ظِلفٌ: أظلاف يې جمع ده: نوکان.

فلا يعوقه: د «ن» له بابه مضارع منفي ده: منعه کول.

تقتات: د افعال له بابه مضارع ده: غذا کول، د يوه وخت خوراک.

تأكلها نهشا: په خوله يې خوري.

مُتَقَوِّسَة: لکه لينده را کږه، را کږوپه.

يفلت: د افعال د باب مضارع ده: خلاصون، ژغورنه.

البازي: البوازي يې جمع ده: د باز يا شاهين يوه نوعه ده، چې جسم يې کوچنی دی ښکار په کېږي.

نوي لغات:

قَفَز الغَزالُ: هوسۍ توب واهه، خپل بدن يې لوړ وغورځاوه.

قفز الرِّياضي: ورزشکار توب کړل.

قفز من الفرحة: له خوشالۍ يې توپ کړل.

قفز قلبُه في صدره: زړه يې سينه کې په توپو شو، ډېر زيات خوشاله شو.

قفز من موضوع الى موضوع آخر: بې تړاوه له يوې موضوع بلې ته ولاړ.

قفز من الصَّفِ الأوَلِ اِلى الصَّف الثالث: له لومړي ټولګي يې دريم ته جمپ کړل.

تقوَّس الغُصْنُ: ښاخ د لينديې په شان کوږ شو.

تقوّس ظهرُه بعد الكبر: تر بوداتوب وروسته پر ملا کږوپ شو.

(٤١)

شِيرْ شاه الشُورِيْ سُلطَانُ الهِنْدِ

د هند پاچا شير شاه سوري

(١)

كـان شِـيرُ شـاهَ مِـنْ خِيـارِ السلاطِينِ ، عادِلاً بَاذِلاً ، رَحِيماً شُجاعاً مِقْداماً ، وكان أَبوه مِنْ أوسَاطِ الناسِ ، وكان شيرُ شاهَ يـتَعَلَّمُ في جَـونِ بُـور ، ويقْـرأُ الكتـبَ الدِّرْسِـيَّةَ ، ولم يـزَلْ يَجْتَهِـدُ ويرْتَقِـي حتّـى نـال المُلك.	شير شاه يـو غـوره پاچـا و. عـادل، سخي، مهربان، غيرتي او پر دښمن بـه يـې بريدونـه كـول. پـلار يـې د منځنى طبقـې كـس و. شـير شـاه پـه جونپور كي زده كړې وكړې. درسي كتابونه يې ولوستل. لـه خپلو هڅـو يې لاس نه اخيستى. پرمختگونه يـې جاري ساتلى و. څو چي پاچاهي تـه ورسيد.
وكان وزّع أوقاته في يومٍ وليلةٍ ، شَـطْراً مِنهـا لِلعِبـادةِ و شـطراً لِلعَـدلِ والقَضـاءِ ، وبَعْضَـها لِاصلاحِ العسكرِ ، فكـان يَنْتَبِـهُ مِـنَ في ثُلُـثِ اللّيـلِ الآخـرِ ، ويغْتَسِـلُ ويتَجَهّـدُ ويشْـتَغِلُ	هغه د خپلې ورځي او شـپې لـه پـاره مهالويش ايښـى و. يـوه برخـه يـې د عبادت وه. يوه برخـه يـې د عـدل او قضا وه. بله برخه يې د پوځ د سمون له پـاره بيلـه كـړې وه. نومـوړى بـه د شپې په وروستي دريمه برخه كي را پورته كېدى. غسل بې كاوه. تهجد به يې وكړ. بيا به يـې څلور سـاعتونه

بِالأورادِ الى أربع ساعاتٍ ، ثمّ
ينظــر في حِســاباتِ الادارات
المُختلفَة ، ويُرشِدُ الأُمراءَ فيما
يُهمُّهُمْ مِنَ الأمور في ذلك
اليومِ ، ويهدِيهم الى برنامِج
العملِ لِئَلاّ يُشوِّشُوا أوقاتَهُ بعدَ
ذلك بِالأسْئِله ، ثمّ يقومُ
ويتوضّأُ لِصلاةِ الفجر ويُصلّيها
بالجماعةِ و ثمّ يقرأُ المُسَبّعاتِ
العشر وغيرَها مِن الأورادِ ، ثم
يحضُرُ لَدَيه الأُمراءُ فيُسلّمون
عليه ، ثمّ يقوم ويُصلّي صَلاةَ
الاِشراقِ ، ثمّ يَسْأَلُ الناسَ عنْ
حـوائِجِهم ويُعطِيهم ما
يحتاجونَ اِليه مِنْ خَيلٍ ،
وَأوْقاتٍ ، ثمّ يَتوجّهُ الى
المَظْلُومِين والمُستَغِيثِينَ ،
ويَجْتَهِدُ في اِغاثَتِهم.

ذكرونه او اوراد ويل. ورروسته به د
بېلابېلو ادارو په حسابونو بوخت شو.
د دغې ورځې له پاره چې كومې
چارې مهمې وې هغه به يې اميرانو
ته په ګوته ک[illegible] دوی ته به يې
عملي لارې چارې وښودې څو يې
بيا يې په بې ځايه پوښتنو توجو ور
خرابه نه كړي. بيا يې اودس كاوه. د
سهار لمانځه ته به تلی. لمونځ به يې
په جماعت وكړ. نو به يې د مسبعات
عشر وظيفه او نور اوراد وويل. بيا به
ورته اميران راغلل. سلام به يې ورته
وكړ. تر دې وروسته به د څاښت
لمانځه ته ولاړ شو. بيا به يې له
خلكو د دوی د اړتياو پوښتنه كوله.
د اړتيا وړ توكي به يې ور كول. لكه:
اسان، څمكې، مالونه او كې نور. څو
يې له د[illegible] څخه بل وخت غوښتنه ونه
شي. بيا مظلومانو او كومك
غوښتونكو ته ورتلی. هڅه يې كوله
چې د هغوی مرسته وكړي.
د اشراق تر لمانځه وروسته يې پر

وَمِنْ عوائِدِه بعدَ الإِشْرَاقِ أَنَّه أَلْزَمَ نَفْسَه أنْ يُعْرَضَ عليه العَسَاكِرُ فَيَنظُرُ إلِيهم وإِلى أَسلِحَتِهم، ثُمَّ يُعرضُ عليه مَنْ يُرِيدُ أنْ يَثْبُتَ في العسكريّة، فيتكلّمُ معهُ ويختبرُه، ثم يَأْمُرُ أن يُثْبَتَ اسْمُهُ في العسكرِيّةِ، ثمّ يُعرَضُ عليه الجِبايَاتُ الَّتي تُورَدُ عليه مِنْ بِلادِه كُلَّ يومٍ، ثُمّ يَتَمَثَّلُ بَينَ يَدَيهِ الأُمَرَاءُ والمَرَازِبَةُ، وسُفَراءُ الدُّوَلِ والوُكَلاءُ، فَيَتَحَدَّثُ مَعَهم، ثم تُعرَضُ عليه عَرائِضُ الأُمراءِ والعُمّالِ، فيسمعُها ويُملِي جوابَها، ثمّ يقومُ ويُقبِلُ الى الطّعامِ، وعلى مائِدَتِه جماعةٌ مِن العلماءِ والمشائخِ، ثم يشْتَغِلُ نحوَ ساعتَين بِأُمورِ

خان دا ښېگڼه لازمه کړې وه چې سپاهيان ورته وړاندې شي، چې دی يې وګوري، وسلې يې تر نظر تېرې کړي، بيا به يې له هغو کسانو سره ليدل چې پوخ کې برتی کېدل. له هغه سره به يې خبرې کول، ازموينه به يې ور څخه اخيسته، بيا به يې وروسته امر وکړ چې پوخ کې د هغه نوم وليکل شي. وروسته به د هرې ورځې هغه خراج او ماليه ورته راوړل کېده چې د هغه تر لاس لاندې ښارونو څخه ورته راتله. له دې څخه وروسته به يې اميرانو، پوځي مشرانو، د هيوادونو استازو او وکيلانو ته وخت ور کاوه. له دوی سره به يې خبرې کولې. بيا د اميرانو او چارواکو عرائض ورته وړاندې کېدل، ده به اورېدل او ځوابونه به يې ورته ليکل. بيا به ډوډۍ ته تلی، پر سترخوان به يې د علماء او مشايخو يوه ډله هم حاضره وه، وروسته به دوه ساعته پوري په

خُصُوصِيةٍ ، ويَقِيْلُ الى وقتِ الظُّهْرِ ، ثمَّ يقُومُ ويُصَلِّي بِجماعةٍ ، ويشتغل بِتلاوةِ القُرآنِ الحكِيم ، ثمَّ بِمُهمّاتِ الأُمور لِلدّولةِ ، وكان لا يَترُكُ شيئاً من ذلك في ظَعْنٍ ولا إِقامةٍ ، وكان يقول: الرَّجُلُ الكبيرُ مَنْ يَصْرِفُ أَوقاتَهُ في الأمورِ المُهِمَّةِ.

وكان يتوجّه الى المُهِمّاتِ الأُمور بِنفسه ، ويقولُ: لا ينبغي لِصاحبِ الأَمرِ أن يستصغرَ ما يُهِمّه من الأُمورِ نظراً الى عُلُوِّ مرتبتِهِ ، فيُلقِيها على من حَولَه مِنْ رِجالِه ، لأَنّهم لا يجتهِدُون فيها ، ورُبَّما يتغافَلون عنها طَمَعاً وارتِشاءً.

وكان يُعاقِبُ البُغاةَ وقُطّاعَ السُّبُلِ والظَّلَمَةَ أَشَدَّ عُقُوبَةٍ ، ويُعَزِّرُهم

خاصو چارو بوخت شو. د ماپښين تر لمانځه به يې قيلوله وکړه. بيا به پاځېد. په جماعت به يې لمونځ وکړ. وروسته به د قران کريم په تلاوت اخته شو. بيا به د دولت په مهمو چارو مشغول شو. نوموړي خپل دغه مهالوېش نه په سفر کې پرېښود او نه يې حضر ـ کې. ده به ويل: لوی سړی هغه دی چې خپل وختونه په مهمو چارو کې ولګوي.

ارزښتمنو چارو ته به يې خپله پاملرنه کوله او په خپله به يې له چارو څخه ليدنه کوله. ويل به يې: واکدار ته دا نه ښايي چې خپلې اوچتې مرتبې ته په کتو مهمې چارې وړې وګڼي (په خپله يې صرف نظر کړي) او خپلو ورسره کسانو ته يې ور له غاړې کړي؛ ځکه دوی سم کوښښ نه ورسره کوي. ښايي د تمې يا رشوت په خاطر ور څخه غافل شي.

نوموړي به باغيانو. لار وهونکو او ظالمانو ته سختې سزاوې ور کولې.

أَشَدَّ تعزيرٍ ،وكان لا تأخُذُه بِهم رأْفَةٌ وإن كانوا مِنْ أَصْهارِه وأقْرِبائه.	دېر سخت تعزير به يې ور كاوه. هيڅ زړ سوی يې ور باندې نه كاوه. كه څه هم له خپلوانو او خېښانو څخه به يې وو.

د الفاظو تشريح:

باذِلا: سخي.

مِقدام: مقاديم يې جمع ده: پر دښمن ډېر اقدام كوونكى. جګړه كي زړور.

المُسَبّعات العَشرَ: دا يوه وظيفه ده چي د قران كريم وروستي سورتونه. ځينې دعاوې او اذكار په كي را ټول دي.

عَوائِده: د عائِد جمع ده: ښېګڼه. صله رحمي.

الجِبَايات: د جِبايَة جمع ده: خراج. ماليه.

مَرازِبة: د مرزُبان جمع ده: رئيس. پوځي مشر. غيرتي سپاهي.

ظَعن: سفر.

أصهار: د صِهر جمع ده: د ميرمنې له خوا خپلوان. خېښان. دوستان.

اِرْتشاه: رشوت. ناحقه مال اخيستل. د ناوړه فيصلې يا حق پټونې. يا باطل حق ثابتولو په خاطر مال اخيستل.

قطّاع السبل: لار وهوونكي. لار شكوونكي.

نوي لغات:

ارتشى الموظفُ: كارمند رشوت واخيست.

ارتشى مالاً من فلان: له پلاني يې مال په رشوت كي واخيست.

(٤٢)

شيرُ شاه السّوريُّ سُلطَانُ الهِندِ

د هند پاچا شير شاه سوري

(٢)

ومِنْ مَآثِرِه أنّه أسَّسَ شَارِعاً كَبِيراً مِن «سُنَارْ كَاؤُو» أقْصى بِلادِ بَنْكالَهْ . الى ماءِ «نِيلابَ» مِن أرضِ السِّند . مَسافتُها أَلْفٌ وخَمْسُمِئَة كُرُوهٍ . والكُرُوهُ في عُرْفِ أهلِ الهند مِيلانِ . وأسَّسَ في كُلِّ كُرُوهٍ رِباطاً . ورَتَّبَ به طَعَاماً لأهلِ الاسلامِ عَامَّةً ولِلْهَنَادِكِ خَاصَّةً . وأسَّسَ مسجِداً في كُلِّ كُرُوهٍ مِنَ الآجُرِ والجَصِّ . ووظَّفَ المُؤَذِّنَ . والمُقْرِئَ والامامَ في كُلِّ مسجدٍ . وعيَّنَ في كُلِّ رِباطٍ فَرَسَيْنِ لِلبريدِ . فكانَ تُرْفَعُ اِليه أخبارُ نِيلابَ الى أقصَى بِلادِ بَنْكالَهْ كُلَّ يومٍ . وغَرَسَ الأشجارَ المُثْمِرَةَ

د هغه له خيريه چارو څخه يوه دا وه چي د بنگال له وورستي ښاره «سُناره گاون» يې يوه لويه لاره را جوړه کړه بيا د سند د «نِيلاب» تر اوبو. چي مسافت يې يو زرو پنځه سوه کروه کيږي. د هنديانو په اصطلاح کروه دوه ميله ته ويل کيږي. په هره کروه کي يې يوه پوسته جوړه کړه. همالته يې د مسلمانانو له پاره عمومي او د هندوانو له پاره خصوصي د خوراک انتظام وکړ. په هره کروه کي يې يو پوخ مسجد له پخو خښتو او گچو جوړ کړ. جومات ته يې موذن، امام او قاري وټاکل. په هره پوسته کي يې دوه اسونه د پوست (داگ) له پاره وساتل. هغه ته به هره ورځ له نيلابه

بِجانِبَي الشَّارِعِ الكَبيرِ ، فَيَسْتَظِلُّ بِها المُسافِرُ ويأكُلُ مِنها.

وكذلك غَرَسَ الأشجارَ المُثْمِرةَ على الطريقِ مِنْ «آكْرَهْ» إلى «مَنْدُوْ» ، وبينهما مَسافَةُ ثَلاثمِئَةِ كُرُوهٍ ، وَأَسَّسَ الرِّباطاتِ والمساجدَ ، وبلغ الأَمْنُ والأَمانُ في عهده مَبْلَغاً لا يستطيعُ أحَدٌ أنْ يَمُدَّ في الصَّحراءِ الى عَجُوزٍ تَحْمِلُ مَتاعَها.

وكانَ شيرُ شاه يَتأسَّفُ على أنّه نالَ السُّلْطَةَ في كِبَرِ سِنِّه ، ويقولُ: اِنْ ساعدني الزَّمانُ أبعثُ رسالَةً الى عَظيمِ الرّومِ وأسْألُهُ أن يركَبَ بعساكِره الى بِلادِ الفُرْسِ ، ونحنُ نَرْكبُ مِن هاهُنا الِى تلك البِلادِ . فنَدفَعُ بمُساعدةِ مَلِكِ الرُّومِ شَرَّ الأوباشِ الّذين يقطَعُون طريقَ الحُجّاجِ ، ونُحْدِثُ شارِعاً آمِناً الى مَكّةَ المبارِكةِ ، ولكنّ الأجل لم يُمْهِلْهُ

نیولې بیا د بنګال د وروستي ښار خبرونه راوړل کېدل. د دې لويې لارې دواړو غاړو ته يې مېوه داره ونې ولګولې. ونو به پر مسافرو سيوری کاوه او هم به يې له مېوو خوراک کاوه.

همدغه ډول يې له اګرې پر راوتلې لاره تر مونډو ښاره مېوه دار ونې ولګولې. د دواړو ترمنځ واټن درې سوه کروه و. پوستې او مساجد يې پر جوړ کړل. د هغه په زمانه کې کې امن او ارامي شوه چې په يوه بيديا کې هم چا د کومې بوډۍ سامان ته لاس نه شوای ور غځولای.

شير شاه به په دې ډېر افسوس کاوه چې ده په لوړ عمر کې واک تر لاسه کړ. ويل به يې: که وخت لاس را کړ. نو د روم پاچا ته ليک استوم. ور څخه غوښتنه کوم چې خپل پوځونه دې تر فارسه را خپاره کړي. موږ به هم تر همدې سيمې ور ورسېږو. نو به د روم د پاچا په مرسته هغه لنډغر له دې سيمې وشړو چې د حا...

فـماتَ قبـلَ بُلُوغِـهِ الـى تِلـك الأُمْنِيَّـةِ ،وكـان ذلـك في ثـاني عشـرَ مِن رِبيعِ الأولِ سنةَ ۹۵۲هـ	قافلې وهې، تر مكې مكرمې به يوه امنه لار جوړه کړو. خو اجل ور سره ياري ونه کړه، دغې هيلې ته تر رسېدو وړاندې وفات شو. نوموړی د ۹۵۲هـ مهال د ربيع الأول پر ۱۲مه نېټه د اجل داعي ته لبيک ووايه.

(الإعلام بمن في تاريخ الهند من الأعلام)

للعلاّمة عبد الحي الحسني

د الفاظو تشريح:

مندو /(Moundou): د هندوستان لرغونی ښار دی، چې په گجرات ايالت کې واقع دی، د غوري سلطنت پلازمېنه و، په خپلو کنډوالو /خرابو، مساجدو او ښکلو عبادتخانو مشهور دی.

أكره/اگره: دا په اترا پرديش ايالت کې يو مشهور ښار دی، چې د مغولي سلطنت پلازمېنه وه، همدا شان په هند کې د اسلامي کلتور پلازمېنه هم وه، مهم تاريخي اثر يې «تاج محل» دی.

الأوباش: احمق، لنډغر. مفرد يې وَبْش يا وَبَش دی.

نوي لغات:

هاجَمَتْه زُمْرةٌ من الأوباش: د لنډغرو يوې ډلې پرې بريد وکړ.

لا تكرِّر وَبَش الكلامِ الذي سمعتُه منكَ: بيا هغه کمزورې خبرې ونه کړې چې ما در څخه واورېدلې.

د ژباړې پای

د پښتو ژباړې او تشريح پای

۱۳/۱۲/۲۰۲۱


علم الصرف
اولین




علم النحو
زباړه


تسهيل النحو
يعني
نحو مير

